# پښتانه

## د تاریخ په رڼا کښې

سید بهادر شاه ظفر کاکاخیل

یونیورسټي بک ایجنسي پېښور

# پښتانهٔ

## د تاریخ په رڼا کښې

د ۵۵۰ ق.م نه د ۱۹۶۴ء پورې


تالیف

سید بهادر شاه ظفر کاکاخیل



☆ یونیورسټي بک ایجنسي خیبر بازار پېښور ☆

# شروع

o

د هغه پښتنو په نوم

چه

د پښتنو د تاریخ سرمینه لري

او

په دے لر کښے هر زیار او خیرے ته په درسته کوي

ظفر

SRLF
YRL

DS
356
K2??
1965

# پیل

په نامه د لوئے خدائ

په وسیع معنا کښے تاریخ د انسان د ژوند د مختلفو اړخونو او د انسانی کارنامو یوه اوږده قیصه ده. د دے آغاز د هغه وخت نه شوے دے د کله نه چه انسان د حیوانیت منزل رالنډ کړو او د انسانیت په شپول کښے ورودننه شو. د انسانی ژوند او کارنامو دا اوږده قیصه که په یو لور خوندناکه ده نو په بل لور فائده منده هم ده. په دے کښے د قامونو د انقلاباتو او د عروج او زوال عجیبه عجیبه واقعات بیانیږی او د دے په لوستلو د قامونو د خپلو ملکونو او د خپلو مشرانو د ځلانده کارنامو سره مینه زیاتیږی. تاریخ د هغه خلقو د کامیابئ او ناکامئ یوه هنداره ده چا چه په مختلفو څیرونو کښے د اختیار او اقتدار د حصول د پاره زیار ونه ایستلی دی.

د قامونو په عروج د زوال کښے د قامی تاریخ لویه برخه ده. د خپلو قامی روایاتو او د خپلو اسلافو د ځلانده کارنامو نه ځان خبرول، د خپلو مشرانو د جرأت، شجاعت، تدبر او جدوجهد نه واقفیت حاصلول د قام د افرادو یو ضروری او خوشګوار فرض ګڼړے شی ځکه چه په دنیا کښے هر یو قام د خپلو مشرانو د ځلانده کارنامو نه عبرت اخلی او د دے په وجه مخ ته لیوالہ کیږی.

د دنیا د ځنے لویو قامونو په شان پښتون هم یو پخوانے قام او د یو ځلانده اوږد تاریخ خاوند دے. ولے د بده مرغه د دے قام د ډیر پخوانے تاریخ په تیاره کښے پټ دے او

# د عنوانانو فهرست


| نمبر شمار | عنوان | مخ | نمبر شمار | عنوان | مخ |
|---|---|---|---|---|---|
| ١ | د تاریخ نه وړاندینۍ زمانه | ١ | ١٢ | تاریخي زمانه ، هخا منشي | |
| ٢ | د وادۍ سندھ تهذیب | ٧ | | عهد حکومت | ١٥٧ |
| ٣ | په بلوچستان کښې د قبل التاریخي | | ١٣ | هخا منشي دوره او پښتانهٔ | ١٦٠ |
| | دورے پلټنه | ١٢ | ١٤ | سکندر اعظم په ګندهارا کښې | ١٦٤ |
| ٤ | د بنیادمو د توکم ویش | ١٦ | ١٥ | موریا خاندان او د پښتونخوا | ١٩٦ |
| ٥ | د پښتنو د نسل څېړنه | | ١٦ | باختري یونانیات | ٢٠٢ |
| | پښتانهٔ څوک دي؟ (١) | ١٩ | ١٧ | ساکا او پارتین | ٢١٢ |
| ٦ | د پښتنو د نسل څېړنه | | ١٨ | هندي پارتین یا پهلوا | ٢٢٧ |
| | پښتانهٔ څوک دي؟ (٢) | ٦٢ | ١٩ | د ساکا پهلوا یا چاپانو نومونه | |
| ٧ | د پښتنو د نسل څېړنه | | | او پښتو ژبه | ٢٣٤ |
| | پښتانهٔ څوک دي؟ (٣) | ٩٧ | ٢٠ | د کوشانیانو دوره | ٢٤٠ |
| ٨ | د پښتنو د نسل څېړنه | | ٢١ | د کوشانیانو د دورے اهمیت* | ٢٥٦ |
| | پښتانهٔ څوک دي؟ (٤) | ١٠٢ | ٢٢ | ژبه او رسم الخط | ٢٦٠ |
| ٩ | پشتون، پختون، پښتون | ١٠٩ | ٢٣ | ارامي رسم الخط | ٢٦٢ |
| ١٠ | ګندهارا = پکتیکا = | ١٢٤ | ٢٤ | خروشتي رسم الخط | ٢٦٣ |
| ١١ | ستاګیدیا ګومه صوبه دهٔ؟ | ١٣٩ | ٢٥ | ادبیات او آرټ | ٢٦٨ |
| | | | ٢٦ | کوشاني عهد او پښتانهٔ | ٢٦٩ |





| نمبر شمار | عنوان | مخ | نمبر شمار | عنوان | مخ |
|---|---|---|---|---|---|
| ٢٧ | ساساني دوره | ٢٧٢ | ٤٤ | په هند کښې د پښتنو د سلطنت | |
| ٢٨ | کیداریان یا کوچني کوشانیان | ٢٧٦ | | د زوال اسباب | ٦١٠ |
| ٢٩ | افتالیت (ریفتلیان، هیاطله) | | ٤٥ | په سوري عهد حکومت کښې د | |
| | یا سپین پوستي هونز | ٢٨٠ | | علومو فنونو روزنه او ترقي | ٦١٩ |
| ٣٠ | افتالیت او پښتانه | ٢٨٨ | ٤٦ | د سوري او لودي پښتنو په | |
| ٣١ | عرب فتوحات په خراسان کښې | ٢٩٩ | | عهد کښې د بادشاه حیثیت او د | |
| ٣٢ | د صفار کورنۍ | ٣٣٠ | | امیرانو سره د هند د تعلقاتو | |
| ٣٣ | کابل شاهان | ٣٣٤ | | نوعیت | ٦٢٦ |
| ٣٤ | د غزنویانو دوره | ٣٥٠ | ٤٧ | په مشرقي هندوستان کښې د | |
| ٣٥ | د غور شاهي کورنۍ | ٣٦٧ | | پښتنو سلطنت | ٦٤٦ |
| ٣٦ | مغل | ٣٩٩ | ٤٨ | په بنګال او بهار کښې د پښتنو | |
| ٣٧ | د کرت کورنۍ | ٤١١ | | په دور کښې انتظامي کیفیت | ٦٥٦ |
| ٣٨ | د تیمور اقتدار | ٤١٢ | ٤٩ | د پښتنو په باب کښې د اکبر پالیسي | ٦٥٩ |
| ٣٩ | پښتانهٔ په هند کښې | | ٥٠ | روښاني تحریک | ٦٦٤ |
| | د خلجیانو سیاسي اقتدار | ٤٢١ | ٥١ | اکبر او د شمال مغربي سرحد قبائل | ٦٨٧ |
| ٤٠ | لودي خاندان - بهلول لودي | | ٥٢ | د جهانګیر په وخت کښې د | |
| | سلطان سکندر لودي، | | | پښتنو حالت | ٧٠٧ |
| | ابراهیم لودي - | ٤٥٨ | ٥٣ | شاه جهان او د پښتنو په باب | |
| ٤١ | ظهیرالدین بابر | | | کښې د هغهٔ پالیسي | ٧٢١ |
| ٤٢ | سوري خاندان - شیرشاه، | | ٥٤ | د قندهار د پاره د مغلو او | |
| | اسلام شاه، عادل شاه سوري | ٥٣٣ | | ایرانیانو جنګونه - | ٧٤٢ |
| ٤٣ | د پاني پت د جنګ نه پس | | ٥٥ | اورنګ زیب او خوشحال خان | ٧٥٩ |
| | | | ٥٦ | د غلجیانو اقتدار | ٨١٠ |

| نمبر شمار | عنوان | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۵۷ | نادر شاه افشار | ۸۴۳ |
| ۵۸ | د سدوزو بادشاهي | ۸۵۳ |
| ۵۹ | بادشاه گردي | ۹۴۳ |
| ۶۰ | سیکان او د هغوی عروج | ۹۴۷ |
| ۶۱ | د بارکزو حکومت | ۹۵۵ |
| ۶۲ | د سید احمد شهید (بریلوی) تحریک | ۹۶۳ |
| ۶۳ | د دوست محمد خان عروج | ۹۷۴ |
| ۶۴ | د افغانستان اول جنگ | ۹۹۴ |
| ۶۵ | د سیکانو او انگریزانو مخالفت | ۱۰۰۹ |
| ۶۶ | امیر شیر علی خان | ۱۰۳۱ |
| ۶۷ | امیر عبدالرحمان | ۱۰۴۴ |
| ۶۸ | امیر حبیب الله خان | ۱۰۵۲ |
| ۶۹ | امیر امان الله خان | ۱۰۵۵ |
| ۷۰ | نادر شاه شهید | ۱۱۱۳ |
| ۷۱ | اعلیٰ حضرت ظاهر شاه | ۱۱۲۵ |
| ۷۲ | د شمال مغربي سرحدی صوبے تشکیل | ۱۱۲۹ |
| ۷۳ | د ازادئ نه پس نوے ژوند | ۱۲۱۷ |
| ۷۴ | د اکتوبر ۱۹۵۸ء انقلاب | |
| ۷۵ | پښتانه قبائل د هغوی شجرے او د استوگنے علاقے | |



کتابت:- طلا محمد انجم
طباعت:- نقوش پریس لاهور

ازادئ نه پس دوی نه حاصل شوی دی۔ او د خپل کردار، وسعت نظر او د وطن د بے لوثه خدمت د جذبے زیر اثر به په عظیم پاکستان کښے ډیر ذر خپل اصلی قدر و قیمت حاصل کړی ۔

## پاکستان پائنده باد



# پښتانهٔ قبائل

## د روایاتو مطابق قبائلی تقسیم ۔ قبیلوی شجرے او د هرے قبیلے د استوګنے د علاقے تفصیل

د روایاتو مطابق ټول پښتانه قبائل په درېو طبقو کښے وېش دی۔ لکه چه خوشحال خان خټک وائی ـ

پښتون په اصل کښے سړبنی دے | یا غورغشتی دے یا بیټنی دے
لودی، غلجی دے د بیټنی له لوره | په سړبن پورے بیا کرلانړی دے

دا تقسیم په دے روایت مبنی دے چه سړبنی، غورغشتی او بیټنی قبائل د قیس عبدالرشید د درېو ځامنو (سړبن، غورغشت، بیټن) اولاد دے۔ دا درے وارہ طبقے د اصلی افغنه په نامه هم مشهورے دی۔ ځکه چه د روایاتو مطابق دوی د قیس عبدالرشید صلبی اولاد هم دے۔ او د "افغنه بن ارمیا" په اولاد کښے هم شامل دی۔ باقی دوه طبقے یعنے "متوزی" (غلجی او لودی) او کرلانړی په وصلی افاغنه یا د یزی، ځکه چه دوی د قیس عبدالرشید په صلبی اولاد کښے شامل نه دی البته د افغنه بن ارمیا په اولاد کښے ورګډ دی۔ په دے طبقو کښے هره طبقه بیا په ډیرو وړو وړو ذیلو او څانګو کښے وېش ده۔ چنانچه دا ټولے ذیلے او څانګے پنځه د پاسه څلور سوه حساب شوی دی۔ چه تفصیل ئے په دے ډول دے :-

(۱) سړبنی قبائل :- یو سل او پنځه (۱۰۵)
(۲) غورغشتی قبائل :- پنځه کم سل (۹۵)
(۳) بیټنی قبائل :- پنځویشت (۲۵)

(۴) متوزی (غلجی او لودی):- دوه پنځوس (۵۲)

(۵) کرلانړی قبائل:- یو سل او اته ویشت (۱۲۸)

د روایاتو مطابق متوزی قبائل د بیټنو سره وصل شوی دی۔ او کرلانړی قبائل د ځینو روایاتو په بنا د غورغشتو سره۔ او د ځینو روایاتو مطابق د سړبنو سره ملحق دی۔

## اوله طبقه۔ سړبنی قبائل۔

دا قبائل د خپل مورث اعلیٰ سړبن په نامه سړبني یادیږی۔ د روایاتو مطابق سړبن د قیس عبدالرشید ځوی او د غورغشت او شیخ بیټ ورور دے۔ د ده نامه ابراهیم وه۔ ولے په سړبن مشهور شو۔ او د دے وجه دا بیانولے شی چه د ده اولاد نه وو۔ او په دے خبره به دے تل غمژن او پریشان وو۔ چنانچه شیخ بیټ چه یو خدا رسیده او نیک انسان وو ده له خپل ځوی اسمٰعیل ورکړو۔ او دا هلک سړبن په ځوی اونیولو او په خپل کورے لوئ کړو۔ د دے نه پس د شیخ بیټ په دعا او توجه د سړبن لوړ ځامن هم اوشول۔ او د هغوی اولاد په پښتنو قبائلو کښے د خپل کثرت په وجه د نوم نشان خاوندان شول۔ د اسمٰعیل اولاد هم په سړبنو کښے ورګډ دے۔ ویلے شی چه شیخ اسمٰعیل هم د خپل پلار په شان یو خدا رسیده او نیک انسان وو۔ او ذکرئے په مرأة الافاغنه کښے د سړبني اولیاء په لړ کښے موجود دے۔ د سړبن د زیګیدنے او مړینے تاریخونه معلوم نه دی۔

د سړبن دوه ځامن وو۔ چه د یو نوم شرخبون (شرف الدین) او د بل نوم خرشبون (خیرالدین وو) د شرخبون (شرف الدین) د ژوند حالات هم په تیاره کښے دی۔ البته د خرشبون (خیرالدین) څه لږ شان حال په "پټه خزانه" کښے موجود دے۔ د دے کتاب (پټے خزانے) مطابق شیخ خرشبون په کال ۳۰۵ھ کښے زیګیدلے وو۔

خرشبون بابا هم د خپل نیکه شیخ بیټ په شان یو نیک او خدا پرست انسان وو۔ د خدائ پاک په عبادت کښے به لګیا وو۔ د دوی استوګنه په کسی غر کښے وه۔ د پټے خزانے د روایاتو مطابق د شیخ خرشبون د ژوندانه په زمانه کښے د هغه پلار او نیکه (سړبن



نیکه او بیټ نیکه) لا ژوندی وو۔ او دوی ټول په یو ځائ اوسیدل۔ ولے څه موده پس خرشبون د خپل پلار او نیکه په اجازت د خپل اولاد سره د کسی غر "نه غوره سوغے په لوړه کډه[۱] لاړ۔ او هلته میشته شو۔ خرشبون بابا به کله کله د غزان غر ته هم تلو۔ او د خدائے پاک عبادت به ئے کولو۔ په کال کښے به یو ځل د خپل نیکه شیخ بیټ په خدمت کښے هم حاضریده۔ او د هغه د مرګ نه پس به هم د هغه قبر ته راتلو۔

خرشبون بابا په کال ۴۱۱ھ کښے په مرغه کښے وفات شو۔ ولے د هغه اولاد په مرغه کښے استوګن وو۔ څو څه موده پس د هغه په ځامنو کښے د کاسی اولاد بیرته کسی غر ته لاړه او د پشین په لمن کښے اباد شو۔ او د ګند او ځمند اولاد په ننګرهار، خیبر او پیښور په علاقو کښے خور شو۔ شیخ خرشبون یو ښه شاعر هم وو۔ دا لاندے شعرونه د هغه سره منسوب دی۔ دا شعرونه شیخ خرشبون هغه وخت ویلی وو کوم وخت چه هغه د خپل اولاد سره د کسی غرونه د غوره مرغے په لور په کډه تلو۔ او په دے موقع د ده په جدائ شیخ اسماعیل د فراق نارے وهلے وے۔

## د شیخ خرشبون شعر

بیلتانه نارے وهمه (وشوه) په کوربانے — نه پوهیږم چه به څه وی پیښ په ورانے

لر ځیلوا ونه بیلیږم په سرو سترګو — دواړه سترګے مے په وینو دی ژړانے

اسمٰعیله! ستا نارو مے زړه سورے کے (کړی) — په چړو د ویرے پرے سی (شی) د زړه[۱] مرانے

زمه زمه چه اورد یون[۲] مے د وغ ته — د ویانه څوری[۳] به اچوم د ترخ ته

ستا سے یاد به مے وی بس د زړه وسغ ته — که دا زمکه غرونه ټول سی (شی) لاندے باندے

د شیخ خرشبون په باب کښے د پټے خزانے دا شهادت د پښتنو د شجرو په لړ کښے ډیر اهمیت لری۔ د دے نه صرف دا خبره معلومیږی۔

(۱) سړبن او شیخ بیټ سکه ورونړه دی۔ (او دا خبره د پښتنو ټول شجره نویس او لیکوال هم منی۔ چه سړبن، غورغشت او بیټن د قیس عبدالرشید ځامن وو۔

---

۱ د زړه ګوټ۔ ۲ یون - سفر۔ ۳ سامان سفر۔

(۲) شرخبون او خرشبون د سړبن ځامن وو - (د پښتنو شجره نویسو له خوا دا خبره هم متفقه منلې شوې ده)-

(۳) خرشبون په کال ۳۰۵ھ کښې زیږیدلے دے - او اګر چه د شرخبون د زیږیدنے تاریخ معلوم نه دے د لے چونکه هغه هم د خرشبون ورور دے - نو مونږ دا قیاس کولے شو چه هغه به هم د څلورمې صدۍ هجرۍ په اغاز کښې زیږیدلے وی -

(۴) د خرشبون د ژوند په زمانه کښې د هغه پلار او نیکه (سړبن او بیټن) لا ژوندی وو نو مونږ دا قیاس کولے شو چه د څلورمې صدۍ هجرۍ په اخری کالونو کښې به سړبن وفات شوے وی -

(۵) د روایاتو مطابق د قیس عبدالرشید د مړینے نیټه ۴۱ھ / ۶۶۲ء ګڼړلے شی -

(۶) او س که چرے د پلار د وفات په وخت کښې د سړبن او بیټن عمرونه پنځوینت او څلویښت کاله هم ګڼړلے شی - نو بیا به هم د خرشبون د زیږیدنے تر وخته (۳۰۵ھ) پورے د دے دواړو مشرانو (سړبن او بیټن) عمرونه کم و زیات د درے سوه کاله وو - او دومره عمر د موجوده انسان د پاره ناممکن دے - علاوه د دے نه په دومره عمر کښې یو انسان د اولاد پیدا کولو قابل هم نه شی پاتے کیدے - په دے بنا دا ظاهره ده چه سړبن، بیټن او غورغشت د قیس عبدالرشید ځامن نه شی کیدے - بلکه دا د ورستۍ زمانے او په اکثره احتمالاتو د څلورمې صدۍ هجرۍ افراد دی - او که هرو مرو سړبن، بیټن او غورغشت د قیس عبدالرشید ځامن اوګڼړلے شی نو په دے صورت کښې به قیس عبدالرشید په ۴۱ھ کښې نه وی وفات شوے - او د غه شان به د قیس عبدالرشید سره منسوب ټول روایتونه غلط ثابت شی -

لکه چه معلومه ده د پښتنو د سیاسی شهرت اغاز د خرشبون د زیږیدنے (۳۰۵ھ) نه ډیر وړاندے شوے وو - د "فرشته" د وینا مطابق د اتمې صدۍ میلادۍ په نیمه کښې پښتانه د سپین غر چار چاپیره لمغان، ننګرهار، خیبر او پېښور په علاقو کښې میشته وو د صفاریانو او بیا په دوی پسے د سلطان ناصرالدین سبکتګین اکثر فوځونه هم په پښتنو مشتمل وو - په دے بنا د شیخ بیټ، سړبن او غورغشت سره د پښتنو د بے شماره قبائلو اغاز کول نه څه تاریخی سند لری او نه اهمیت - دا سے معلومیږی چه د دے شجرو مرتب



کولو په وخت کښې د شجره نویسو په لاس کښې څه مستند تاریخی شهادتونه موجود نه وو - او وړومبی لیکوال چه کوم روایت اوریدلے دے نو هغه ئے درست منلے او لیکلے دے - او ورستنیو نورو لیکوالو د هغه تقلید کړے دے - د شجره نویسو د وینا مطابق اګرچه د دے شجرو اغاز د اسلام د اغاز سره شوے دے - ولے حقیقت دا دے چه دا شجرے په اول ځل د اولسمې صدۍ په اغاز کښې مرتب شوی دی - او ځکه په تاریخی لحاظ سره مستند نه معلومیږی -

لیکن باوجود د دے چه په دے شجرو کښې ډیرے خامۍ او کمۍ دی - او په تاریخی لحاظ سره د اعتماد جوګه نه دی - بیا هم د پښتنو په قبائلی تشکیلاتو کښې لوی اهمیت لری - د پښتنو په بے شماره قبائلو کښې وحدت او مرکزیت هم په دے شجرو قائم دے - د دے شجرو په وجه پښتانه قبائل د خپله نسل، خپل تاریخ، خپلو قامی روایاتو او په خپل منځ کښې د رشتو او اختلافاتو نه خبردار دی - په ژور نظر سره د دے شجرو مطالعه د پښتنو د مختلفو قبائلو تر منځه د نسلی اختلاف په لور چه هغه د دوی د شکل و شباهت خط و خال، ژبے، لهجے، دودونو، د ستورونو او خویونو نه څرګند دے، رهنمائی کوی - او په دے شجرو کښې د دے اختلافاتو د لرے کولو او ټول پښتانه قبائل یو مرکز ته د راغونډولو کوشش شوے دے - او د دے اعتماد مرکز د قیس عبدالرشید ذات دے - پس که چرے د تاریخی او عقلی شواهدو له مخه قیس عبدالرشید د ټولو پښتنو مورث اعلیٰ ګڼړل درست نه وی - بیائے هم د پښتنو یو معنوی مورث اعلیٰ ګڼړل پکار دی -

د پښتنو د دے شجرو نه دا هم معلومیږی چه د پښتنو قبائلی تشکیلات په څلورو اصولو مبنی دی - یعنے په (۱) په وینه (نسب) (۲) خپلوۍ (د لور خود ورکړه راکړه) (۳) ګوندی (ړه جنبه) (۴) الحاق -

پښتانه وینے یعنے نسبی رشتے ته ډیر اهمیت ورکوی - او د قدر و احترام په نظر ورله ګوری - په پښتو ژبه کښې داسے ډیر متلونه دی چه د هغې نه د دے خبرے درسته کیږی - لکه په مثال کښې وئیلے شی " رګه رګه را کاږه " یا " لکه چه وینه ژاړه هسے مینه نه ژاړی " یعنے د وینے اشتراک د عامے دوستۍ او تعلق نه زیات


اثرلری- په دے لړکښے دیُیلے شی چه "څهٔ وروړ راوړے شهٔ خوړ". "څهٔ مور راوړے څهٔ ترور"؟ د دے مثال د کاکړو او شیرانیانو اتحاد دے - د روایاتو مطابق شیرانے د شرخبون مشر ځوی او د کاکړ خوړے وو- د مشرۍ په معامله دخپله پلار نه مرور شو او خپلو "ماماګانو کاکړو" ته لاړ- او د هغه د رخه نه پس شیرانی په نیک بدهٔ کښے د کاکړو سرهٔ شامل شول-

دغه شان پرهٔ جنبه اوګوندی هم د نسبی ورور ولیٔ او عزیز ولیٔ ځائ نیسی. لکه په مثال کښے د شینواری ګوندی د غلجیو څخه یا د مهمندو پرهٔ جنبه د خوګیانو سره- په دے د ستور د الحاق مسٔله هم دا حیثیت لری. لکه چه د روایاتو مطابق خویشګی، مهمنزی او اتمان خیل د یوسف زو سرهٔ تړل شول- یاد ګړدون قبائل سالار او منصور خانګے د غور غشتو نه بیلے شوے او د یوسف زو سرهٔ ملحق شوے په دے اصولو د پښتنو بے شماره قبیلے په خپل منځ کښے یو تر بله یوځائ شوی او کنډولی شوی دی- او د قبائلو تر منځهٔ عزیز ولی او ورور ولی هم په دے اصولو قائمه ده- په دے بنا دا شجرے دخپلو ټولو خامیانو باوجود په قبائلی نظام کښے د اهمیت وړ دی-

لکه چه وړاندے ویُیلے شوی دی- سړبنی قبائل دخپل مورث اعلے سړبن په نامه مشهور دی- د شجرو مطابق د سړبن دوه ځامن وو- (۱) شرخبون (شرف الدینؒ) (۲) خرشبون (خیرالدین)- د روایاتو مطابق د شرخبون پنځهٔ ځامن وو- (۱) شیرانے (۲) ترین (۳) میانهٔ (۴) بړیڅ (۵) اورمړ- د دوی مختصر حال او شجرے په دے ډول دی:-




# شجرهٔ نسب شیرانے بن شرخبون بن سړبن بن قیس عبدالرشید




[۱] ستوریانے په اصل کښے سید وو- عمر په ځوی نیولے وو-

[۲] د سنجر د پنځهٔ واړو ځامنو اولاد په سود خیل او غوزیا خیل یادیږی-

## (٢) ترین بن شرخبون بن سړبن




۱ اولاد ئے بابوزی۔

۲ په اصل کښے سیدان دی۔ په ترین کښے گډ شوی دی۔

۳ اولاد ئے اروزی۔

۴ اولاد ئے نورزی۔

۵ د سنه ۷۸۰ھ په خواد شاکښے اولاد ئے پوپل زی۔

۶ د سنه ۷۶۰ھ په خواوشا کښے اولاد ئے بارک زی۔


۷ اولاد ئے الکوزی۔

۸ اولاد ئے اسحاق زی۔


۹ شجره ئے خان له بیله بیان شوی ده۔



## (ابدالیان) شجره نسب د بامی بن حبیب بن پوپل بن زیرک



# شجرۂ نسب بارکزی بن زیرک بن عیسےٰ بن زختر بن اودل بن ترین





له شجره ے وړاندے ده
له شجره ے وړاندے ده




# د بارکزو حکمران ټبر اوله کورنۍ

## امیر دوست محمد خان





## (دویمه کورنۍ)


## سردار سلطان محمد خان




## ۳- شجره نسب میانه بن شرخبون بن سړبن




## ۴- شجره نسب بړیځ بن شرخبون بن سړبن




## ۵- اورمړ بن شرخبون بن سړبن






لکه چه د شجرو نه معلومیږی د شرخبون پنځهٔ ځامن وو- یعنې شیرانی- ترین- میانه- بړیځ او اورمړ- د روایاتو مطابق شیرانی د شرخبون مشر ځوی وو- ورله پلار د مشرئ پګړئ ترین ته په سر کړه- په دے خبره شیرانی دخپل پلار نه مرور شو- او خپل ماما کاکړ ته لاړ- او د هغه ورځې نه شیرانی قبیله په کاکړو کښے شامل شوه- او په نیکه بده کښے د غورغشتو د طبقې سره تعلق لری-

د شیرانیانو علاقه د دره ګومل سویل ته واقع ده- کوه سلیمان چه ورله قیسی غر هم وائی د دوی په علاقه کښے واقع دے- د دے علاقے په قطبی حصه کښے حسن خیل- منځ کښے ابو خیل او جلوانی او سویلی حصه کښے ئے "کیپ او هریپال" استوګن دی- د قیسی غر په قبله د کوسے په غرونو کښے کاکړ اباد دی- د وزیرو په شان د دوی علاقه هم پلنه او غرنیزه ده- ورله د کروندے ځمکے کمه ده-

ترین:- لکه چه د شجرے نه معلومیږی- د ترین درے ځامن وو- چه "تور" "سپین" او "اودل" نومیدل- لیکن د ترین په نامه صرف تور او سپین مشهور شول- "اودل" په خپله نامه ځان له بیله ځانګړ شوه- تور ترین په پښین او دګی کښے او سپین ترین هرنائی دګی او چوتیر په علاقه کښے استوګن دی- ترین په رسم و رواج او خویونو خصلتونو کښے د ابدالیانو په شان دی- په تورو او سپینو ترینو کښے د خانی کور د بټی زی په ځانګه کښے دے چه د تور ترین ځانګه ده- لکه چه د دے متل نه معلومیږی:- "خانی ده په دوه کوره، په ترین کښے په بټی ده په نو حان کښے په کتی ده"-

ابدالیان:- په ابدالیانو کښے د زیرک د اولاد نه علاوه د دے قبیلے نورے زیلئ په "پنجپائے" مشهورے دی- د ابدالیانو علاقه اندازاً خلور سوه میله اوږده او اووه شله میله پلنه ده- د دوی د علاقے حد د قطب په لور د هندوکش، کوه بابا او کوه سیاه هغه حصے سره جنګیدلے دے چه هلته "هزاره او ایماق" اباد دی- د دوی قبلئز حد د ایران سره او قبله په سویل ئے د سیستان علاقه ده- چه ان ستر بلوچستان رسیدلی ده- د دوی د علاقے په سویل د "شوراوک" او "خواجه عمران" غرونه دی- په دے غرونو کښے د ابدالیانو یوه طائفه "اڅک زی" او سیږی- او د دے غرونو په غرختیزه حصه کښے کاکړ اباد دی- د "مرغه" کلے چه په ۱۱۷۲ کښے د لے احمدشاه

غازی وفات شوے وو۔ د خواجه عمران د غرونو قطب په نغرخانۍ پروت دے د ابدالیانو په نغرخانۍ د غلجیانو علاقه ده۔ هلمند، فراه رود، خوش رود او ارغنداب په دے علاقه کښے مشهور سیندونه دی۔

لکه چه د شجرے نه معلومیږی د ترین په ځامنو کښے "اودل" کشر وو۔ وئے د پلار نه پس هغه د قام مشر شو۔ او د خپل ریاست په وخت کښے ئے خپل خلق د ځان نه خوشحال او ساتل۔ د اودل نه دوه ځامن پاتے شول۔ سلیمان او زختر۔ په پلار پسے زختر د قام مشر شو۔ د روایاتو مطابق شپږ شل کاله ژوندے وو۔ او خپل اولادے تر درے پښتو اولیدلو۔ د زختر نه پس د هغۀ د وصیت مطابق عیسے د قام مشر شو۔ د عیسے نه درے ځامن پاتے شول۔ زیرک، میر او نور۔ په پلار پسے زیرک د قام مشر شو۔ د زیرک څلور ځامن وو۔ بارک، الکو، مستی او پوپل۔ زیرک په خپل ژوند کښے خپل ځائے بارک ته ورکړو۔ وئے هغۀ څو وده پس پوپل په خپل ول مشری ځان له کړه او خانی د پوپل کور له راغله۔

د پوپل نه درے ځامن پاتے شول۔ حبیب، بادو، ایوب۔ حبیب د اولس خانی کوله۔ دوه پنځوس کاله ژوندے وو۔ د دۀ شپږ ځامن وو۔ چه د یو نوم بکنے بامی وو۔ د مشرئ د پاره په ورونړو کښے جګړے شروع شولے۔ وے درستو جرګے په صلاح بامی د قام په مشرئ او ټاکل شو۔ دا سړے اویا کاله د قام مشر وو د بامی نه درے ځامن پاتے شول (نصرت، کنی، شها)۔ په دوی کښے یو هم د مشرئ قابل نه وو۔ په بامی پسے بهلول د قام مشر شو چه د "کنی" ځوی وو۔ د دۀ نه دوه ځامن پاتے شول۔ معروف او علی خان۔ معروف د قام مشر شو۔ په دۀ پسے مشری عمر ته اورسیدله۔ د عمر نه درے ځامن پاتے شول۔ صالح، اسد الله او آدم۔ د قام مشری د اسد الله اورسیده۔ دغه سړے دے چه په عوامو کښے په "سدو" مشهور دے او د دۀ په نامه دا قبیله په "سدوزی" مشهوره ده۔ او د احمد شاه غازی مشر نیکه دے۔ اسد الله یو قابل سړے وو۔ د ابدالیانو ټولے ټپے او د غلجیانو څښ ځائے ئے په خپل چیره جتبه راوالولے۔ او په ډیر عزت ئے خپل ژوند تیر کړو۔ د ایران د بادشاه شاه عباس اعظم د لوری نه د ابدالیانو رئیس منلے شوے وو۔ د پنځه اویا



کالو په عمر کښے وفات شو۔ د سدو نه پنځه ځامن پاتے شول۔ خواجه خضر خان، مودود خان، زعفران خان، کامران خان او بهادر خان۔ د اولس په خوښه خواجه خضر خان په مشرتابه او ټاکلے شو۔ شل کاله ئے د قام خانی اوکړه۔ د دۀ دوه ځامن وو یو خداداد سلطان او بل شیر خان۔ په دغه وخت کښے د ایران بادشاه شاه عباس ثانی وو۔ د پلار په ځای خداداد سلطان د قام مشر شو۔ دا یو ډیر قابل او مدبر بنیادم وو۔ د اولس ټولے جګړے ئے په جرګو مرکو فیصله کړے۔ دغه وخت کښے ابدالی طائفه د قندهار شرقی خوا ته په ارغستان کښے اوسیدله۔ د غلجیانو مشر سلطان ملخے وو۔ خداداد سلطان د ورور ولۍ او عزیز ولئ په جوړول د غلجیانو او ابدالیانو تر مینځه حدود اوویشل۔ دے سړی په اخر وخت کښے په کاکړو تیرے اوکړو۔ ډیرے ئے اووژل۔ او کورونه ئے ورله تالاکړل۔ لیکن چرته په دے کار پښیمانه شو او د اولس ریاست ئے خپل ورور شیر خان ته اوسپارلو۔ دنیاوی ژوند ئے پریښو او د خدائ په یاد کښے مشغول شو۔

شیر خان د خپل ریاست په وخت کښے د قندهار ایرانی بیګلر بیګی سره مخالف شو۔ وئے ایرانی دربار د ابدالیانو مقابله په نعد او نه کړه۔ بلکه په دوی کښے ئے کورنی مخالفت پیدا کړو۔ او د خداداد سلطان د ترۀ ځوی سلطان حسین ته ئے د مرزا خطاب ورکړو۔ او د ابدالی طائفو مشرئے او ټاکلو۔ شیر خان د دوی په جواب کښے د خلو لوه چله د ځان سره جمع کړه۔ او د ترنک سیند په غاړه په یو مضبوط ځای کښے میشت شو۔ او د مغل بادشاه شاه جهان نه ئے د مرستے خواست اوکړو۔ شاه جهان سمدستی هغۀ ته خلعت ور اولیږلو او د شهزاده خطاب ئے ورکړو۔ او حاکم غزنی ته ئے اولیکل چه د ضرورت په وخت کښے د شیر خان فوځی امداد اوکړی۔ بل لور ته ایرانی دربار د شاه حسین د لجوئ شروع کړه۔ وئے سلطان حسین د ایرانی دربار د نفاق د پالیسئ نه ناراض وو۔ هغه شیر خان ته دروغ په نیت ورغلو او د ریاست ټول حقوق ئے هغۀ ته اوسپارل۔ ایرانی باجا چه د دے نه خبر شو، نو قندهار "بیګلر بیګی" ته ئے اولیکل چه موږ شیر خان ته ځوی وئیلی دی۔ نو ته د ابدالیانو په معاملاتو کښے ګوته مه وهه۔ د دے نه پس شیر خان د قام د ټولیس

په ډول منتقل شو- او د (۶۵) کالو په عمر کښې د ښکار په وخت کښې د آس نه پرېوتو او مړ شو-

د شیر خان نه پس د هغه ځوی سرمست خان د قام مشر شو- او د بوړش کاله د قام رئیس وو- د هغه نه پس دولت خان مشر شو- وے دے ورکړے وو- نو د ده ترور "حیات سلطان" به د هغه په ځای کار کولو- په دغه وخت کښې د قندهار بیګلربیګی ګورجین خان "ګرجی" وو- دے سړی خو په اوله کښې د دولت خان سره روغه لرله- وے په آخر کښې په ناوړه کاروونو سر شو- او د سدوزو د یو دوه بے غیرته سړو چه عزت او عقل نومیدل په مرسته او سازش ئے دولت خان او د هغه ځوی نظر محمد خان اونیول او وے وژل- د دولت خان نه دوه ځامن پاتې شول- رستم خان او زمان خان- رستم خان د قام مشر شو- وے دے هم ګورجین خان په چل وواژه- په دغه وخت کښې ابدالیانو بے مشره شول- ګورجین خان د ابدالیانو اولس د ارغستان د علاقې نه د قندهار په مشرقي غاړه کښې میشته کړه- د دے نه هم د ګورجین خان د لاسه په ابدالیانو ډېر ظلمونه اوشول- د دے ظلمونو په نتیجه کښې ابدالیان د آل و عیال سره د شورواک او خوا و شا غرونو ته اوتښتېدل د دے خدمت په بدل کښې ګورجین خان ته د سلطاني خلعت او د شاه نواز خان خطاب ورکړے شو-

د ګورجین خان د ظلمونو نه ابدالي طائفه چه پنځوس زره کورونه وو- څه لږ شورواک او ډېر د "بکوا" ورشوګانو ته اوتښتېدل او په قبله اوغزېدل- په کومو ورځو کښې چه ایراني حکومت د خسرو خان په مشرتابه کښې خپل دویم فوځ د ګورجین خان د بدل اخستلو د پاره په میرویس پسے رااولیږلو او هغه د میرویس دلاسه تر لاندې شو نو ابدالیانو هم د بدل اخستلو اراده اوکړه- او د حیات سلطان ځوی عبدالله خان او د هغه ځوی اسدالله خان ئے د ملتان نه رااوغوښتل- دا پلار او ځوی د ملتان نه قندهار ته او د قندهار نه هرات ته لاړل- دغه وخت کښې د ایراني دربار له خوا د هرات ګورنر عباس قلي خان شاملو وو- دے ګورنر عبدالله خان او د هغه ځوی دواړه قید کړل- وے لږ ورځې پس د هرات قزلباشو د عباس قلي



برخلاف بغاوت اوکړه او هغه ئے د هرات نه اوشړلو- په دے جګړه کښې عبدالله خان سره د خپل ځوی د قید نه غرونو ته اوتښتیده- او بغاوت ئے شروع کړو- او په هرات باندې د حملې په نیت را روان شول- د هرات نه د یو فرسخ په فاصله د ابدالیانو او ایراني حاکم جعفر خان مقابله اوشوه- په جنګ کښې ایراني حاکم ګرفتار شو- ابدالیانو ښار محاصره کړو او بیا ئے په هرات قبضه اوکړه- د دے نه پس د هرات صوبه د ابدالیانو په قبضه کښې راغله-

اسدالله خان د فراه په جنګ کښې د میر محمود غلجي د لاسه اووژلے شو- د دے نه پس زمان خان د ابدالیانو مشر شو- د ده په وخت کښې په ابدالیانو کښې نااتفاقي پیدا شوه- د سردارئ په حق له په دوی کښې جنګونه شروع شول- او دا حالت د نادر شاه د حملې تر وخته قائم وو- دغه وخت ابدالیان د مجبورئ نه د دشمن مقابلې ته متفق شول- د زمان خان ځوی ذوالفقار خان ئے د فراه حاکم اومنلو- او الله یار خان ئے د هرات حاکم کړو- او دواړه د دشمن د مقابلې ته تیار کښې نګیا شول- د نادر شاه او ابدالیانو د جنګونو په موقع د ذوالفقار خان مدد ته شاه حسین غلجي هم د قندهار نه فوځي کومک رالیږلے وو- وے د نادرشاه په مقابله کښې دوی کامیاب نه شول- ذوالفقار خان د خپل ورور احمد خان (چه ورستو احمد شاه غازی شو) سره قندهار ته په تیښته لاړ- او د شاه حسین غلجي سره دیره شول- لیکن د قندهار د استوګنې په وخت کښې شاه حسین په دوی څه بدګمانه شو- او دوی ئے نظربند کړل- او کوم وخت چه د نادر شاه په لاس قندهار تسخیر شو دغه وخت دا دواړه وروڼه هم د قید نه ازاد کړے شول- نادرشاه د دے وروڼو د شکل و شباهت، اخلاق او شرافت نه ډېر متأثر شو- او د دوی سره ئے ډېر ښه سلوک اوکړو- د دے نه پس د احمد شاه د پاره د ترقۍ لاره ازاده شوله- تر دے چه د نادرشاه د مرګ نه پس هغه د پښتنو منتخب بادشاه شو- د ابدالیانو دا دروېجے سلطنت چه باني ئے احمد شاه وو- په پوپلزو کښې د سدوزو په خانګه کښې وو- احمد شاه او د هغه اولاد په افغانستان او د پنجاب په څنو حصو باندې د سنه ۱۱۶۰ نه تر سنه ۱۲۱۸ پورې حکومت لرلو- وے ورستو بارکزو ته منتقل شو-

بارکزي :- د زبرک په اولاد کښې بل احم قبیله د بارک زو ده - دا قبیله په شمار کښې د تړو نه زیاته ده - دوی د قندهار په جنوبي علاقو کښې د ارغستان په غرونو کښې د هلمند سیند په خوا و شا کښې اباد دي - د بارک زو او پوپل زو تر منځه د اقتدار د پاره کشمکش د ابتدا نه جاري وو - تر څو چه پوده وتلی شوي دي زیرک په خپل ژوندانه په خپل ځائے "بارک" مقرر کړے وو - او هغه د پلار په ژوند بعکس کاله د قام مشري کړې ده - او په خپل نیک سلوک ئے اولس د ځان نه خوشحاله کړے وو - وئے پوپل چه د بارک کشر ورور په چل ول مشري ځان ته کړه. او د دے نه پس د قام مشري د پوپل په کورنۍ کښې وه - وئے د دواړو کورنیو تر منځه د اقتدار د پاره کشمکش جاري وو - تر دے چه د نادرشاه افشار د قتل نه پس چه پښتنو د خپل ځان د پاره د یو بادشاه منتخب کولو په غرض کوم سردارانو په کوټه کړې وو - په هغوی کښې د بارک زو مشر حاجي جمال خان هم یو امیدوار وو او د بادشاهۍ په طمع وو - حاجي جمال خان د احمد شاه په حق کښې په دے شرط دست بردار شوے وو - چه د سدو زو په حکومت کښې به د وزارت عهده په بارک زو کښې او د محمد زو په څانګه کښې وي - او حقیقت دا دے چه د سدوزو د حکومت په زمانه کښې د محمد زو کورنۍ د حکومت په معاملاتو کښې ډیر لوئے اقتدار لرلو - د غه وجه ده چه په ۱۸۱۸ء کښې د شاه محمود د بے عقلۍ او ناشکرۍ په وجه د شهزاده کامران د لاسه وزیر فتح خان اووژلے شو - نو د دے نه پس په افغانستان کښې د سدو زو او بارک زو تر منځه د اقتدار د پاره کشمکش شروع شو - او په ۱۸۲۶ء کښې امیر دوست محمد خان په کابل قبضه اوکړه - او په تدریج تدریج په ټول افغانستان د دے کورنۍ حکومت قائم شو -

د محمد زو دا حکومت په دوه دورونو کښې تقسیمیږي - د اول دور باني امیر دوست محمد خان وو - چه د سردار پائنده خان کشر ځوی وو - د دوست محمد خان په کورنۍ کښې د افغانستان حکومت د ۱۹۲۹ء پورے قائم وو - دویم دور د ۱۹۲۹ء نه شروع کیږي - په دغه کال د بچه سقا د انقلاب په موقع نادرشاه مرحوم بچه سقا ته شکست ورکړو او په کابل ئے قبضه اوکړه - او د خپلې تخت نشینۍ اعلان ئے



اوکړو - د نادرشاه مشرنیکه سردار سلطان محمد خان وو - چه د سردار پائنده خان ځوی او د امیر دوست محمد خان ورور وو - او د خپلو وروڼو سره به په پېښور کښې اوسیدلو - دا وروڼه په سرداران پېښور هم مشهور دو -

د بارک زو اکثر خلق کوچیانه دي - ځنې یکښې زمینداري هم کوي - تر څو چه د بارک زو د شجرے نه ښکاریږي - اڅک زي هم د بارک زو یوه څانګه ده - وئے احمد شاه د بارک زو د طاقت کمولو په غرض دا څانګه د بارک زو نه بیله کړې وه - او دوی ځان له جدا ټپه مقرر کړې ده -

په ابدالیانو کښې "نور زي" هم د بارک زو همره دي - وئے دوی د ملک په قبلیځو غرونو او د سیستان په ریګستانونو کښې ځائے په ځائے خوارۀ واره اباد دي - لکه کیله د دوی طاقت او اقتدار د بارک زو نه کم دے - دا خلق هم اکثر کوچیانه دي - د "سبزوار" غرونه د دوی په علاقه کښې دي -

"علی زي" په زمینداره کښې اباد دي - او د کرکیلې کار کوي - د دوی په خوا کښې علیکوزي استوګن دي -

د زمینداور په سویل کښې اسحاق زي اوسیږي - د دوی کسب زمینداري او شپونتوب دے - د ابدالیانو په علاقه کښې هرات، قندهار، ګرشک او فراه لوئے لوئے ښارونه دي -

بهیچ :- اکثر د شوراوک په علاقه کښې اوسیږي - د دوی قطب ته دراني بړانه دي - سویل ته ئے بلوچ اباد دي - نمر خاته ته ئے د خواجه عمران غرونه دي - او قبلې ته ئے صحرا ده - د شوراوک په علاقه کښې د لورے مبند بهیږي - د دے په وجه دا علاقه زرخیزه ده - د بړیڅو علاقه په اندازاً شپیته مربع میله دي - [له]

اورمړ :- د شجرو او روایاتو مطابق اورمړ د شرخبون ځوی او د سړبنړي دے - نامه عمرو دین او په اورمړ مشهور دے - په موجوده وخت کښې اورمړ اولس په وزیرستان (کانیګرم) د افغانستان په علاقه لوګر او د پېښور ضلعې په درلوکلي (اورمړ بالا، اورمړ میانه او اورمړ پایان) کښې اباد دي - "اورمړ" خپله یو خاصه ژبه لري چه د پښتو ژبې سره څه مشابهت نه لري - د اورمړو دا بغوانۍ ژبه د کانیګرم

---

له د هندوستان مشهور نواب حافظ رحمت خان او د ۱۸۵۷ء د جنګ ازادۍ لوئ مېړه جرنیل بخت خان هم د بړیڅو د قبیلې افراد وو -

اودمړ تر اوسه د خپل ځان سره خوندي ساتلي دي. او په خپل منځ کښې پرې خبرې کوي. ولې د ټولګو (افغانستان) او پښتنو اودمړو دا خپله پخوانۍ اصلي ژبه هېره کړې ده. د اودمړو د اصلي ژبې د موجودګۍ نه ځنې عالمان دې عقيدې ته مائل دي. چه اودمړ به شايد د دې ملک د ډيرو پخوانو استوګنو اخلاف وي. او د پښتنو د ګوانډو او يو ځاي استوګنې په وجه به ئې د پښتنو تهذيب و تمدن خپل کړې دي. نن زمانه کښې اودمړ په خوئ بوئ، عادتونو، دودونو دستورونو، ژبه تهذيب او ثقافت کښې بيخي د پښتنو په شان دي. او په ظاهره کښې د دې خبرې هيڅ څه شواهد نه معلوميږي. چه دا خلق به ګونډې د پښتنو اولس نه بيل خلق وي. ولې د اصلي اودمړي ژبې موجودګۍ د دې قياس مرسته کوي چه شايد دا ژبه د پخوانو آرياني قبائلو د ډلو نه يو ژبه وي. د بده مرغه د اودمړي ژبې په حقله تر اوسه په علمي رنګ کښې څه تحقيق او څېړنه نه ده شوې. د دغه وجه ده چه د اودمړ اولس د اصليت خبره په مله کښې ده. او ترڅو چه د دې ژبې په حقله يقيني معلومات نه وي حاصل شوي. تر هغه به په مله کښې وي. د اودمړو په حقله چه په اولس کښې ځنې روايات مشهور دي هغه بالکل بې بنياده دي. او د بايزيد انصاري د مسلک سره د اختلاف په نتيجه کښې خوارۀ شوي دي. ځما په خيال کښې د پښتنو د بې شماره قبيلو په شان اودمړ هم د پښتنو يوه قبيله ده. البته د "شرخبون" په شجره کښې د دې قبيلې پيوند څه جواز او موزونيت نه لري.[1]

---

ل امکان لري چه اودمړ اولس په پخوانۍ زمانه کښې د مکران په ساحل هم استوګن وو. د دوي په نامه د "اودماړا" بندر تر اوسه مشهور دے. ولې په موجوده وخت کښې دا اولس په بلوچستان کښې په نشت حساب دے

---




سړبني قبائل (ب). د خرشبون (خير الدين) اولاد.

(۱) يوسف زي.

## خرشبون بن سړبن بن قيس عبدالرشيد

## خرشبون





ل اولاد ئې ګګيانړي. ۲ه په اکړه ور کښې او د اباسين په مشرقي او غربي غاړه اباد دي.

۳ه په بونير کښې اباد دي. ۴ه په دير او پنجکوړه کښې اباد دي. ۵ه شجره ئې ځان له بيان شوې ده. ۶ د درويزه د وينا مطابق د مور د اناړه په وجه اولاد ئې نه دے ډير شوے.

څۀ لږ ډير په چغرزو کښې شامل دي. ۷ه اولاد ئې د بنځې په نوم عائشه زي ياديږي.

(یُوسف زی)


# شجرہ نسب اکو بن یوسف







سربنی تبائل (منڈ)

# شجرہ نسب د منڈ



(منڈیر)


# نسب نامہ اتمان







منڈیر -

# سدو بن اتمان




# شجرہ نسب درکزی بن سدو بن اتمان

درکزے








نسب نامہ رزیا زختر (بن منڈر بن شیخا بن کند)

رزریا زختر


## سربنی قبائل ۔ غوریا خیل ۔ (خلیل ۔ شوکنی)

### خلیل (بن غوریا)





## سربنی قبائل ۔ خویشکی ۔ محمد زی

### حمند (بن خرشبون بن سربن)





سړبني قبائل۔

## کاسي بن خرشبون

اوزي ژمرياني محمدزي موسيخ سپرون کهيتر کوميار شينواري سام سلت همړ

شيخ ملي خيل خوګا خيل ميرداد خيل پيروخيل سکوخيل سوکي خيل سيماني خيل خضر خيل

د خرشبون (خيرالدين) د درے واړو ځامنو (ګند۔ جمند۔ کاسي) د اولاد شجرے بيان شوے۔ لکه چه د شجرو نه معلوميږي د ګند دوه ځامن وو۔ چه د يو نوم شيخا يا خوشے يا خابنے وو۔ د دۀ اولاد شيخا خيل يا خابني خيل مشهور دے۔ د بل ځوے نامه ئے غوريا وه۔ او اولاد ته ئے غوريا خيل ويلے شي۔

(خابني خيلو مهاجرت)۔ لکه چه د خرشبون په حالاتو کښے مو وئيلي دي۔ د پټے خزانے د روايت مطابق خرشبون د خپل پلار سړبن او ترۀ بيټ نيکۀ په اجازت د کسي غر نه د خپل اولاد سره تلے وو۔ او د ارغستان په حدود کښے د غنډان او سور غر په خوا و شا کښے په هغه زمکه ديره شوے وو۔ چه د "غوړے مرغے" په نامه يادېږي۔ د اخون درويزه د روايت مطابق هرکله چه پښتنو د قندهار او د خوا و شا زمکے په خپل منځ کښے تقسيم کړے نو د ترينو برخه د ګند او جمند بيٹے د خابني خيلو او غوريا خيلو ترمنځ اورسيده۔ دغه وجه ده چه په بنه بله کښے به د ګند او جمند اولاد يو بل ته لاس نه شو ورکولے۔

د رواياتو مطابق د ګند په اولاد کښے د خوشي زمکه د ترينو سره نزدے وه ځکه چه د خوشي زمکه د ارغستان د وېلے سره وه او هغه د ترينو په خوا کښے وه۔ څه رنګ چه نن زمانه کښے هم پښتانه په خپل منځ کښے په وړو وړو جنګونو کوي دغه شان په هغه زمانه کښے هم د ترينو او خابني خيلو ترمنځ په څه خبره نزره بدا وے پيدا شو۔ او د دوي ترمنځ يو سخت جنګ اوشو چه په هغے کښے خابني خيلو ته لوے زيان اورسيد۔ او د دے په نتيجه کښے "خوشے" د خپلے زمکے نه په وتلو مجبور شو



خوشے چه د خپلے زمکے نه بے ځايه شو نو په کهړه غوريه خيلو ته راغے۔ او د هغوي نه ئے د استوګنے د پاره څۀ زمکه اوغوښتله۔ (د غوري زمکه د دود غزني په کمټۍ کښے د سکور په خوا و شا کښے وه) غوريه خيلو دوي ته څۀ نابوده شان زمکه ورکړه۔ او خوشے په هغے اباد شو۔ څۀ موده پس د ډيره باراني نه کبله د غوري ورشوګانے خرابے شوے۔ نو غوري چه کومه زمکه خوشي ته ورکړې وه هغه ئے ترينه بيا اوغوښتله۔ ولے خوشے په هغے ټينګ شو۔ او په دے خبره د "غوري او خوشي" ترمنځ جنګ اوشو۔ خوشے په دے جنګ کښے هم اووهلے شو۔ او د خپلے زمکے نه بے دخله کړے شو۔ د دے نه پس هغه غ په کابل روان شو۔ په دے وخت کښے د ګومل د لوري نه اتمان خيل هم راغلل او د خوشي سره يو ځاے شول۔ او په شريکه د کابل په لور روان شول۔ د هغه ورځے نه د اتمان خيلو او خابني خيلو ترمنځ پوره جذبه او ګوندي قائمه ده۔ څۀ موده پس مهمنزي چه د جمند يوه څانګه ده۔ د خپلو ورونړو نه په څۀ خبره مرور شول۔ او د دوي هم د خابني خيلو خوا اونيوله۔ د خابني خيلو جمعيت په دے خلقو نور هم زيات شو۔

دا خلق د کابل په اوږدو ورشوګانو کښے ښۀ آسوده شول۔ مال و اولاد ئے ډير شو۔ خصوصاً يوسف او مندړ په مال او اولاد کښے د ټولو نه زيات شو۔ د مال او اولاد دے زيات والي د دوي قبائلي طاقت نور هم اوځلولو۔ په دغه وخت کښے د تيمور په خاندان کښے مرزا ابوسعيد حکمران وو۔ مرزا ابوسعيد خپل ځوي مرزا الغ بيګ د کابل او غزني د علاقو د خپل طرف نه حکمران کړے وو۔ ليکن د مرزا الغ بيګ خپل فوځي طاقت دومره نه وو۔ چه په دے علاقو ئے خپله قبضه دوام ورکړے وے نو هغه د دے پښتنو نه د کومک خواست اوکړو۔ او دے خلقو د هغۀ سره ښه لاس اوکړو۔ مرزا الغ بيګ په کال سنه ۱۴۶۹ء کښے د کابل او غزني حکمران شوے وو۔ نو احتمال کيدے شي چه خابني خيل وغيره پښتانۀ به د کابل علاقے ته د پنځلسمے صدۍ د نيمے په خوا و شا کښے داخل وي۔ الغ بيګ مرزا په کال سنه ۱۵۰۱ء کښے وفات شو۔

په ابتدا کښے مرزا الغ بيګ د پښتنو سره ښۀ سلوک کولو۔ ځکه چه هغه به د خپل تخت د حفاظت د پاره د دے پښتنو مرسته ضروري ګڼړله۔ ولے د ميرزا او پښتنو

تعلقات تر ډیرے مودے خوشګوار پاتے نه شول. او د دوی تر منځه یو جنګ اوشو د دے وجه دا وه چه یوسف زی او مندړ د خپل مال او دولت او اولاد د ډیروالی په وجه سرکښه وو. دوی به د کابل د خوا وشا خلق ازارول. او د حکومت د قانونو پروا به ئے نه ساتله. د دوی دا سرکشی مرزا الغ بیګ تر هغه وخته زغمله چه د هغه طاقت لا مضبوط نه وو. ولے لږه موده پس د هغه د جنډے لاندے ډیر چغتائی مغل راغونډ شول. دغه وخت مرزا دا ضروری اوګڼړله چه د دے پښتنو دا طاقت ختم کړی. دغه وخت کښے مرزا د سیاست نه کار واخست. او په خاښی خیلو کښے ئے مخالفت پیدا کړو. د پښتنو تر منځه اکثر جنګونه یا په زمکو وی او یا د بنځو په معاملاتو. د ګګیانړو او یوسف زو تر منځه هم د یو بنځے په سر دشمنی پیدا شوے وه. مرزا دے مخالفت ته هوا ورکړه. او ګګیانړی ئے د یوسف زو مندړو برخلاف د ځان په پړه کړل. او د دوی په مرسته مرزا الغ بیګ په خاښی خیلو حمله اوکړه. د دوی تر منځه چه په کوم ځائے جنګ شوے دے هغه هم په "غوړه مرغه" یادیږی. "مرغه" په پښتو کښے ورشو یا چراګاه ته وئیلے شی. او د "غوړے مرغے" نه مراد سرسبزه او اباده ورشو ده. په دے جنګ کښے خاښی خیل بریالی شول. او مرزا دے خبرے ته مجبور شو چه هغه دا خلق (پښتانه) په احسان او ښه سلوک ایل کړی په دے غرض هغه د خاښی خیلو د پاره د یو لوئے دعوت انتظام اوکړو. او د جرګے د پاره ئے د دوی مشران او بلل. دا مشران په شمیر کښے نهه سوه وو. د پښتنو د دستور مطابق د جرګے په وخت کښے دا ټول مشران بے وسلے وو. صرف د یوسف سره چه محمود نومیده او د محمد چغر زی ځوئ وو په بغل کښے یوه چاړه وه. د مرزا په نیت کښے د اول نه څه فساد نه وو. ولے په دے اثنا کښے د ګګیانړو یو مشر چه جنګا نومیده مرزا ته دا صلاح ورکړه چه دومره مشران او د سر سړی به بیا یو ځائے او نه موے. د دوی غم غوڅ کړه. دے مشورے مرزا هم غاړې ته اماده کړو او د دے خلقو د وژلو اراده ئے اوکړه. او دوی ئے د جرګے په ځائے کښے قید کړل دغه وخت محمود خپلو مشرانو ته اووے چه که مو خوښه وی نو هم په دے چاړه د مرزا کار خلاصوم. ولے مشرانو هغه منع کړو او ورته ئے اووے چه مونږ د مرزا نمک خوړلے



دے. د پښنے نه ټینګه نشته. څه چه خدائے ته منظوره وی په هغه رضا یو. د دے نه پس مرزا د دوی د وژلو تابیا اوکړه. دغه وخت ملک سلیمان چه د ملک احمد تره وو د ټولے جرګے د طرف نه مرزا ته دوه سواله اوکړه. هغه اووے چه څومره د وژلو نه پس څومونږ واړه زاړه او زنانه مه قیدوه. بلکه اجازت ورکړه چه دوی چرته تلل غواړی هلته د لاړ شی. او بل دا چه ملک احمد مه وژنه. مرزا دا دواړه سوالونه اومنل او ورته ئے اووے چه ځما دا خیال وو چه ته به د ځان د خلاصی د پاره او یا د مسل دوه سوه نورو مشرانو د پاره سوال کوے. د دے په جواب کښے ملک سلیمان اووے چه ځما سر د نورو عزیزانو نه زیات نه دے چه دوی مری نو زه دے اول مړ شم.

غرض د دے نه پس مرزا دا ټول مشران بے د ملک احمد او یو څو نورو مشرانو نه اووژل. او څه وخت چه هغه د دے خونړئ قربانئ نه اوزګار شو نو د دوی د بنځو لو حکم ئے اوکړو. د کابل نه په قطب د سیاه سنګ غر په لمن کښے یوه مقبره د شهیدانو په مقبره مشهوره ده. وئیلے شی چه په دے مقبره کښے دا خلق دفن شوی دی. دلته کښے د شیخ عثمان ملیری روضه هم ده. چه په هغه وخت کښے یو بزرګ او نیک سړے وو. او د خاښی خیلو پیر وو. د دغه مقبرے تر اوسه د زاسریو زیارت ګاه دے. د دے خونړئ واقعے یقینی تاریخ معلوم نه دے. لیکن چونکه دا واقعات د الغ بیګ مرزا د ذات او د هغه د حکومت سره وابسته دی نو که چرے په حقیقت کښے دا سے واقعات شوی وی نو مونږ په قیاس دا وئیلے شو چه دا پیښه به شاید چه د سنه ۱۴۸۰-۹۰ تر منځه منځه یو کال کښے شوی وی.

د دے نه پس خاښی خیل او د هغوی حلیف قبائل د ملک احمد په مشرئ کښے د کابل نه غځ په ننګرهار دادوان شول. تر کانړی په لغمان کښے پاتے شول. او یوسف زی مهمنزی ننګرهار ته راغلل. او دلته میشته شول. څه موده پس د یوسف زو او مهمنزو تر منځه یو سخته نښته اوشوه. چه په هغے کښے مهمنزی ډیر تالا شول. میدان یوسف زو ګاټه. ولے بیا د دوی تر منځه روغه اوشوه او یوسف زو ننګرهار مهمنزو ته پریښود. او په خپله د پېښور په لور دادوان شول.

په دې دوران کښې ګګيانړي چه د يوسف زو په مقابله کښې ئې د مرزا الغ بيګ مرسته کړې وه. د مرزا د لاسه د کابل نه په وتلو مجبور شول. او هغوی هم ننګرهار ته راغلل.

د روایاتو مطابق په دغه ورځو کښې په وادئ پېښور، خيبر، باجوړ او ملحقه علاقو کښې دله زاک پښتانۀ اباد وو. د پېښور په علاقه کښې د دله زاکو د موجودګۍ تائيد د بابر د بيان نه هم کيږي. په دې ورځو کښې د هشتنغر په علاقه کښې ديګان يا دهقان اوسيدل. چه د سوات د سلطان رعيت وو. يوسف زي د خيبر په لار د پېښور علاقې ته رابنکته شول او د سفيد سنګ په مقام ئې د دله زاکو د مشرانو سره جرګه اوکړه. او د هغوی نه ئې د استوګنې د پاره د دواوې علاقه زمکه اوغوښتله. دله زاکو د دوی سره ډيره مهرباني اوکړه او دوی ته ئې د استوګنې د پاره د دواوې علاقه ورکړه. چه د پېښور په علاقه کښې يوه زرخيزه ټکړه ده. ملک احمد د خپلې قبيلې د لوري نه د دله زاکو شکريه ادا کړه. ولې دا ئې هم اووئيل چه زمونږ ډير خلق ورسته پاتې دي. او د هغو ټولو د پاره به د دواوې زمکه کافي نه شي. د دې په جواب کښې ورله دله زاکو اووئيل چه که دواوه د تاسو د پاره کافي نه وي نو د "دانش کول او امبار" کنډۍ د باجوړ پورې تاسو نيولې شئ او د هشت نغر علاقه هم تاسو د دهقانانو نه اخستلې شئ.

د دې نه پس يوسف زي او منډنړ په دواوه کښې اباد شول. او په قلاره قلاره د قبيله ټول ناد په تار خلق يو ځائې ته راغونډ شول. او دغه شان دا علاقه د دوی د پاره ناکافي شوه. او څۀ رنګ چه دوی ته وړاندې د هشت نغر د نيولو اشاره شوې وه. چه د دوی طاقت زيات شو نو دوی د هشت نغر علاقه د دهقانانو نه په زور اونيوله. او دلته هم اباد شول. د دې نه پس دوی دله زاکو سره هم اوبۀ خړې کړې. او د چارسدې په نوښار د مردان د ميداني علاقې د نيولو په تکل شول. دغه وخت کښې د يوسف زو څۀ خلق د باجوړ په لور هم لاړل. او په وادئ لاشوړه ئې قبضه اوکړه. بلکه د دې نه هم وړاندې شول او جندول بلکه تر پنجکوړې او غزيدل.



په دغه ورځو کښې د تيمور د کورنۍ طاقت مخ په زوال وو. او د پښتنو ستړين قبيلې ډير اقتدار مو ندلے وو. د دې په نتيجه کښې غوريه خيل هم د دوی د لاسه په مهاجرت مجبور شول. او مخ په قطب په خابنې خيلو پسې راروان شول د دوی نه وړاندې د ننګرهار په علاقه کښې ګګيانړي او مهمنړي اباد شوي وو. ترکانړي په لمغان کښې ميشته وو. چه غوريا خيل هم دې علاقې ته راغلل. نو د دې قبائلو سره ئې ماتې کوږې پيښې شوې. د غوريه خيلو په راتلو ترکانړو او ګګيانړو د خپل ځان د پاره د نوې علاقې تلاش شروع کړو. ترکانړي د ډيرې مودې نه د باجوړ په طمع وو. په دغه ورځو کښې دوی خپل يو چل د حالاتو د جاج اخستلو په غرض باجوړ ته اوليږلو. ګګيانړو هم د دوی په سيالۍ کښې خپل سړي اوليږل. ولې د ترکانړو د لاسه ئې ماتې اوموندله او بيرته راغلل.

د ګګيانړو طمع چه د باجوړ نه لنډه شو نو د مهمنړو په صلاح ئې خپل سپين ږيري او مشران يوسف زو ته په ننواتي ور اوليږل. او د ملک احمد نه ئې د خپلې استوګنې د پاره زمکه اوغوښتله. ملک احمد يو هوښيار او مدبر سړے وو. د دله زاکو د طاقت په مقابله کښې د هغۀ دا خواهش وو چه د خابنې خيلو ترمنځه مضبوط اتحاد قائم کړي. په دې غرض د قبيلې د مشرانو په مشوره هغۀ د ګګيانړو ننواتي او منل او دوی ته ئې د استوګنې د پاره د دواوې زمکه ورکړه. او د مهمنړو سره ئې د هشت نغر وعده اوکړه.

ګګيانړو ته چه د استوګنې د پاره زمکه په لاس ورغله نو دوی ډلې ډلې او ټپې ټپې د کوچ په لار دواوې ته راغلل او هورې اباد شول. لکه چه وړاندې وئيلې شوي دي يوسف زو د هشت نغر علاقه د دهقانانو نه نيولې وه. دا دهقانان د خپل مشر ميرهنده په ماتحتۍ کښې د دره مورې په لار سوات ته راغلل او د تانړې په خوا وشا کښې استوګن شول. دلته د ميرهنده زمکې دي. سواتيانو د يوسف زو د مستوتوحملو د مدافعت په غرض د مالاکنډ دره هم اونيوله او د شاه کوټ په دره ئې هم قبضه اوکړه او په دې چول د سوات په لور د يوسف زو د راتلو لارې بندې کړې. د وعدې مطابق يوسف زو د هشت نغر علاقه مهمنړو ته ورکړه

او هغوی په دے علاقه کښے اباد شول۔

ګګیانړی چه په دواړه کښے میشته شول۔ نو د دله زاکو سره ئے داسے سپک سلوک رااواخستو چه ملک احمد پرے هم ناراض شو۔ او د دوی د مرستے نه ئے لاس واخست۔ دغه وجه وه چه د دے نه پس د دله زاکو او ګګیانړو ترمنځه "کټل بیټے" په مقام چه د داوُدزو په علاقه کښے یو کلے دے په یو جنګ کښے ګګیانړو د دله زاکو د لاسه سخته ماتې او مونډله۔

د ګګیانړو دے شکست ملک احمد بیا د قبائلی اتحاد په لور مائل کړو۔ او هغه د دله زاکو سره قطعی فیصله کول غوره اوګڼړل۔ د دے وجه دا هم وه چه د دله زاکو د لاسه یوسف زی هم تنګ وو۔ چنانچه هغه ټول یوسف زی، مندړ، ګګیانړی، مهمندی، اتمان خیل اوګدانه په یو صلاح کړل۔ او د دے ټولو نه ئے یو لوئے لښکر مرتب کړو۔ دله زاک هم د دوی جنګ ته تیار شول۔ د دواړو قبیلو ترمنځه دا جنګ د کاټلنګ او شاه باز ګړهے ترمنځه شوے وو۔ د دے جنګ زور د ګدړ په خوړ کښے وو۔ د اخون درویزه مطابق په دے جنګ کښے اتمان خیلو ډیره مړانه ښکاره کړی وه۔ او د دے وجه یو قسم د څرمنے چاونه وو چه د هغے په شا به تیراندازانو رواله وو۔ دله زاک د لنګرکوټ له خوا نه جنګ ته راوتل۔ درویزه نقل کوی چه د ټولو نه اول د علی اسمٰعیل زی خوی چه بټریټ نومیده د خوړ نه اودانګل او د "زنګی" دله زاک خوے ئے مړ کړو۔ د دے نه پس لاس په لاس جنګ شروع شو۔ وړے د دله زاکو پښے او ښوئیدے۔ او هغوی تیښته اوکړه۔ یوسفزی هم ورپسے وو۔ یوسف زو د سوئیل په لور د دله زاکو لار بنده کړی وه۔ دغه وجه وه چه دوی د لنډی سیند نه په سویل خپلو عزیزانو ته لار نه شول بلکه په اباسین پورے شول۔ د دے جنګ تاریخ معلوم نه دے۔ البته قیاس کیدے شی چه دا جنګ به د ۱۵۱۹ء نه پس او د ۱۵۲۵ء نه اول چرته یو کال شوے وی۔

تکه چه وړاندے وئیلے شوی دی۔ سواتیانو د یوسف زو د حملے د خطرے په وجه د سوات په لور تیرے درے لکه درګه موره، مالاکنډ، شاه کوټ او چراټ



وغیره نیولے وے۔ په دے ورځو کښے د سوات سلطان اویس نومیده۔ چه د یوسف زو د غلبے نه د حفاظت په غرض ئے د ملک احمد خور واده کړی وه۔ د سلطان اویس صدر مقام منګلور وو۔ وړے د ملک احمد خور مړه شوی وه۔ او د سلطان اویس سره د یوسف زو د حملے خطره پیدا شوی وه۔ او د هغه دا ویره بے ځایه هم نه وه۔ ځکه چه د یوسف زو، مندړو ورځ اوس ښے شوے وے۔ په دله زاکو هغوی فتح بیا موندلے وه۔ او د سوات د تجارت په وجه دوی مالدار شوی هم وو۔ وړے د تجارت سره سره دوی د سوات د ښکلا او زرخیزئ نه هم ښه خبردار وو۔ دغه وجه وه چه د دے ښکلی علاقے د نیولو ډیر خواهشمند وو او چه موقعے بیا موندله۔ نو هیڅ ئے او نه کړه۔

یوسف زی چه د دله زاکو د جنجال نه اوزګار شول نو د سوات د فتحے په تکل شول۔ او د "درګه موره" سره ډیره شول۔ دا دره دهقانانو ښه مضبوطه کړی وه۔ او د یوسف زو هر اقدام به ئے ناکام کولو۔ دوه میاشتے داسے تیرے شوے۔ اخر د یوسف زو مشرانو په سواتیانو یو چل اوکړو۔ سواتیانو د مورے دره مضبوطه کړی وه۔ او یوسف زی هم د دوی مقابلے ته پراته وو۔ د مالاکنډ دره هم د سلطان اویس په ماتحتئ کښے سواتیانو نیولے وه۔ وړے دوی د یوسف زو د حملے نه بے غمه وو۔ یوسف زی چه د دے نه خبر شول نو شپه په شپه ئے خپل لښکر د مالاکنډ په لور اولیږلو۔ په دغه شپه د یوسف زو زنانو هم لوئے کار اوکړو۔ او هغه دا چه دوی د خپلو نارینهٔ و په صلاح ټوله شپه سندرے او بدلے وئیلے۔ او په خپلو سندرو کښے به ئے داوئیل چه سواتیانو! ځان ټینګ کړئ صبا ته به ځوبن شاه خلی دد ځی۔ ښه ځانونه سنبال کړئ هسے نه چه څه ارمان مو په زړه کښے پاتے نه شی۔ د دے خبرو سواتیان یوړل۔ هغوی خپل ټول طاقت هم دلته جمع کړو۔ بل لور ته یوسف زو سومه دم په مالاکنډ حمله اوکړه۔ او د سواتیانو لښکرے په اودو لاندے کړو۔ سواتیان د دے ناساپی حملے ته ټینګ نه شول۔ او د تانړے په لور اوتښتیدل۔ یوسف زی په مالاکنډ واوریدل۔ دا خبر چه "مورے" ته اورسید نو "مېرهنده" هم تانړے ته لاړ او هلته د سلطان "اویس" سره د یوسف زو

د تم کولو په تابیا کښې لګیا شو. ولې دغه وخت د یوسف زو الیاروال د دوی د وس نه بهر شوی وو. د دے نه پس یوسف زو د کوز سوات په ژمکو قبضه اوکړه. دے قبضے د بر سوات د قبضے دپاره هم دوی ته لار اوزګاره کړه. او په قلاره قلاره دوی تول سوات سره د پورن، چکیسر، کانړا او غوربند اونیولو. په دے پسے یوسفزو د تالاش علاقه هم اونیوله. دا علاقه اول په باجوړ کښې شامله وه. داځ چه د تالاش په جنګ کښې مزید لښے یو منډړ د کاټګلے په مقام په دشمن اس ور اوزغلولو او د کندے غځے ځے دولس بیم ګزه توپ اووهلو. او دشمن ځے په نیزه اوپیرلو. د دے نه پس د نواګۍ او ارهنګ برګک پورے علاقه دوی اونیوله.

یوسف زو چه د خپلو حلیفو قبائیلو په مرسته د دلہ زاکو او سواتیانو نه علاقے قبضه کړے نو د ملک احمد په صلاح "شیخ ملی" چه د منډړ په اولس کښې د "پټوک" په زید کښې وو او د ابتدا نه د ملک احمد سره په هره سخته نرمه کښې ملګرے وو. د دے نیولو شوو علاقو د تقسیم تابیا شروع کړه. په مختلفو قبائیلو کښې د دے دومره وسیع علاقے ویش چه په تولو دواوړ، هشت نغر، د لنډی سیند په قطب د اباسیند تر غاړے پورے سمے، سوات، بونیر او د باجوړ په څه حصه مشتمل وه. د ډیر احتیاط، غور و فکر محنت او تدبر کار وو. او دا یو داسے سړی کولے شو چه هغه د لوئے همت، وسیع تجربے او د قبائیلو د رسم و رواج او دے وسیع علاقے د حالاتو نه ښه خبردار دے. او شیخ ملی د دے عظیم کار د پاره ډیر موزون وو. د شیخ ملی په دے ویش کښې چه کوم انتظامی قابلیت او تدبر نه کار اخستے شوے دے د هغه ثبوت هم دغه دے چه دا تقسیم په پښتون غوندے قام کښې بے د څه جګړے خفګان او تنازغ نه تر سوونو کالو په کامیابۍ سره قائم وو. او متعلقه خلقو ته دونه هیڅ قسم څه شکوه شکایت نه وو پیدا شوے. د شیخ ملی د دے تقسیم تاریخ هم معلوم نه دے. قیاساً دا وئیلے شو چه دا به د ملک احمد په ژوند کښې غالباً د سنه ۱۵۳۰ په خواوشا کښې شروع شوے وی. او د دے تکمیل به د خان کجو د مشرۍ په وخت کښې شوے وی. دا تقسیم په داسے هوښیارتیا شوے دے چه چرته د دوو زورورو قبیلو ترمنځه د جنګ جګړے د پیښیدو خطره محسوس شوی ده. نو دوی د



جائیداد په منځ کښې څه ژمکه د شیرۍ په نوم ستانه دارو ته ورکړی شوی ده. او په دے دستور دا زورور خلق د یو بل نه لرے شوے او په یو بل د بلوسے نه بچ کړے شوی دی.

د شیخ ملی د تقسیم له مخه دواوړه د ګګیانړو اورسید له. هشت نغر د مهمنزو شو. اتمان خیلو ته د لنډک برمنګ علاقه او د سوات او سمے ترمنځه په قطب یوه خط ورکړے شوه. وروستو په شپاړسمه صدۍ کښې د اتمان خیلو د سمے په علاقه کښې خټک هم ورننوتل. په دے تقسیم کښې جهدانو ته چه د یوسف زو سره پتهل شوی وو. د قطب په لور غرئیزه علاقه ورکړے شوه.

په هغه زمانه کښې په دے تولو علاقو کښې د سوات علاقه ډیره زرخیزه او اباده وه. دغه وجه وه چه د شیخ ملی په تقسیم کښې یوسف زو او منډړو دواړو اولسونو ته په سوات او سمه کښې ژمکے ورکړے شوی دی. او د دے قیاس مرسته د دے نه کیږی چه د ملک احمد او شیخ ملی قبرونه په سوات کښې دی. او دواړه مشران د منډړ په ځانګ کښې دی. د ملک احمد قبر په الله ډنډ کښې او د شیخ ملی قبر په غوربندی کښې دے. ولے داسے معلومیږی چه د شیخ ملی په دے تقسیم کښې څه موده پس بیا تبدیلی راغلی ده. او د سوات، پښکوړے بونیر او تولے غرئیزه علاقه د یوسفزو رسیدلی ده. او منډړ سمے ته راغلی دی. دا قیاس د خان کجو قبر نه مرسته موی. د خان کجو قبر د بډدۍ نالے په غاړه د صوابۍ مانیرۍ ترمنځه کجو غونډۍ ته مخامخ پروت دے. نن ورځ په سوات بونیر او نورو غرئیزه علاقه کښې د منډړو یو کلے هم نشته. البته د منډړو په علاقه کښې د یوسف زو درے کلی اباد دی. چه په "بابوزی، شموزی او متہ" مشهور دی. دا کلی د سوات په پوله اباد دی. اګرچه د دے نوی تقسیم له مخه په هغه زمانه کښې منډړو ته زیان رسیدلے وی. ځکه چه د دوی دا اوسنۍ تولہ علاقه په هغه زمانه کښې د اوبو د نیشتوالی له کبله نابوده او غیر اباده وه. او د دے په مقابله کښې غرئیزے علاقے د ښنے آب و هوا او د اوبو د ډیروالی له کبله د جنت په مثال دے. ولے په نن زمانه کښې د منډړو علاقه د نهرونو په برکت په تول پاکستان کښې اباده او زرخیزه ده.

لکه چه وړاندے وښُلی شوی دی۔ په ابتدا کښے ملک احمد ته د دلہ ذاکو د ښرانو له خوا د "دانش کول" او امبهار د علاقو نیولو پیشکش هم شوے وو۔ او د دے جرګے نه پس د یوسف زو منډړو ځنے خلق د امبار او بیا د جندول په لور تلی وو۔ په دغه ورځو کښے په دے علاقو کښے هم دلہ ذاک میشته وو۔ او د باجوړ په دلہ ذاکو کښے ملک "هیبو" چه د عمر خیلو په خانګ کښے وو۔ د لوئے اقتدار خاوند وو۔ ملک هیبو دے نابللی میلمنو ته په ارت زړه هرکلے او نه وے او په باجوړ کښے دوی ته ځمکے ورکولو ته تیار نه وو۔ ولے دا نابللی میلمانهٔ خو هم غرضیان وو۔ دوی د خلیلو نه د کومک خواست اوکړو۔ چه په دغه ورځو کښے په ننګرهار کښے د خپلو ورونړو عزیزانو سره په جګړو کښے بوخت وو۔ خلیل د دوی په مرسته اودرته[1] بل طرف ته ملک هیبو هم خپل طاقت ته غاورته وو۔ او په خپله خبره ټینګ وو په دغه وخت کښے مهمند چه د غوریه خیلو یوه مهمه خانګه ده او ترکانړی چه د خابنی خیلو زیله ده۔ د ملک هیبو اود یوسف زو خلیلو تر منځهٔ د ثالثئ او جرګے په نیت باجوړ ته راغلل۔ او د طرفینو سره ئے جرګے مرکے اوکړے۔ ولے دا جرګے کامیابے نه شوے۔ د ملک هیبو دا خیال وو چه دا ثالثان به د مدعیانو په جګړه کښے د چا طرفداری اونه کړی۔ لو هغه د خلیلو او یوسف زو سره جنګ ته تیار شو۔ ولے ترکانړی او مهمند غیر جانبدار پاتے نه شول۔ بلکه د خلیلو او یوسف زو په مرسته کښے د ملک هیبو سره اوجنګیدل۔ په جنګ کښے د برهان تے یو ترکانړی د لاسه ملک هیبو اووژلے شو۔ او د دے ملک هیبو زغرهٔ د منډړو میر جمال لوسے یو ملک په مروني د هغه نه اوویستله او د ځان سره ئے سنباله کړه۔ وئیلے شی چه دا زغره تر ډیرے مودے په شیر دره کښے د میر جمال په کورنۍ کښے محفوظ وه۔ د دے جنګ په نتیجه کښے یوسف زی او خلیل په باجوړ کښے میشته شول۔ ولے لږه موده پس د خلیلو او یوسف زو تر منځهٔ جنګ اوشو چه په هغه کښے خلیل بربالی شول۔ او یوسف زو ماتے اوموندلے۔ یوسف زی چه په باجوړ کښے مات شول۔ نو د ملک احمد نه ئے د مرستے خواست اوکړو۔ ملک احمد دا نه غوښتله چه په باجوړ کښے د خلیل دومره طاقتور شی چه د یوسف زو د پاره



ترِ مستقل خطره پیدا شی۔ په دے غرض هغهٔ د باجوړ د یوسف زو امداده ملا اوتړله۔ ولے د طاقت د استعمال سره ئے د سیاست نه هم کار واخست او هغه میر جمال ئے چه د ملک هیبو نه ئے په مروني زغره ویستلے وه۔ د ملک هیبو ځامنو ته په تلوانی اولیږلو۔ او د هغو نه ئے د خلیلو په مقابله کښے د مرستے خواست اوکړو۔ د ملک احمد دا تدبیر کامیاب شو۔ د ملک هیبو ځامنو نه صرف د پلار سپکاوے دوی ته اوبخښلو بلکه د دوی سره ئے د خلیلو مقابلے ته ملا هم اوتړله۔ یو طرف ته میر جمال او د ملک هیبو ځامنو خپل لښکر جمع کړو۔ او بل طرف ته ملک احمد د ګندائو او پنیالی په لاره په دانش کول تیر شو او نواګئ ته اورسید۔ د نواګئ سره د دوی او د خلیلو مقابله اوشوه۔ په جنګ کښے خلیلو ماتے اوموندله۔ او د دوی ولړه زاړه او ز ښانه د یوسف زو په لاس کښے بندے شوے۔ اخر د ملک هیبو ځامنو، ملک احمد او میر جمال په خپلو کښے جرګه اوکړه او د خلیلو بندیانو ئے په دے شرط پریښول چه خلیل به د باجوړ نه بیچ په ګړه ځی۔ او په خپل ډونډ کښے به دے طرف ته بیا اسره نه کوی خلیو دا شرط اومنلو او د باجوړ نه اووتل۔ د باجوړ په څهٔ حصه کښے یوسف زی اباد شول او په ځنے علاقو کښے لا هغه شان دلہ ذاک اباد وو۔ د باجوړ دا جنګ د راورټی د خیال مطابق د ۱۵۱۷ء سنه په خوا و شا کښے شوے دے۔ په باجوړ کښے د غوریه خیلو دا ناخت په وادئ پیښور او د خوا و شا په علاقو کښے د دے قبائلو د مهاجرت اغاز وو۔[1]

د غوریه خیلو د پاره چه د باجوړ مخه بنده شوه۔ نو دوی هم د خابنی خیلو په چاله روان شول۔ او د ننګرهار نه د خیبر په لاره د پیښور علاقے ته رابښکته شول۔ دا علاقه لا تر هغه وخته د خیبر نه د خیر اباد پورے د دلہ ذاکو په قبضه کښے وه۔ خلیو مهمند هم د دلہ ذاکو نه د استوګنے د پاره ځمکه او غوښتله۔ ولے دلہ ذاکو چه کومه نیکی د

---

[1] مهمند د غوریه خیلو یوه مهمه خانګه ده۔ بابر چه په کال ۹۱۳ھ سنه کښے د غلجی پښتنو په مهم تلے وو۔ نو هغه وخت دے د مهمندو ذکر هم کوی۔ په دغه ورځو کښے مهمند د "مکود" په خوا و شا کښے اباد وو۔ د دے بیان نه د مهمندو د مهاجرت تصدیق کیږی۔

یوسف زو سره کړی وه - د هغې سبق ورته لا هغه شان یاد وو- نو دوی ته ئې بېخي انکار اوکړو- خلیلو مهمندو په دے موقع د مرزا کامران نه د مرستې سوال اوکړو مرزا کامران په دے غرض چه د خپل ورور همایون په مقابله کښې دا طاقتور دے قبیلے احسان مندے کړی- او د دوی په ذریعه - همایون د حملو نه ځان بچ کړی د دوی موثر امداد اوکړو- د دے امداد په برکت خلیل، مهمند د دله زاکو په مقابله کښې کامیاب شول- په دے علاقه د خلیلو مهمندو د قبضې یقینی تاریخ معلوم نه دے- لیکن د روایاتو مطابق چونکه په دے علاقه دوی د مرزا کامران په مرسته کامیاب شوی وو- نو دا ونیل به بے ځایه نه وی چه دوی به په دے علاقه د سنه ۱۵۳۰ء او سنه ۱۵۴۵ء په مینځ مینځ کښې قبضه کړی وی-

دا سے معلومیږی چه خلیل چه د خیبر په لاره دے علاقے ته راغلی وی نو د دوی او د افریدو تر مینځه هم شاید چه قریبی تعلق پانے شوے دے- ځکه چه د خلیلو مشران چه ورستو په اربابانو مشهور شول - د افریدو د خوئ بوئ او للادو چاره نه په ښه شان خبردار وو- او د دے قیاس مرسته کوی چه دواړه قبیلے په قریبی تعلقاتو کښې گنډلی پاتے شوی دی- دغه وجه ده چه د مغلو په وخت کښه او بیا د دوی نه ورستو د سیکانو او بیا د انگریزانو د حکومت په ابتدا کښه به هم د افریدو او حکومت تر مینځه خبرے اترے د دے اربابانو په ذریعه کیدلے-

د خابنی خیلو او غوریه خیلو تعلقات:- د پیښور په کځئ کښې اباده او زرخیزه خطه د خلیلو مهمندو په قبضه کښه وه- د گنداؤ لاره هم د مهمندو په علاقه کښه وه- او په دے لار به هم دوی محصول وصولولو- د دے نه علاوه د لال پورے نه بنکته په سیند کښے په جالو به هم د دوی محصول کره وو- د دے نتیجه دا شوه چه دا دواړه قبیلے په لږه موده کښے ډیرے شتمنے شوے- بل لوری ته د هشت نغر او د دواوے غوندے علاقے هم د دوی په خوا کښه دے- د خپل دولت او سرکښئ په نتیجه کښے دوی دے علاقے ته هم سترگے خږے کړے- او د دے نه علاوه به ئے د یوسف زو په علاقو هم بلوسه کوله- په دے ورځو کښے د یوسف زو منډړه سشرملک خان کجو وو- هغه به دے حالاتو ته په سره سینه کتل- و لے د دوی مقابلے ته ئے



غاړه نه کیښودله - د هغه دا خیال وو چه د غوریه خیلو په مقابله کښے به شاید چه مهمنزی د دوی سره کومک او نه کړی- دغه وجه وه چه هغه د یو موزوں موقع په انتظار کښے وو- دا موقع هغه ته ډیر زر په لاس ورغله-

واقعه دا سے وه چه د گگیانړو یو ملک چه د خپلے پرهیزکارئ په وجه د ډیر احترام خاوند وو- یوه ورځ پیښور ته روان وو- چه د خلیلو په یو کلی کښے په جماعت کښه ان د ماځه په وخت کښه خلیلو اووژلو- خان کجو د دے ملک د قتل نه فائده واخسته- او د خابنی خیلو د هرے تپے نه ئے ښکر اوغوښتو - او دغه شان ئے یو عظیم ښکر تیار کړو - په دے ښکر کښے د مهمانزو، گگیانړو، اتمان خیلو، گدانو نه دے چه د باجوړ د ترکانړو دستے هم شامل وے- د دے ښکر په مرسته خان کجو په غوریه خیلو د حملے اراده اوکړه- د غوریه خیلو او خابنی خیلو دا جنگ د ننړگیند د یو موسیلی ښاخ چه اوس ورته "شاه عالم" وئیلے شی په غاړه شوے دے- دا جنگ د "شیخ تیپوړ" په نوم هم مشهور دے- شیخ تیپوړ په دواوه کښے یو کلے دے وئیلے شی چه د دے جنگ په نتیجه کښے غوریه خیل مکمل مغلوب او برباد شول- د مورخ راورتي د خیال مطابق دا جنگ به د سنه ۱۵۵۰ء په خوا وشا کښه شوے وی-

وئیلے شی چه کوم وخت خان کجو د خپل ښکر سره د سیند غاړے ته راغے نو د سیند په بله غاړه غوریه خیل هم جنگ ته تیار ولاړ وو- په دے موقع خان کجو هغوی ته اووئیل تربورانو! مونږ به خواه مخواه جنگ کوو- ولے په سیند کښے خو نه شو جنگیدلے- او نه هسے عبث د یو بل غاړے نه بلے غاړے ته غشی ویشتلے شو نو ښه به دا وی چه یا تاسو راپورے شئ او یا به مونږ درپورے وزو- پس که چرے تاسو راپورے کیږئ نو مونږ به په ورستو لاړ شو او تاسو ته به موقع درکړو- او که نه مونږ پورے غواړئ نو تاسو ورستو لاړ شئ چه مونږ درپورے شو- غوریه خیلو دا خبره غوره اوگڼله چه دوی دے راپورے شی- د خان کجو ملګرو د هغه د تجویز سره اتفاق نه لرلو- ولے خان کجو په خپله خبره ټینګ وو- غوریه خیل په شالاړ او خابنی خیل په هغوی پسے ورپورے وتل- د دواړو قبیلو تر مینځه سخت جنگ اوشو- چه په هغه کښے د روایاتو مطابق غوریه خیلو ماتې اوکړه- ډیر خلق ئے اووژلے

شول. او باقي په تيښته لاړل.

د دې جنګ د پاره غوريه خيلو هم ښه تياري کړې وه. د اخون درويزه او افضل خان (تاريخ مرصع) مطابق لوازمه د خليلو په لښکو کښې دولس زره سواره وو. ولې په جنګ کښې د يوسف زو تيراندازو ډيره مړانه ښکاره کړه. دوی په غوريه خيلو داسې غشي اووريدل چه هغوی ئې په تيښته مجبور کړل. د درويزه مطابق د يوسف زو له خوا د غوريه خيلو سره ډير سپک سلوک اوشو. ولې سره د دې چه په جنګ کښې غوريه خيلو ته لوئ زيان رسيدلے وو. بيا هم دوی د خپله علاقې نه بې ځايه نه کړے شول.

د خابنی خيلو، غوريه خيلو د خپله اصلي ځينې (د قندهار، غزنی علاقې) نه د وادئ پيښور، سوات، بونير وغيره علاقو په لور مهاجرت، د دې قبائلو او د دله ناکو ترمنځه خونړی جنګونه او په دې جنګونو کښې د دله ناکو مغلوبيت، بيا د خابنی خيلو او غوريه خيلو ترمنځه خوفناک جنګ او د هغې په نتيجه کښې د غوريه خيلو تباهي د يوسفزو له خوا ګګيانړو ته دوابه او مهمنزو ته د هشت نغر علاقه ورکول. او داسې نور واقعات چه د روايانو په بنا پورته ذکر شول داسې خبرې دی چه په هغې يقين کول ګران دی او داسې معلوميږی چه پښتنو مورخينو د دې قبائلو د دې روايتي مهاجرت او اباد کارئ په حقله د مبالغې نه کار اخستے دے. او دا واقعات ئې بې ترتيبه او بې تاريخه د خوفناکو جنګونو په شکل کښې پيش کړی دی.

د دې قبائلو د روايتي مهاجرت د صحت و صداقت په باب کښې چه د کومو خبرو په وجه شکوک او شبهات پيدا کيږی هغه په لنډ ډول دا دی.

(۱) د روايانو او شجرانو مطابق سړبنی قبائل په دوو ځانګو کښې ويش دی.
(الف) د شرخبون (شرف الدين) اولاد چه مهم قبائل يکښې ترين او ابداليان دی
او (ب) د خرشبون (خير الدين) اولاد چه مهم قبائل ئې يوسف زی، مندړ دی.
د روايانو مطابق د خرشبون ټول اولاد يعنې د وادئ پيښور او سوات وغيره علاقو ټول موجوده قبائل په ابتدا کښې د ترينو، ابداليانو سره په يو ځائے استوګن وو. چنانچه د وادئ پيښور د موجوده قبائلو مهاجرت د خپله اصلي ځمکے نه د ترينو د تغلب



په وجه بيانيږی. دلته دا سوال پيدا کيږی چه هرکله دا ټول قبائل يعنې د شرخبون اولاد (ترين، ابداليان) او د خرشبون اولاد (خابنی خيل، غوريه خيل) د يو پلار اولاد، د يو کورنۍ خلق او د يوے ځمکے استوګن وو، نو ضرور دوی به په ژبه، لباس خوئ بوئ او د ودونو دستورونو کښې هم يو شان وو. ولې د شرخبون او خرشبون د اولاد ترمنځه (يعنې د ترينو، ابداليانو او يوسف زو، غوريه خيلو وغيره) په ژبه، لباس او ناسته ولاړه کښې دومره څرګند او زيات فرق دے چه مورخين د دے دواړو اولسونو ترمنځه د علمي او تاريخي اصولو په رڼا کښې د نسلي اشتراک منلو ته هم غاړه نږدی.

(۲) د پټے خزانے د روايت مطابق د خرشبون د ژوند زمانه د سنه ۳۰۵ھ نه د سنه ۴۱۱ھ پورے وه. نو هونږ د دۀ د پلار ورور شرخبون د ژوند زمانه هم د دے نيټے په خوا وشا کښې ټاکلے شو. د خرشبون د وفات سنه ۴۱۱ھ په وخت کښې په غزنی کښې د آل ناصر حکومت قائم وو. او پښتانه د نوم نښان خاوندان وه. يا داسے به اووايو چه د يوولسمے صدئ په اغاز کښې چه خرشبون لا په خپله روايتي ځمکه استوګن او ژوندے وو. د دے نه ډير وړاندے به وادئ پيښور کښې د البيرونی د وينا مطابق پښتانه موجود وو. د دويمے صدئ هجری په اوله کښې په وادئ پيښور کښې د پښتنو د موجودګئ مرسته د "فرشته" نه هم کيږی. دا ظاهره ده چه دا ټول پښتانه به يواځے د دله ذاک نه وو لکه څه رنګ چه د دے د روايانو نه معلوميږی. بلکه د پښتنو نور قبائل به هم موجود وو. د بابر او پښتنو واسطه د سنه ۱۵۰۴ء نه شروع شوی ده. او د روايانو مطابق د کابل نه د وادئ پيښور په لور د خابنی خيلو او غوريه خيلو (يعنې د وادئ پيښور د موجوده قبائلو) مهاجرت د مرزا الغ بيګ د حکومت په زمانه کښې واقع شوے دے. مرزا الغ بيګ په کابل او غزنی باندے د سنه ۱۴۶۹ نه د سنه ۱۵۰۲ پورے حکمران وو. که چرے د مرزا الغ بيګ د لاسه د خابنی خيلو د نهه سوه مشرانو د هبيته قتل نيټه د سنه ۱۴۸۰-۸۲ء خوا وشا فرض کړے شی او د ملک احمد په مشرئ کښې د دے قبائلو مهاجرت د وادئ پيښور په لور د سنه ۱۴۸۲ نه ورسته اوګڼړلے شی، نو د پيښور په علاقه د بابر د حملو او د دے مهاجرت ترمنځه

به ایله شل دوه‌ویشت کاله تیر شوی وی. او دا دومره لږه عرصه ده چه په دے کښے په دے دومره وسیع علاقه کښے د دے دومره قبائلو راتګ، جنګونه او آبادکاری ناممکن معلومیږی. د دے نه علاوه د بابر په وخت کښے دله زاک لاهغه شان په وادیٔ پیښور کښے موجود او د اقتدار خاوندان وو.

د هند د فتحے نه اول بابر د سابق صوبه سرحد په موجوده پښتنو باندے څو واره تاختونه کړی دی. او د کومو پښتنو سره چه د هغهٔ واسطه راغلی ده د هغه قبائلو او د هغوی د علاقے ذکرئے په خپلو خپلو نومونو سره په تفصیل سره کړے دے. بابر چه په خپلو واقعاتو کښے د کومو پښتنو قبائلو ذکر کړے دے هغه دلزاک، یوسف زی، مهمند، ګګیانړی، بنګښ، افریدی، وزیر، بنوڅی او کولانړی دی. دا ټول قبائل د بابر نه وړاندے په دے خپلو خپلو موجوده علاقو میشته وو او د بابر د تزک نه دا صفا معلومیږی چه دا خلق د ډیرے مودے نه په دے علاقو کښے اوسیدونکی وو.

مرزا الغ بیګ د بابر تره وو. او د یوسف زو سره هم د بابر تعلقات وو، تر دے چه د ملک شاه منصور (چه د ملک سلیمان خوی وو) لور بی بی مبارکه بابر ته واده شوی وه. بابر یو ډیر صاف ګو او سپین زړے انسان وو. هغهٔ خپل ټول واقعات په ډیره صفائی لیکلی دی. نو که چرے د مرزا الغ بیګ د لاسه د یوسف زو د نهه سوه مشرانو د قتل افسانه او د دے قبائلو د مهاجرت واقعه په حقیقت کښے شوے وے نو یقیناً بابر به د هغے ذکر کړے وو. ولے بابر د دے واقعاتو په باب کښے قطعی خاموش دے. د دے نه دا قیاس کیدے شی چه دا واقعات به د مبالغے نه خالی نه وی.

د شرخبون د اولاد یعنے د ترینو، شیرانیانو او ابدالیانو په ژبه او لباس کښے او د خرشبون د اولاد یعنے د خابښی خیلو او غوریه خیلو په ژبه لباس او تمدن کښے نمایان فرق دے. که چرے دا ټول قبائل د یوے تنے دوه څانګے اوګڼړو نو بیا به دا هم منل پکار وی چه خابښی خیلو او غوریه خیلو په وادیٔ پیښور او ملحقه علاقو کښے د اوسیدو نه پس د نورو پښتنو قبائلو د ګاونډ او اختلاط په وجه خپله ژبه لباس



او دودونه دستورونه بدل کړی دی. ولے د دوی نه دا وړاندینی خلق د روایاتو مطابق دله زاک دی چه د شجره نویسو له خوا په کولانړی قبائلو کښے شامل دی. او کولانړی قبائل نن ورځ هم د خابښی خیلو او غوریه خیلو نه په ژبه، دودونو دستورونو او لباس کښے نمایان فرق لری. د دے نه دا صفا معلومیږی چه د خابښی خیلو او غوریه خیلو ژبه هم خپله اصلی او پخوانۍ ژبه ده. په دے بنا څما په خیال کښے دا قبائل د ترینو او شیرانیانو تربوران ګڼړل څهٔ موزونیت نه لری.

لکه چه وړاندے وئیلی شوی دی د سکندر اعظم د حملے (۳۲۷ ق م) په وخت کښے په وادیٔ کونړ، باجوړ، وادیٔ تالاش او سوات وغیره علاقو کښے د یونانی مورخینو له خوا د دے قبائلو د "اسپاسی ګوری او اساکینی" په نامو ذکر شوی دی د دے قبائلو د شناخت په حقله وړاندے په تفصیل سره بحث شوے دے. څما په قیاس کښے یوسف زی، مندړ، غوریه خیل او اتمان خیل وغیره هم د دے پورته قبائلو اخلاف دی. دا خلق به په قدیمه زمانه کښے په وادیٔ کونړ او باجوړ وغیره علاقو کښے اوسیدل. او په قلاره قلاره به په دے علاقو کښے غزیدلی وی. البته دا خبره ممکن ده چه په دوی کښے به څنے قبائل واقعی دے علاقو ته په ډیرے وروستیٔ زمانه کښے د مهاجرینو په شکل کښے راغلی وی. لکه د مثال په ډول به مهمند واخلو دا خلق د بابر په وخت کښے د غزنی په منطقه کښے اوسیدل. او دا هم معلومیږی چه دے موجوده علاقو ته دوی په وروستیٔ زمانه کښے راغلی دی. لیکن د دوی دا راتګ او مهاجرت به هم په دے ډول شوے وی څهٔ رنګ چه په اوسنیٔ زمانه کښے دا خلق د خپلے غرنیزے علاقے نه د مردان او پیښور میدانی علاقو ته راغلی او اباد شوی دی په دے زمکو دوی په ابتدا کښے د همسایه اجاره دارو او د دهقانانو په شکل کښے اباد شوی وو. ولے ورو ورو دوی دغه زمکے خپلے کړے. او نن ورځ د ملکی خلقو نه هم اوچت دی. دغه شان په وړومبیٔ زمانه کښے د دے نو آبادکارو او اصلی اوسیدونکو تر منځهٔ د جنګونو امکانات هم کیدے شی. د یوسف زو، دله زاکو او غوریه خیلو تر منځهٔ به هم جنګونه شوی وی. څنګه چه د پخوانو خلقو جنګونه به هم د زمکو د پاره وو. او نن ورځ هم د زمکے د پاره جنګونه کیږی. په دے جنګونو کښے به د دلزاکو

د لاسه زېکې هم وتلې وې. او د دې جګړو په نتیجه کښې او د اقتصادي بدحالۍ د لاسه به دوی د خپلې علاقې نه په وتلو هم مجبور شوي وي. ولې نه خو د دې جګړو تاریخ معلوم دې. او نه دا واقعات په څۀ تاریخي شهادت مبني دي. کیدې شي چې د یوسفزو، غوریه خېلو او دلهٔ زاکو دا جګړې په ډېرې وړاندې زمانه کښې شوې وي. او د دې یاد د روایاتو په شکل کښې سینه په سینه محفوظ راغلې وي. او د زمانې په تېریدو سره د اصلي واقعاتو شکل بدل شوې او صرف زباني روایاتو تاریخي حیثیت موندلې وي. به هر حال د خابنې خېلو او غوریه خېلو قبائلو د مهاجرت واقعات نه خو په دې موجوده شکل کښې د تاریخي شهادت نه څۀ مرسته موی. او نه په دې شکل کښې د دې د واقع کیدو څۀ امکان کیدې شي په دې بنا دا واقعات د مبالغې او کمې زیاتۍ نه خالي نۀ دي. او د دې اشکال لو باعث هم دا شجرې دي.

خابنې خېل یا شیخاخېل:- د دې قبائلو نه مراد یوسف زي، مندړ، ترکلانړي، او ګګیانړي دي په دې قبائلو کښې مهمه قبیله د یوسف زو ده. د شجراتو په رڼا کښې د دې قبیلې مختصر حالات او د دوی د استوګنې د علاقو تفصیل په لنډو ډول دا شي دې:-

یوسف زي:- دا قبیله په خپل منځ کښې په دوو څانګو ویش ده. چې یو ته یوسف زي او بل ته مندړ وئیلې شي. د اخون درویزه د وینا مطابق د دې قبیلې مشر نیکۀ مند نومیدۀ. چې دوه ځامن ئې لرل. د یو نوم یوسف وو اولاد ته ئې یوسفزي وئیلې شي او د بل نوم عمر وو. د هغهٔ یو ځوی وو. مندړ نومیدۀ او اولاد ئې په مندړ یادیږي.

د روایاتو مطابق د یوسف پنځۀ ځامن وو چې عیسٰی، موسیٰ، مالي، اکو او اوریا نومیدل. د عیسٰی یولس ځامن وو. وئیلې شي چې یو ځل مغلو د دوی مال مواشي بیولې وو. او عیسٰی سره د خپلو ځامنو د مغلو په تعاقب کښې تلې وو. او د مغلو سره په جنګ کښې سره د نهو ځامنو مړ شوې وو. د دۀ دوه ځامن ژوندي پاتې وو چې د یو نوم حسن وو. اولاد ئې په حسن زي یادیږي. او د بل نوم یعقوب وو اولاد ئې په یعقوب زي



مشهور دې. د عیسٰی یو بل ځوی پس مرګې هم شوې وو. چې "اکا" نومیدۀ. اولاد ته ئې "اکازي" وائي. د عیسٰی د درې واړو ځامنو اولاد د کوه سیاه نه واخله د مهابڼ د غرونو پورې اباد دې. حسن زي او اکازي د اباسین په مشرقي غاړه او مداخېل د اباسین په غربي غاړه اباد دي.

د یوسف د دوو ځامنو (موسیٰ او مالي) اولاد په بونېر کښې اباد دې. د بونېر په قطب د سوات غرونه دي. قبله ته ئې سم "مانړیزي" غرخانة ته ئې اباسین او سویل ته ئې د چملې علاقه ده. د بونېر ګېر چاپېره غرونه دي. په دې غرونو کښې "ایلم" او "دوه سوې" د سمندر د څخ نه لس زره او یوولس زره اوچت دي. د دې غرونو په منځ کښې ځای په ځای کڅۍ دي. چې په هغې کښې کرکونده کیږي. د بونېر اب و هوا خوندناکه ده. په غرونو ئې اکثر ولاړې پرتې وي. د یوسف زو خلق په بونېر کښې په دې ډول اباد دي. غرخانة ته چغرزي، قطب ته ګدا زي، قبله ته سالارزي، سویل ته نورزي او په منځ کښې عائشه زي او دولت زي دي. د حضرت پیر بابا مزار د بونېر په پاچا نومې کلي کښې واقع دې. برندو د بونېر مشهور خوړ دې. چې د امب په مقام په اباسین کښې ورګډیږي. د بونېر علاقه نن ورځ د سوات په ریاست کښې شامله ده.

د روایاتو مطابق د یوسف د اوریا نومې ځوی په بادي مشهور وو ځکه چې ډېر متکبر وو. د اخون درویزه مطابق د تقسیم په وخت کښې دۀ خپلې مور ته سپک وئیلي وو. او هغې ورته ازار کړې وو. او د دې ازار له کبله د هغهٔ اولاد ډېر نه شو. او څۀ لږ ډېر په چغرزو کښې شامل دې.

د یوسف د څلورم ځوی (اکو) اولاد په کوز او بر سوات، دیر او پنجکوړه کښې اباد دې. د اکوزو دوه څانګې دي چې یو ته خواجه زي او بل ته رانړي زي وائي رانړي زي بیا په خپلو کښې دوه څانګې دي. سم رانړي زي او بر رانړي زي. سم رانړیزي د مقبوضه علاقې نه د مالاکنډ تر غرونو اباد دي. بر رانړیزي د مالاکنډ نه پورته دي. د خواجه زي مختلف څانګې په بر سوات کښې استوګنه دي. د دې بناخ یوه څانګه "ملي زي" په دیر کښې اباده ده.

سوات: - یوه سرسبزه او زرخیزه غرنیزه علاقه ده- چه رقبه یې څلور زره مربع میله وی- د سوات څنډې غرونه د سطح سمندر نه لس زره فټه اوچت دي. د سوات په قطب دیر او چترال، غرغانه ته یې د اباسیند غرونه، سویل ته یې د بونیر علاقه او د قبلې په لور یې ارنګ برنګ اتمان خیل او باجوړ دے- سوات د یوې تنګې درې په شکل کښې د غرونو په منځ کښې پروت دے - او په دوه حصو کښې تقسیم دے- یوې حصې ته بر سوات وئیلې شي او بلې ته کوز سوات- د دواړو په منځ کښې د سوات سیند بهیږي- دا علاقه ډیره زرخیزه او اباده ده- او د قدرتي ښکلا له مخه په ټول پاکستان کښې مشهوره ده- سکندر اعظم چه په ۳۲۷ ق-م کښې په هند حمله کړې وه- هغه وخت کښې چه د یوناني مؤرخینو له خوا په دے علاقه کښې کوم خلق اباد یاد شوي دي- د هغوی ذکر د "اساکیني" په نامه شوے دے- دے خلقو د سکندر سره شدید جنګونه کړي وو-

د اشوک د مذهبي شغف له کبله چه بده مذهب په اول وار د ګندهارا علاقې ته راورسید نو د سوات علاقه د خپل قدرتي محل وقوع او ښکلا له مخه د بده مذهب مرکز اوګرزیده- دا حقیقت د سوات په علاقه کښې د بده د زمانې د آثار قدیمه د پریوانۍ نه څرګند دے - په دے علاقه کښې چه د بده مذهب څومره آثار موندلې شوي دي او موندلے کیږي- دومره په بله یو علاقه کښې نه دي موندلي شوي- د دے نه علاوه د چیني سیلانیانو او زائرینو سفرنامې هم د دے حقیقت مرسته کوي په دے چیني زائرینو کښې وړومبے سیاح فاهیان دے- وړومبے په ۴۰۵ء کښې د کوه هندوکش په لار سوات ته راغلے وو- د ده د وینا مطابق په دغه وخت کښې په دے علاقه کښې د بده مذهب پنځه سوه خانقاهونه موجود وو- او په دغو کښې راهبان استوګن وو- د ده نه پس بل سیاح سُنګ یُن دے چه په ۵۱۹ء کښې د کافرستان په لاره سوات ته راغلے وو- دا هم دغه سیاح هم وائي چه په سوات کښې بده مذهب په ترقۍ روان دے- خانقاهونه اباد دي او خلق د مذهب سره مینه لري- سوات یو اباده او زرخیزه علاقه ده- او د خلقو کسب کروندګري ده-

بل مشهور سیاح هیون سانګ دے- چه د ۶۳۰ء نه د ۶۴۲ء پورې په



کاپیسا، ګندهارا او هند په لړ کښې ګرزیدلے دے- نوموړے سیاح سوات ته هم تلے وو- وے دغه وخت د افتالیتو (سپین پوستي هونان) د حملو په وجه په ټول ملک کښې بده مذهب ته صدمه رسیدلې وه- او د سوات علاقه هم د دے نه متاثر شوي وه- دے وائي چه د سوات سیند په غاړه څوارلس سوه خانقاهونه یا خو وران ده او یا شاړ پراته دي- خلق ډیر خوږه ژبانه او کارنده دي- د چین په سیلانیانو کښې اخري سیاح ووکنګ وو چه په ۷۵۲ء کښې سوات ته راغلے وو- او دلته په یو خانقاه کښې راهب شوے وو- د ده د لیکونه هم د هیون سانګ د لیکنو مرسته کیږي-

د یولسمې صدۍ (عیسوي) په اغاز کښې چه محمود غزنوي د پښتنو فوځونو (چه اکثر په غلجي، لودي او کرلاڼړي پښتنو مشتمل وو) په کومک په هند حملې شروع کړے- نو دغه وخت د پښتنو یو لښکر چه سردار یې پیر خوشحال نومیده- په سوات حمله اوکړه- او د سوات غیر مسلم "راجاګرا" ته یې چه پیاکړو احتمالاتو د هند د شاهي کورنۍ د راجا جے پال د لودي نه د سوات ګورنر وو، شکست ورکړو- او په دے علاقه یې په اول وار اسلامي سلطنت قائم کړو- د پیر خوشحال قبر د سوات سیند په مشرقي غاړه د "اوډي ګرام" په مقام موجود دے- د روایاتو مطابق د پنځلسمې صدۍ په اخر او یا د شپاړسمې صدۍ په اغاز کښې د یوسفزو قبائلو حملې په سوات شروع شوے- او دوی دا ټوله علاقه په قلاره اونیوله- په دے علاقه د قبضې نه پس د پښتنو مشهور مقسم شیخ ملي دا ټوله علاقه په دے قبیلو اووېشله- د شیخ ملي دا تقسیم د ۱۹۳۱ء پورے په پښتنو کښې مسلّم او مروج وو- وے د دے نه پس د سوات د باچا صاحب په حکم داویش قانوناً منسوخ اوګرزیدے شو او څوک چه په کومه زمکه قابض وو- هغه هم د هغې سره پاتے شوه-

د شپاړسمې صدۍ په اخر کښې د یوسفزو په علاقه د مغلو حملے شروع شوے په مغلو پسې د درانیانو او سیکانو دور راغے- وے په دوی کښې یو حکومت هم د دے جوګه وو چه په دے علاقه خپل اقتدار قائم کړي- په سیکانو پسې د انګریزانو وار راغے- انګریزانو هم د خپل اقتدار په وخت کښې په دے قبائلو څه برید او نه موندلو

په دے اوږده زمانه کښے د "ملوکانو نشاط سوات" څه رنګ چه د خوشحال خان خټک په وخت کښے د هغهٔ په الفاظو کښے یو وران "رباط" وو۔ دغه شان د سوات دا بنګلی علاقه د شلمے صدئ تر اغازه پورے د یوسف زو د کورنو او قبیلوی جګړو په وجه یو وران رباط وو۔ ولے د شلمے صدئ په اولنو کالونو کښے د دے علاقے قسمت راولېښ شو۔ او په سوات کښے د یو داسے نوی دور اغاز اوشو۔ چه بے مثاله د پښتنو په ریاستونو او قبائلی علاقو کښے د هغے مثال نه شی موندلے۔ د دے نوی دور بانی میاں ګل صاحب عبدالودود د سوات سابق باچا صاحب دے۔ میاں ګل صاحب د غیر معمولی صفاتو خاوند دے۔ او د خپل لوئ شخصیت او لویو کارنامو له کبله د پښتنو په تاریخ او د پښتون قام په مشرانو کښے ډیر لوئ مقام لری۔ د میاں ګل صاحب د کورنئ حال په لنډ ډول داسے دے:-

د سوات په شامیزی قبیله کښے عبدالواحد نوے یو سړے اوسیدهٔ۔ چه په قام صافی مهمند وو۔ د دهٔ کره غالباً په سنه ۱۷۸۴ء کښے یو هلک اوزیګیدهٔ۔ چه نامه ئے عبدالغفور کیښودلے شوه۔ دغه هلک وروستو په اولس کښے د سوات باباجیٔ د سوات اخوند صاحب او د "سید غوث" په نامو مشهور شو۔ دا هلک د ابتدا نه عبادت او ریاضت ته مائل وو۔ د ابتدائی تعلیم د حصول نه پس د زیات تعلیم حاصلولو په غرض د سوات نه د مردان علاقے ته راغے۔ او څه موده ئے په ګوجرګړی کښے علم دین حاصل کړو۔ څه موده ئے په ځوکنو کښے هم تیره کړه۔ او بیا د روحانی فیض د حصول په غرض د حضرت شیخ رحمکار کاکا صاحب په مزار کښے چله کشی هم اوکړه۔ او بیا د حضرت جی صاحب (پیښور) په خدمت کښے حاضر شو۔ او د هغوی د صحبت نه ئے فیض حاصل کړو۔ د دے نه پس تور ډهیری (صوابی) ته لاړ او د مولانا محمد شعیب رح نه ئے لاس نیوه اوکړه۔ او بیا خلوتیت کاله پس خپل وطن سوات ته راغے۔ او په سیپل بانډئ نوے یو کلی کښے ډیره شو۔ او بیا ئے په نیکپی خیلو کښے واده هم اوکړو۔ او په مستقل ډول په سیدو کښے استوګن شو۔ اخوند صاحب د خپل زمانے یو پرهیزګار او نیکو کار بنیادم وو۔ نو ټول اولس به ورله په ډیره درنه سترګه کتل۔ اخوند صاحب په سنه ۱۸۷۷ء کښے وفات



شو۔

د اخوند صاحب د وفات نه پس د هغهٔ په اولاد کښے اختلافات پیدا شول او د دے اختلافاتو په نتیجه کښے د سوات خلقو سید عبدالجبار خپل امیر مقرر کړو۔ نو موړے د سید اکبر شاه په نمسو کښے وو۔ په دے موقع د اخوند صاحب نمسو میاں ګل صاحب عبدالودود او شیرین جان چه اول په خپلو کښے وران وو۔ رضا شول۔ او د سید عبدالجبار شاه مقابلے ته تیار شول۔ د دوی تر منځه مقابلے اوشوه۔ چه د میانګلانو په ناکامئ ختمه شوه۔ د دے کورنئ اختلاف نه د دیر نواب فائده واخسته او په سوات ئے حمله اوکړه۔ او سید عبدالجبار شاه د هغه په مقابله کښے ماتے اوکړه۔ د دے واقعے نه پس د سوات خلق بیا میانګل صاحب ته مائل شول۔ او هغه ته ئے د حکومت دعوت ورکړو۔ او میانګل صاحب دا دعوت قبول کړو۔ چنانچه سید عبدالجبار شاه په احترام سره سمهانے ته اورسولے شو۔ او میانګل صاحب په کال سنه ۱۹۱۷ء کښے د نیکپی خیلو په علاقه کښے د "کبل" په مقام د سوات باچا منتخب شو۔ د دے نه پس میانګل صاحب په خپل ذاتی تدبر او شجاعت د خپلے لارے ټول خرخښه اوار کړل۔ او په ټوله علاقه کښے ئے امن او امان قائم کړو۔ انګریزانو هم میانګل صاحب په کال سنه ۱۹۲۶ء کښے د سوات والی تسلیم کړو۔

میانګل صاحب د غیر معمولی شخصیت خاوند وو۔ هغه په خپل تدبر او دور اندیشئ په یو داسے علاقه کښے د یو منظم حکومت په قائمولو کښے کامیاب شو۔ چه د هغے خلقو د سوونو کالو راسے د یو حکومت اقتدار ته هم غاړه نه وه ایښی۔ او په ډیره لږه موده کښے ئے خپل ریاست د ترقئ په لار روان کړو۔ په ریاست کښے ئے سړکونه تعمیر کړل۔ په ټول ریاست کښے د ټیلیفون نظام جوړ کړو۔ د خلقو د صحت او تعلیم په لور ئے په همدردئ او دلسوزئ توجه اوکړه۔ او د خلقو د ارام او سوکالئ په لړ کښے ئے د هر ممکن ذریعے او وسیلے استعمالولو نه دریغ اونه کړو۔ او خپل ریاست ته ئے په تاریخ کښے یو داسے اهم او لوئ مقام ورکړو کوم چه د دے بنګلی ریاست موزون حق وو۔ میانګل صاحب د خپے شپیتهٔ کالو په عمر کښے

د حکمرانۍ ټول اختیارات په خپله رضا خپل ولی عهد شهزاده محمد عبدالحق جهان زیب خان ته په کال سنه ۱۹۶۹ء کښې اوسپارل - او د دے نه پس د حکومت ټول کاروبار د ده په ذمه وارئ کښې چلیږي -

محمد عبدالحق جهانزیب خان یو روښن خیال حکمران او د اسلامیه کالج پېښور تعلیم یافته دے - او د خپل ریاست د هر اړخیزې ترقۍ سره ډېره مینه لري - په تېره تېره د تعلیم د توسیع حد په هورته خواهشمند دے - دغه وجه ده چه نن ورځ په دے ریاست کښې د دوو لویو مدرسو یو جال خور دے - په سیدو شریف کښې چه د ریاست صدر مقام دے یو عالی شان ډګری کالج هم جوړ دے - د ریاست د خلقو د پاره د ابتدائی تعلیم نه واخله تر اعلیٰ تعلیمه پورې مفت انتظام دے او دا یو داسې کارنامه ده چه د سوات حکمران پرې په ځائ فخر کولے شي - د تعلیم نه علاوه د صحت او د فلاح عامه د نورو کارونو په لور هم ډېره توجه کیږي - دغه وجه ده چه نن ورځ د سوات ریاست د ژوند په هر اړخ کښې مخ په ترقی روان دے -

دیر :- لکه چه وړاندې ښوئ دي - په دیر کښې د قبیله یوسفزي د "اکوزو" په خانګه کښې د خواجه زی ذیلی خانګه ملیزئي اباد دي - د دیر علاقه اکثره غرنیزه ده - د دیر نمر خاته ته دریائے سوات، د قطب نمر خاته په لور ګلګت او کشمیر، قطب ته ئے چترال او قطب قبلې ته ئے افغانستان او د قبلې په لورې باجوړ او سویل ته ئے مالاکنډ دے - د دے ریاست رقبه به درے زره مربع میل وي - د ریاست مشهور سیند پنجکوړه دے - چه په قدیم تاریخ کښې د رود ګوری په نامه ذکر دے - د ریاست ابادی به غالباً د شپږو او اوو لکو تر منځه منځه وي - دا ریاست د خپل محل وقوع له کبله د ډیر سیاسي اهمیت حامل دے -

د ریاست دیر د حکمران ټبر بانی ملا الیاس نومے یو سړے وو - چه د خپل زهد و تقوی په وجه د اخون بابا په نامه مشهور وو - او په ملیزو کښې د پاینده خېلو په ذیله کښې وو - په اولسمه صدۍ کښې ملا الیاس د دیر په علاقه کښې شهرت



نشینۍ ئے په حکومت کښې بدله کړه - او په دیر کښې ئے د ریاست بنیاد کیښود - د غلام خان نه پس په دے کورنۍ کښې د اقتدار خاوند قاسم خان وو - دے سړی په خپل وخت کښې کافی طاقت او اقتدار حاصل کړو - او خپل ریاست ته ئے توسیع ورکړو - په قاسم خان پسې رحمت خان د اقتدار خاوند وو - نوموړے په سنه ۱۸۸۴ء کښې وفات شو - او د ده په ځای محمد شریف خان په ګدۍ کښېناست چه د ده ځوی وو - په دے ورځو کښې د جندول حکمران حاجی عمرا خان ډیر اقتدار حاصل کړے وو - په سنه ۱۸۹۰ء کښې عمرا خان په دیر حمله اوکړه او محمد شریف خان ئے په ماتې مجبور کړو - په دیر د عمرا خان قبضه راغله -

په سنه ۱۸۹۵ء کښې انګریزانو د عمرا خان برخلاف فوځ کشي اوکړه - د دغه وخت محمد شریف خان هم د انګریزانو ملګرے وو - د محمد شریف خان او انګریزانو مشترکه جنګ د عمرا خان طاقت ختم کړو - د دے په بدل کښې انګریزانو محمد شریف خان د دیر حکمران اومنلو - او د هغه سره ئے معاهده اوکړه - د دے معاهدے له مخه د چترال د سړک ذمه واری محمد شریف خان په خپل سر واخسته - او په سړک باندے ئے د محصول وصولولو حق پرېښودلو - د دے په بدل کښې انګریزانو هغه ته لس زره روپۍ سالانه وظیفه مقرر کړه - او څلور سوه ټوپکونه ئے په انعام کښې ورکړل په سنه ۱۸۹۷ء کښې انګریزي حکومت هغه ته د نواب خطاب ورکړو - نواب محمد شریف خان په سنه ۱۹۰۴ء کښې وفات شو -

د پلار په ځائے اورنګ زیب خان چه په بادشاه خان مشهور وو د دیر نواب شو - حکومت هند ده له هم د نوابۍ خطاب ورکړو (سنه ۱۹۰۸ء) - په سنه ۱۹۱۸ء کښې حکومت هند د دے نواب سالانه وظیفه پنځوس زره روپۍ مقرر کړه - او د نوابۍ خطاب ئے د ده په کورنۍ کښې موروثي کړو - او د ده ځوی شاه جهان خان ئے ولی عهد اومنلو او هغه ته ئے د خان بهادرۍ خطاب ورکړو - نواب بادشاه خان په سنه ۱۹۲۵ء کښې وفات شو - او د هغه په ځائے شاه جهان خان نواب شو - دے د نوابۍ په معامله د ده سره خپل ورور عالم زیب خان مخالفت شروع کړو - د عالم زیب خان په مرسته د "خار" خان او د سوات میاګل صاحب وو - د دوی تر منځه مخالفت شدت اختیار کړو

اخر انګریزي حکومت د دواړو ورونړو تر منځ فیصله اوکړه او د عالم زیب خان د پاره ئے پنځه سوه روپۍ میاشت وظیفه مقرر کړه - او هغه د ریاست د حدود نه بهر کړے شو او د مردان په علاقه کښے استوګن شو -

د پاکستان د قیام نه پس د نورو ریاستونو او قبائلی علاقو په شان نواب شاه جهان خان هم د خپل ریاست الحاق د پاکستان سره اوکړو - وے نواب شاه جهان خان د یو عجیبه مذاق او مخصوص طبیعت خاوند وو - په موجوده زمانه کښے چه د اولس د بهبود او ښیګړے په لړ کښے په یو حکمران کوم فرائض عائدیږي د هغے په لور هغه هیڅ توجه نه کوله. د هغه وجه وه چه په ریاست کښے د موجوده زمانے د تعلیم د پاره هم څه منظمه طریقه او انتظام نه وو- او نه د اولس د ښیګړے په غرض چرته په ریاست کښے هسپتالونه وو- نه د سړک رانګ د ذرائعو په لور توجه کیدله - غرض دے شلمه صدۍ کښے هم دا ریاست د عهد وسطیٰ یو نمونه وه- حکومت پاکستان څو ځله د ریاست او رعیت په باب کښے نواب شاه جهان خان ته د هغهٔ د فرائضو په حقله یاد دهانی ورکړه- وے هر ځل به نواب د دے یادګیرنے په لور څهٔ توجه او نه کړه. په دے وجه حکومت پاکستان د هغهٔ په معزولولو مجبور شو- چنانچه په اکتوبر ۱۹۶۱ء کښے هغه د نوابۍ نه معزول کړے شو- او د هغهٔ په ځائے ولی عهد محمد شاه خان خرو نواب مقرر شو-

د دیر ریاست نه صرف د خپل محل وقوع له کبله سیاسی اهمیت لري بلکه د قدرتي دولت له مخه هم یو موړ پټ ریاست دے - وے د دے ریاست د قدرتي پټو خزانو نه کار نه دے اخستے شوے- توقع کیدے شي چه د نوي نواب صاحب په عهد کښے به د ریاست د دے قدرتي دولت نه په درسته او موزونه طریقه کار واخستے شي - او د خلقو د بهترۍ په کارونو کښے به استعمال کړے شي- د دیر موجوده نواب صاحب یو نوجوان تعلیم یافته انسان دے - او د موجوده زمانے د تقاضو او ضروریاتو نه ښهٔ خبردار دے - او د خپل ریاست د ترقۍ د جذبے نه سرشار دے - ځه وجه ده چه د خپل ریاست د همه ګیرے ترقۍ په کارونو کښے په ډیرے سرګرمۍ کوشش کوي- په ریاست کښے د تعلیم محکمه قائمه شوی ده- په ټول ریاست کښے سکولونه او هسپتالونه



کیا دی قائمیږي- د سړکونو تعمیر ته هم توجه کیږي- د ریاست د قدرتي پټو خزانو د راایستلو د پاره هم منصوبے تیاریږي- او په کوم جوش او ولوله چه د ترقۍ کاروانونه روان دی د هغے نه دا توقع کیدے شي چه د دیر د ریاست خلق به ډیر زر د خپلو نورو ورونړو عزیزانو سره په ترقۍ کښے اوږه په اوږه روان شي -

مندړ:- د یوسف زو بله څانګه مندړ ده- دا اولس د خپل مورث اعلیٰ په نامه مندړ مشهور دے - دوی د مردان په ضلع کښے ان د چلے پورے اباد دی-

چمله:- د چلے نمر خاته ته اباسینډ قبله ته ئے یوسف زی ، قطب ته ئے بونیر او سویل ته ئے مهابنړ دے- دا علاقه د یوے درے په شکل کښے پرته ده- میدان پکښے کم، ځمکه ئے نا هواره او غرنیزه ده- نن ورځ دا علاقه د سوات په ریاست کښے شامله ده- د امبیلے مشهور جنګ په سنه ۱۸۶۳ء کښے هم په دے علاقه کښے شوے وو- دا علاقه د مندړو مرکز دے- د چلے نه سویل ته د صوابۍ علاقه او د صوابۍ نه په قبله د مردان علاقه ده - او په دے ټوله علاقه کښے د مندړ مختلف څانګے اباده دی-

د مندړ څانګے:- د مندړ درے ځامن وو- چه منور، خضر او دځرنومیدل بیا د منور دوه ځامن وو- د یو نامه عثمان او د بل نامه اتمان وه- د عثمان هم دوه ځامن وو- د یو نوم کمال او د بل نوم امان وو- د کمال اولاد ته کمال زی ویلے شي چه په خپلو کښے په دوو څانګو کښے ویش دی- یو څانګه مشران زی دی او بله ته کشران زی ویلے شي- د طورو خانان په مشران زو کښے شامل دی - او د هوتي مردان خانان په کشران زی کښے - په مشران زو کښے اکوزی هم شامل دی- چه د عنایت خان د درے ښځو اولاد دے او په معیارو کښے استوګن دی-

د اتمان اولاد هم دوه بناخه دے- په یو بناخ کښے اکازی، کنازی او علی زی شامل دی- دوی ته اتمان نامه ویلے شي او د اباسینډ په غاړه د مهابنړ په سویل اباد دی- توړۍ ، مینۍ ، کوټه او مرغز د دوی په علاقه کښے مشهور کلی دی- په دویم بناخ کښے د سدو اولاد دے- دوی د اتمان نه په قبله پراته دی- د سدوزو ډیلے بناخونه په دے ټوله اباد دی-

اباخیل:- په کڼوړه، زیده، هنډ او شاه منصور کښې. عمرخیل په کالا، ډاگئ، صوابۍ، مانیرئ کښې میر احمد خیل په مرغز، ټوپۍ، کوټې او سلیم خان کښې، بهزاد خیل په کلابټ کښې او خدو خیل په پنجتار، ډاګۍ، توتالۍ، باجا او بام خیل کښې اوسېږي.

سرخوړی:- دا ټپه په پنځو څانګو کښې وېش ده. مانړزی، ملک زی، اکوزی، خضر زی او محمود زی (ماموزی).

مانیزی:- په ډاګۍ، تورلاندۍ، ترکۍ، پرمولی او ادینه کښې ملک زی په یارحسین، شیردره، یعقوبي کښې، اکوزی په دوبیانو، سره چینه او اسمٰعیله کښې، خضرزی په شیوه، کالو خان، شیوه غونډۍ کښې، محمود زی په نوی کلی، شیخ جانا، اسوټا او نارنجي کښې اباد دی.

ترکلانړي:- د اخون درویزه د روایت مطابق د شیخا دوه بنځې وې. د یوې نوم مرجانه وه، یوسف زی، مندړ د دې اولاد دې. د بلې نامه بسو وه. چه یو ځوی ئې لرلو. نامه ئې ترک وه. او اولاد ته ئې ترکانړي یا ترکلانړي ووئیلې شي. او نن ورځ په باجوړ کښې مېشته دي.

باجوړ:- د باجوړ علاقه په اندازاً څه پنځوېشت میله اوږده او څه شل میله په پلنه وه. د دې علاقې قطب ته د پنجکوړې سیند دې. قبله ته ئې وادۍ کونړ او نمرخاته ته ئې اتمان خیل او مهمند دي. د سویل په لورې هم د مهمند علاقه ده. د باجوړ علاقه په پنځو حصو کښې تقسیم ده.

(۱) چارمنګ (۲) بابوکاره (۳) سودکمر (۴) رود (۵) وادۍ میمونډ.

په دې علاقه کښې اکثر یوسف زی او ترکانړي اباد دي. د "رود" په غاړه کښې څه صافیان او اتمان خیل هم اوسېږي دي. په چارمنګ، بابوکاره او وادۍ میمونډ کښې سالارزی (یوسف زی) او ترکلانړي اوسېږي. د جندول غاړه د پنجکوړې سیند او نواګۍ تر منځ ده. دا غاړه په اندازاً اته میله اوږده او څلور میله پلنه وی. دا علاقه د خپل یو تېر حکمران عمرا خان د شانداره کارنامو په وجه ډېر شهرت لري. عمرا خان یو ډېر فهیم، مدبر او شجاع انسان وو. د پلار نامه ئې عباس خان وه. د پلار د وفات نه پس د عمرا خان او د هغه د مشر ورور شیر عالم خان تر منځ



د اقتدار دپاره کشمکش شروع شو. چه په هغې کښې عمرا خان کامیاب شو. او د سنه ۱۸۸۲ پورې ئې د خواوشا په علاقو خپل اقتدار قائم کړو. او تقریباً د دیر نیم ریاست ئې په خپله قبضه کښې راوست. او بیائې په سنه ۱۸۹۰ کښې په دیر حمله اوکړه او نواب محمد شریف خان ئې د دیر نه په وتلو مجبور کړو. د هغه وخت کښې د عمرا خان اقتدار انتهاته رسیدلې وو. عمرا خان د خپل وخت یو مدبر او جان باز حکمران وو. هغه د خپل ریاست د حفاظت په غرض کښې ځائې په ځائې مضبوطې قلاګانې جوړې کړې وې. فوځ ته ئې په نوی طریقه تربیت ورکړې وو. او د اعلیٰ قسم وسلې ورله مهیا کړې وه. د دیر د قبضې نه پس هغه د چترال په لور هم پېش قدمي اوکړه په دې بنا انګریزانو د هغه د اقتدار ختمولو اراده اوکړه. او د "چترال ریلیف" په نوم ئې په عمرا خان فوځ کشي اوکړه. د دې په نتیجه کښې عمرا خان افغانستان ته په تلو مجبور شو او باقي عمر ئې د امیر عبدالرحمٰن خان سره تېر کړو د سنه ۱۸۹۵ ع).

هم په دغه کال د مالاکنډ ایجنسي قائمه شوه. په ابتدا کښې په دې ایجنسۍ کښې د دیر او سوات علاقې شاملې وې. ورستو د چترال علاقه هم د دې سره تړل کړې شوه. دا ایجنسي د مرکزي حکومت هند براه راست ماتحت وه. په سنه ۱۹۰۱ء کښې چه د شمال مغربي سرحدي صوبه تشکیل شوه نو دا ایجنسي د دې صوبې د چیف کمشنر په نګرانۍ کښې ورکړې شوه. د قیام پاکستان نه پس د وحدت مغربي پاکستان په جوړېدو دا ایجنسي اوس د مغربي پاکستان د ګورنر په نګرانۍ کښې ورکړې شوې ده.

ګګیانړي:- دا قبیله د خپلې مور په نامه مشهوره ده. د روایاتو مطابق د "شیخا" او مرجانې دوه ځامن وو. د یو نامه مند وه چه اولاد ئې یوسف زی او مندړ دي. د بل نامه مک وه. د ده یوه لور وه چه ګاګۍ نومیده. او په "زیرکۍ" نومې یو سړي واده شوې وه. د ده اولاد اوس په ګګیانړي مشهور دې. د "مک" د ځامنو اولاد ډېر نه شو. او هغه هم په ګګیانړو کښې ورګډ دي. په موجوده وخت کښې ګګیانړي د پېښور په ضلع کښې د دواوې په زمکه مېشته دي.

# غوریاخیل

د روایاتو مطابق "د کند" د دریم ځوی اولاد په غوریاخیل یادیږی. د غوریاخیلو څلور ځامن وو. چه دولت یار، خلیل، څوکئ او زیرانی نومیدل. بیا د دولت یار دوه ځامن وو. د یو نوم مهمند او د بل نوم داؤد وو.

د مهمند کوم اولاد چه په میدانی علاقه کښې استوګنه لری. هغوئ ته کوز مهمند او کوم چه په غرنیزه علاقه کښې اباد دی هغوی ته بر مهمند وئیلې شی. په اصل کښې دواړه یو دی. مګر د زمانې په تیریدو سره په دوی کښې نن ورځ څه تعلق پاتې نه دے. د بر مهمندو څه خلق د کونړ سیند په دواړو غاړو او د ننګرهار په علاقه کښې هیشته دی. باقی حصه ئې د مهمندو په ایجنسئ کښې د شمشا، سلالا او کسی غرونو په لړ کښې اباده ده.

د مهمندو کټئ د غرونو په منځ کښې واقع ده. ځائې په ځائې پکښې دړې دړې دړے دی. د دوی په علاقه کښې شمشا او ایله زی مشهور غرونه دی. د "خاپش" کرپې او "نکنړی" تاریخی کنډرونه هم د دوی په علاقه کښې دی. کوز مهمند د پیښور په علاقه کښې د باړے سیند په کسه غاړه په کچوړئ او میره کښې اباد دی.

د مهمندو د علاقې نه نمرخاته او قطب نمرخاته ته اتمان خیل او باجوړ قطب ته ئې د باجوړ او کونړ څه حصه او د قبلې په لور ئې هم د کونړ څه حصه او د ننګرهار علاقه سویل قبله ته ئې د خیبر ایجنسی او سویل نمرخاته ته ئې د پیښور ضلع ده.

د بر مهمندو علاقه غرنیزه او کاڼیزه ده. غرونه ئې یخ او میدانی علاقې ئې ګرمه ده. لعل پوره، کامه، ګوشته، د دوی مشهور کلی دی. د شبقدر نه چه جلال آباد ته کومه لار تلی ده. هغه تړله د مهمندو په علاقه کښې تیریږی. د دے خلقو د کرونګے زمکه کمه ده.

داؤدزئ:- د دوی نه په قطب مهمنزی پراته دی. او قبله په سویل ترنه خلیل دی. دوی د خلیلو نه په شمیر کښې زیات دی. د غوریه خیلو د مهاجرت په لسه کښې د دوی کردار واضح نه دے. وئیلې شی چه دوی د خان کچو مرسته حاصله کړې وه او د هغه په برکت د سمے په علاقه کښې د کلپانړئ په غاړه استوګن شوی وو. ورته په



اخر کښې دوی د پیښور په قطبی علاقه کښې د کابل سیند د بناخولو په منځ کښې اباد شول د دوی دا علاقه ډیره اباده او زرخیزه ده.

خلیل:- د خلیلو موجوده علاقه په تقریباً شل میله اوږده او لس میله پلنه ده. د خلیلو ملکانو ته "ارباب" وئیلې شی. تهکال، پښته وړئ او لنډئ د دوی په علاقه کښې مشهور کلی دی. د دوی اکثرے زمکے د باړے په اوبو سیرابیږی.

څوکئ یا چمکنی:- د اخون درویزه په روایت څوکئ په ابتدا کښې د خپلو ورونړو نه مرور شوی وو د سپین غر په لمنو کښې ئې استوګنه اختیار کړې وه. د څوکنو په نمرخاته افریدی سویل ته ئې اورکزی او قبله په سویل ئې "توری" اباد دی د دوی قطب ته سپین غر دے. دا خلق په وادئ خرمنه او کرمان کښې اوسیږی ډیر کارګر، جنګیالی او کینه ور خلق دی. بنځې ئې ټول کارکوی. د بهر علاقو سره د دوی تګ راتګ ډیر کم دے. د دوی علاقه ډیره یخه ده. ځکه د دے خلقو باسم اکثر د ویځه دی. څوکئ ټول سنی مذهب دی. او په خپل منځ کښې ښه متحد دی. د څوکنو یو کلے د پیښور په ضلع کښې هم شته چه د حضرت میاں عمرؒ د مزار په وجه مشهور دے.

زیراني:- د دوی ځنې ټبې د تاجکو سره ګډې وډې په ننګرهار کښې اوسی او ځنې ټبې لکه پهاړ خیل، دولت خیل، احمدخیل او تار خیل وغیره د برو مهمندو سره په غم ښادئ کښې شریکې دی.

# د ځمند اولاد

د خرشبون د یو ځوی (کنډ) د اولاد حال خو بیان شو. اوس د هغه د بل ځوی (ځمند) د اولاد حال په مختصر ډول واورئ.

لکه چه د شجرے نه معلومیږی د ځمند اولاد څلور څانګے دی. یعنی خویشکی، کانسی، مهمنزی او توخی. د روایاتو مطابق مهمنزی د ابتدا نه د خابنی خیلو په ډله کښې شامل وه. د ولدئ پیښور په استوګنو پښتنو قبائلو کښې د ځمند په اولاد کښې د مهمنه نه علاوه بله مهمه قبیله د خویشکو ده. د روایاتو مطابق دا خلق هم په ابتدا کښې د ارغستان

د علاقې سره جوخت د پښين په ځمکه اوسېدل. وړې ځه رنګ چه وادۍ پېښور دا لور بلول قبائل (د روایاتو په بنا) د ترینو د غلبې نه په مهاجرت مجبور شوی وو ځکه شان دا خلق هم ترینو د خپلې ځمکې نه بې دخله کړل. د خویشکو ځینې خلق د پښين نه ملتان ته لاړل. او هلته اباد شول. ځینې غزنی ته لاړل او بیا د هغه ځاے نه کابل ته او بیا د کابل نه دره غوربند ته اورسېدل. او هورې اباد شول.

د خویشکو قبیله تر ډېره حده د بابر سره مربوطه ده. د هندوستان په اخري حمله کښې د بابر اکثر فوځونه په پښتنو مشتمل وو. او په دوی کښې زیاته حصه د خویشکو وه. دا خلق د خپل یو سردار سلیم خان په مشرۍ کښې د بابر په مرسته کښې د پاني پت په جنګ کښې د ابراهیم لودی سره جنګېدلی وو. د غه وجه ده چه بابر او د هغه نه پس د هغه ځوی همایون په دوی ډېر مهربان وو. د خویشکو د قبیلې کوم خلق چه د بابر سره هند ته تللی وو هغه خلق نن ورځ په "افاغنه قصوریه" مشهور دی. او د ستلج سیند په دواړو غاړو اباد دی. د خویشکی والو ځینې ټپې لکه بټک زی، حسین زی، شهابت زی، سلاک او کزلانی د قصور په قبله اباد شوے وے. دوی ته به ئے د بړکلی استوګن ویل. او ځینې ټپې لکه عزیز زی، جوځی او ابراهیم زی وغیره د غرخانه په لور اباد وو. او دوی ته به ئے د لرکلی استوګن ویل. څه موده پس دا خلق په خپلو کښې اونښتل. او د دوی ځینې ټپې په خورجه، ټانوه او هیرو وال کښې اباد شوے. دا خلق تر اوسه په "افغانان قصوریه" مشهور دی. اګر چه دوی نه په پښتو ژبه یو هیږی او نه ئے جامه د پښتنو په شان ده. د خویشکو ځینې خلق په پښين او قندهار کښې هم اباد دی. د دوی یو قبیله په دره غوربند کښې استوګنه ده. او ځینې خلق ئے د نوښار په تحصیل کښې د نوښهره کلان په تطب د لنډی سیند په غاړه په خویشکی نومې کلی کښې اباد دی. د پښتنو مشهور صوفي شاعر "ارزاني" چه د بایزید انصاری (پیر روښان) همعصر او مرید وو. د خویشکو په قبیله کښې د عزیز زی په ژبه کښې وو.

کاسیان :- لکه چه د شجرے نه معلومیږی کاسیان په یو ولسو ځانګو کښې وېش دی. چه د شیخوارو قبیله هم په دوی کښې شامله ده. لکه چه د پښتنه خزانے



د روایت نه معلومیږی. د خرشبون په اولاد کښې چه د کنډ او جمند اولاد د غوښتے مرغه نه د غزنی، کابل او بیا د وادۍ پېښور په لور مهاجرت اختیار کړو. نو د غه وخت کاسیان بیرته کوه سلیمان ته لاړل او هورې مېشته شول. البته د دوی یوے قبیلې (شیخوارو) د خا بنی خیلو سره مهاجرت اوکړو. او د خیبر نه په قطب سویل غرونو کښې مېشته شول. د دوی علاقه د کابل سیند بنی لوری ته د پېښور او جلال اباد ترمنځ ده. اکثر شیخواری د خیبر نه په قطب غرونو کښې اباد دی. مګر د دوی یوه قبیله سنګو خیل د سپین غر په قبلېزه غاړه کښې د ځوګیانړو سره اباده ده. د دوی ځینې خلق په باجوړ، کونړ او دره شینکل کښې هم اباد دی. د هزارناو سیند د دوی په علاقه کښې بهیږی. د دره خیبر په دتالو کښې شیخواری یوه مشهوره قبیله ده. لنډی کوتل د دوی د علاقې مرکز دے. په کوهاټ کښې هم د شیخوارو ځینې خلق استوګن دی. د دوی ځینې خلق په کشمیر کښې هم اباد شوی دی

# دویمه طبقه

غورغشتی قبائل :- دا قبائل د خپل مورث اعلیٰ غورغشت چه د قیس عبدالرشید دویم ځوی وو په نامه مشهور دی. د روایاتو مطابق غورغشت د ۳۸۸ھ په خوا و شا کښې ژوندے وو.


د غورغشت درے ځامن وو. یعنی دانی، بابی او مندو. په دوی کښې د دانی اولاد زیات مهم ګڼړے شی. د دانی په اولاد کښې مهمه قبیله د کاکړو ده چه ذکر به ئے وروستو اوشی.

بابی :- دا قبیله په قلات کښې اباده ده. ځینې د کوټه په خوا و شا کښې هم اباد دی. د جوناګړه نوابان د دے قبیلې سره تعلق لری.

د مندو اولاد په مندوخیل مشهور دے.

# د غورغشت نسب نامه

## غورغشت






لکه چه وړاندې وویل شوی دی په غورغشتو کښې د دانۍ اولاد او د دانۍ په اولاد کښې کاکړ مهمه قبیله ده- د روایاتو مطابق د دې قبیلې مورث اعلیٰ کاک نومیده- چه یو خدا رسیده او نیک انسان وو- او د غیاث الدین غوری په زمانه کښې وفات شوے او قبر ئے د هرات د جامع مسجد په دروازه کښې موجود دے- ولے دا خبره درست نه معلومیږی- کاکړ لویه قبیله ده- د دې خلقو په ژبه کښې ځنې ډیر پخوانی الفاظ او د دوی په عدت کښې ځنې داسې زاړه رسمونه موجود دی چه د هغې نه د دې خلقو قدامت معلومیږی- البته دا ممکنه ده چه کاک نیکه به په دې اولس کښې یو مشر تیر شوے وی- په موجوده وخت کښې کاکړ قبیله د سرو غرو او سنډیا په دوو څانګو کښې ویش ده- د دې دوارو څانګو نه بیا نورې ډیرې ذیلې خورې شوی دی- دا خلق د کوټې د ویژن په ځلو دو وارو ضلعو کښې اباد دی- په ضلع هزاره کښې هم شته- د مشرقی پنجاب په قصبه کوهانه، خورجه او بلند شهر کښې هم کاکړ استوګن دی- څه لږ شان په دکن کښې هم شته- هیبت خان کاکړ چه د خان جهان لودی د لوری نه "سمانا" حاکم وو- او د مخزن افغانی په تالیف کښې لویه برخه لری- د سنډیا څانګې سره وو-


ناغر:- وړه قبیله ده- اوس په کیتهرانو کښې ورګډه ده- د پښتنو د یو تاریخ (صولت افغانی) لیکوال نردادخان د دې قبیلې غړے وو-

پنړی:- دا هم د کاکړو په شان مشهوره او قدیمه قبیله ده- او چرې ئے تر ویدی زمانې رسی- د دوی ځنې خلق په افغانستان کښې او ځنې په دکن کښې هم استوګن دی- په دې قبیلې کښې د خانی کور د ذیلې څانګې بارو زی سره تعلق لری-

# نسب نامه دګدون

د شجراتو مطابق ګدانه هم په غورغښتو کښې شامل دی۔ ولې د روایاتو مطابق دا خلق د ابتدانه د خابني خیلو په ګوندۍ کښې شامل شوی دی۔ او د قبائلي مهاجرت په زمانه کښې د یوسفزو مندړو سره دې علاقې ته راغلي دي۔ دګدون شجره په دې ډول ده:-

## ګدون





ګدون قبائل لکه چه د شجرې نه معلومیږي دوه بناخ دي۔ چه یو ته سالار او بل ته منصور وائي۔ د سالار ښاخ خلق اکثر د هزارې په غرونو کښې ات تر "وش" پورې اباد دي۔ د دوی علاقه ډیره زرخیزه او سوسبزه ده۔ د ګدون د دواړو ښاخونو ترمنځه اکثر بدی وی۔ د روایاتو مطابق دګدون قبائلو د مورث اعلیٰ نوم اشرف وو۔ چه په ګدانے مشهور شو۔ ورستو دا لفظ ګدون یا جدون مشهور شو۔ دا خلق اکثر د مهابني په غره کښې اباد دي۔ د مردان په ضلع کښې د بابینړۍ په کلي کښې هم د دوی ابادی شته دے۔ بر بره په کشمیر او د کیمبل پور په علاقه کښې هم موجود دي۔ د چهچه په علاقه کښې د غورغښتو کلي د اشرف ګدون اباد کړه بیا نیږی۔



# دریمه طبقه

III بیټني قبائل:-

## بیټن یا بیټ (ابن قیس عبدالرشید)




د روایاتو مطابق بیټن د قیس عبدالرشید ځوی دے۔ نومورے د بیټ نیکه

په نامه هم یادیږي. د زیږیدنې او مړینې نیټې ئې معلومې نه دي. البته د پټې خزانې د روایت مطابق د خرشبون د ژوند په موده کښې دے هم څه موده ژوندے وو، خرشبون په سنه ۱۱۲ هـ کښې وفات شوے دے. نو د دے شهادت په بنا مونږ د بیټ نیکه د مړینې نیټه د څلورمې صدۍ هجري اخري کالونه ګڼلے شو. بیټ نیکه یو خدا پرست انسان وو. په ځلمي توب کښې ئې د عراق او عربستان سفر کړے وو. او د دے ملکونو د نیکو خلقو د صحبت نه ئې فیض حاصل کړے وو. بیټ نیکه ته په پښتنو کښې د یو ولي الله په سترګه کتلے شي. د سلیمان ماکو په تذکرة الاولیاء (د سنه ۶۱۲ هـ تالیف) کښې دا مناجات د شیخ بیټ نیکه سره منسوب دے. دا مناجات به دلته په کسی غر کښې ویلو:-

| | |
|---|---|
| لویه خدایه لویه خدایه! | ستا په مینه په مرضایه |
| غرولا پړې درناوی کښې | تو له ژوی په زاری کښې |
| دلته دي د غرو لمنې | خوږ کیږ دے پکښې پلنې |
| دا وګړے ډیر کړے خدایه | لویه خدایه لویه خدایه |
| دلته لږ خوږ او ربل دے | وړی کوډکے دے وړی پوړ جل دے |
| مینه ستا کښې مونږ میشته یو | د بل چا په مله نتلنه یو |
| هسک او مزکه نغښته ستا ده | د مرو وده هم له تا ده |
| دا پالنه ستا ده خدایه | لویه خدایه لویه خدایه |

د بیټ نیکه په ځامنو کښې د ورسبون او کجین اولادته بیټني ویلے شي. د روایاتو مطابق دا خلق په اول کښې د کوه سلیمان په لړ کښې اباد وو. ولے څه موده پس دوی د غلجیو د لاسه د خپلې زمکې نه بے ځایه شول. او د کوه سلیمان په غرخاته لور د رود ګومل په غاړه او د ټانک په زمکو میشته شول. په هند کښې د پښتنو د سلطنت په زمانه کښې دا خلق د لوئې اقتدار خاوندان وو. او د سلطنت په فوځونو کښې په ډیر شمیر کښې شامل وو.

## څلورمه طبقه


متوزي قبائل:- د روایاتو مطابق بي بي متو د شیخ بیټ لور وه. چه په شاه حسین غوري



واده وه. د دے اولاد په متوزي مشهور دے. او د دے نه مراد غلجي او لودي قبائل دي. د دوی شجره په دے ډول دی:-

متوزي قبائل په دوو څانګو کښې ویش دي (ا) غلجي قبائل (ب) لودي قبائل.

څلورمه طبقه ـ متوزي (اوله څانګه). (ا) ـ غلجي قبائل:-



غلجي قبائل - ۲ - برهان بن غلجي

# متوزي اوله ښاخانګه

## برهان








غلجي قبائل

# متوزي اوله ښاخانګه

## علي خيل (ب)








# متوزی


غلجی قبائل

## ترکی بن موسیٰ بن ابراہیم بن غلجی



# متوزی دویمه څانګه


لودی قبائل






# متوزی دویمه څانګه

لودی قبائل



# متوزي دويمه څانګه


لودي قبائل






# متوزي دويمه څانګه

لودي قبائل




# متوزی دریمه څانګه

لودی قبائل

## نیازی بن ابراهیم لودی

### نیازی







# متوزی دریمه څانګه

لودی قبائل

## نسب نامه د سروانړي بن شاه حسین غوری

### سروانړے



# متوزي يا متې زي قبائل (غلجي او لودي پښتانه)

د پښتنو مؤرخينو د روايتونو مطابق شاه حسين نومے يو سړے چه د غور د شاهي کورنۍ سره ئے تعلق لرلو - په څۀ عجيبه اتفاقاتو د شيخ بيټ کره په استوګنه مجبور شوے وو - او د دے استوګنے په نتيجه کښے شيخ بيټ هغۀ ته خپله لور بي بي متو وادۀ کړې وه[1] - د شاه حسين او بي بي متو نه دوه ځامن اوشول - چه ديو نامه غلجي او د بل نامه ابراهيم وه - دغه ابراهيم ورستو په لودي مشهور شو - د شاه حسين د بلے ښځے نامه مهځۍ وه چه د "کاغ" دوړ لور وه - د هغے هم يو ځوی وو چه نوم ئے سروانړے وو - اولاد ته ئے سروانړي ويلے شي -

د غلجي قبائلو حال :- د روايا تو مطابق د دوی مورث اعلیٰ غلجے وو - د کابل سيند په کڅۍ کښے د ننګرهار پورے او د هندوکش غرۀ په لړکښے سوېل ته او د سپين غرۀ په ځنځيرکښے قطب ته هغه تهے ورے وړے کڅۍ چه د کابل سيند لوئے کڅۍ سره يو ځائے شوی دی په هغے ټولو کښے د غلجيانو قبيلے ځائے په ځائے اباد دی - د دوی علاقه په د قطب نه د سوېل په لور ابتداءً يو سل او اتيا ميله اوږده او د قبله نه په د نمر خاتۀ په لور اتيا ميله پلنه وی - ذويرے ئے قبله په سوېل دے دا علاقه اکثر غرېزه او واوريزه ده - د دوی په پوله قبيلے ته مشرق ابداليان، قطب ته ئے هزاره قبيلے، نمر خاتۀ ته ئے غوريا خيل او سوېل ته ئے کسی غر دے غلجي قبائل د هوتکو او توخيانو په دوو غټو څانګو کښے ويش دی - او دواړو

---

[1] د شاه حسين او بي بي متو په حقله چه شجره نويسو کوم افسانه وضع کړې ده - هغه بيخي غلط ده - او د دے وجه دا معلوميږی چه دے شجره نويسو د هرے قبيلے د تسميه د پاره څۀ وجه ليټولے ده - او په دے بنا ئے د غل زی ( غل زوی ) د مطابقت په غرض دا افسانه وضع کړې ده - دغه شان د ابراهيم لودي سره منسوبه افسانه هم بے بنياده ده - په اصل کښے دا دواړه قبائل د هياطله يا سپين پوستی هونانو اولاد دے او دا هغه خلق دے چه فارسی او عربی مؤرخينو د خلج او خلجي په الفاظو ياد کړی دی



ترمنځه اکثر بدی وی - په کومو ورځو کښے چه نادر شاه افشار په قندهار قبضه اوکړه - نو هغه وخت هغۀ د هوتکو يو نيم زر کهے ايران او ترکستان ته جلاوطن کړے او دغه شان ئے د دوی جمعيت او زور کم کړو - باقی هوتک اکثر په مرغه، باديے او د سور غر په دواړو اړخونو کښے پاتے شول - د هوتکانو علاقه د قندهار نه په قطب نمر خاتۀ خلور پراوه او د قلات غلزی نه سوېل نمر خاتۀ ته په يو پراو پورته ده -

توخيان د رود "ترنک" په کڅۍ کښے د پل سنګی نه تر شيبارۀ پورے پراته دی - د غلجيانو په ټولو ټبو کښے د سليمان خيلو څانګه په شمير کښے زياته ده - د سليمان خيلو څلور بناخونه يعنے قيصر خيل، اسمٰعيل زی، احمد زی او سلطان زی ډير مشهور دی - د دوی علاقه په دوؤ حصو کښے تقسيم ده - په مويلی حصه کښے ادين خيل، ننو خيل، قلندرخيل، شکی خيل، شاقوړی، جلال خيل، ممش او موت خيل اباد دی - او په قطبی حصه کښے سلطان زی (ستان زی) او احمد زی استوګن دی - د ستانی زی څخے ټبے لکه جبار خيل، بابکر خيل په جګدلک، سرخ رود او کندمک کښے اوسيږی - څه قدر جبار خيل په لمغان او علی سنګ کښے هم شته - احمد زی په مشرق لهوګره، سپيګۍ او سرخاب کښے اباد دی مګر د خوړنے د پاره مال مواشی تر جلال اباده بيائی - علی خيل څه په ذُرمت او څۀ په مکور کښے استوګن دی - دا خلق اکثر پاونده دی - د دوی څخے خلق لمسی او غوندی جوړوی - د اندړو ټبه په ششيګره کښے اباده ده - څخے په جان مراد کښے هم استوګن دی - د دوی يو بناخ جلال زی په ذُرمت کښے او يو کلے ئے په شيبار کښے هم شته - د کاکړو يو ټبه چه په موسیٰ خيلو مشهوره ده په اندړو کښے شامله ده - او د ششيګرے په قبله د هزاره جات غرونو سره جوخته اوسيږی.

ترکی :- په شماره د اندړو نه زيات دی - دا خلق اکثر مستقل استوګن دی - او کوچيان پکښے کم دی - اسحاق زی چه په سهاک هم مشهور دی - څخے په ذرمت کښے، څخے په لمغان کښے او څخے په بګه توت او تګاؤ کښے اباد دی - دوی لږ د هندوکش په دروکښے هم استوګن دی - خدر زی په مکور کښے د علی خيلو سره

اباد دی۔ دوی اکثر د کر کروندے کار کوی۔

په غلجیانو کښې ځنې داسې قبیلې هم شامل دی چه هغوی خپل ځانونه دغلجیانو همقوم ګڼړی وے غلجیان د دے خبرے نه انکار کوی۔ داسې قبیلې ناصر، خروټي، خدرزی او زمریانی دی۔

ناصر:۔ خپل ځان په هوتکو کښې شامل شمیری۔ لیکن هوتک دوی خپل هم قبیله نه ګڼړی۔ د ناصرو مشهورو قبیله دا دی، داود خیل، اتمان خیل، ملیزی او بناخوند بیا په خپلو کښې نورو وړو وړو بناخونو کښې تقسیم دی۔

خروټي:۔ هم خپل ځانونه په غلجیانو کښې شامل شمیری۔ وے غلجیان د دے نه انکار کوی۔ دا خلق د سلیمان خیلو نه نزغانه ته اباد دی۔ اکثر زمینداری کوی ځنې کوچیان هم دی۔ د دوی علاقه د کمه واز نه زیاته اباده ده۔ وے فصل پکښې لږ کیږی ځکه چه د دوی فصلونه د دے میاشتې په واورو کښې پټ وی، غوا، غویان، ګډے، بزے او اوښان د دوی لوئ دولت دے۔

خدرزی:۔ په مکور کښې د علی خیلو سره اباد دی۔ اکثر زمینداری کوی۔

زمریانی:۔ اکثر د توخیانو په علاقه کښې اباد دی۔ مګر له کابله تر قندهاره پورے ځائے په ځائ موندے شی۔ دا خلق اکثر د کر کروندے کار کوی۔ او ځنې خلق ئے سوداګران هم دی۔

اګر چه دا خبره په وثوق سره معلومه نه ده چه د حاجی میرویس نه وړاندے د غلجیانو مشر څوک وو۔ البته دو مره یقینی ده چه د شهنشاه شاه جهان او بیا د اورنګ زیب په زمانه کښې ملک ملخائے چه د سلطان ملخائے په نامه هم مشهور دے۔ د شهنشاه اورنګ زیب د لوری نه د قلات او قرتو د لارے په حفاظت مامور وو۔ لو مورے د غلجیانو د توخی ځانګے سره تعلق لری۔ سلطان ملخائے د ابدالی سردار خداداد سلطان سدوزی همعصر وو۔ او د دے دواړو مشرانو په صلاح او جرګه د "جلدک" په خواو شا کښې ولاړ ګرم آب د غلجیانو او ابدالیانو ترمنځه پوله مقرر شوی وه۔ او د دے قبیلو تر منځه دا تقسیم تر اوسه مستند ګڼړے شی۔



"سلطان ملخائے" د انځرګی او سرخ رود ترمنځه په جنګ دروازه کښې اووژلے شو۔ او د هغه نه پس د هغه ځوی حاجی عادل د قام مشر شو۔ او تر ډیرے مودے د قام مشر وو۔ د ده نه پس "بائی خان" چه د حاجی عادل ځوی وو د غلجیانو مشر شو۔ بائی خان هم په یو جنګ کښې اووژلے شو۔ په ده پسے شاه عالم چه د علی خان ځوی او د بائی خان ورارهٔ وو د قام مشر شو۔ او د هغه ځوی خوشحال خان هم په خپل وار د قام مشری اوکړه۔ د احمد شاه ابدالی په زمانه کښې د خوشحال خان ځوی اشرف خان د قلات نه د غزنی پورے علاقے حاکم وو۔ دا سړے د احمد شاه سره د هندوستان په اوله حمله کښې هم شامل وو۔ د تیمور شاه په زمانه کښې د اشرف خان ځوی آموخان د قام مشر وو۔ د شاه زمان او شاه محمود د جګړو په دوران کښې د غلجی قبائلو هم بادشاهۍ ته بیا خوا اوغړیدله۔ او د درانیانو او غلجیانو تر منځه خونړی جنګونه اوشول۔ چه په هغه کښې غلجیانو ته ډیر زیان اورسید د سدوزو نه چه حکومت بارکزو ته منتقل شو دغه وخت کښې هم د دوی او د بارکزو تعلقات خراب وو۔ د امیر دوست محمد خان سره څو ځله د دوی ماتے ګډے پیښے شوی دی۔ سره د دے دومره زیانونو د امیر عبدالرحمن تر زمانے د توخی په ځانګ کښې د سلطان ملخائے کورنئ با اقتداره وه۔

(ب) لودی قبائل

د روایاتو مطابق د لودی قبیلو مورث اعلی ابراهیم دے۔ چه د شاه حسین غوری ځوی او د شیخ بیټ نمسے وو۔ په نړو پانړو کښې د ابراهیم لودی د مهمو ځانګو لکه اسمٰعیل خیل، پرنګی، لوهانړی، دوتانړی، نیازی، سوری او مروت وغیره مشجرے په تفصیل سره بیان شوے۔ اوس د دوی لنډ تاریخ واورئ:۔

په موجوده افغانستان کښې د ابراهیم خیلو (لودیانو) د نورو طائفو په نسبت لوهانړی زیات دی۔ د دے طائفے اکثرے ځانګے په شیګره، اندړو، قره باغ، قلات

او قندهار کښې په اوږه ډول په غلجیو کښې اباد دی. د دې طائفې څه خلق د مهاجرو په شکل کښې په قطغن او بدخشان کښې هم اباد دی. دا خلق اکثر د ځمکو څښتنان دی. ولې د کرکیلې د کار ماهر نه دی. او اکثر خلق ئې تجارت پیشه او په دې وجه دولت مند دی. د دې طائفې پنځه سوه کورونه په شیلګره او درې سوه کورونه په قره باغ کښې دی. د لوهانړو نه پس په افغانستان کښې د نیازیانو شمیر زیات دې. د دې تمام څه خلق پاونده دی. په ژمی کښې قندهار ته دروی او په اوړی کښې د کوه بابا په لمنو کښې د هزاره جات غرونو ته ځی. دا خلق داوبنانو او ګډو بزو دې لری. د دې خلقو یو برخه ځای شوی ده. او په شیلګره، قره باغ، جان مراد، مکور، قلات، غوربند او لمغان کښې میشته دی. د کرکیلې کار کوی. دا خلق په دینداری او معامله کښې ډیر کره دی. خوش ګذرانه خلق دے. دوتانړی هم په افغانستان کښې اباد دی. او د کرکیلې کار کوی.

د پرنګی طائفې په اوله کښې په مخرله افغانستان کښې اوسیدے. ورستو دغه خلق د خپلو اوښانو او ګډو بزو د څرولو په غرض د کسی غر په لمنو کښې خصوصاً په دامان کښې د ټانک او دوړئ په ځمکه اباد شول. دلته دوی تر ډیره وخته اباد وو. د بابر په وخت کښې دولت خیلو، میان خیلو، مروتو او نورو لوهانړو په پرنګی طائفې حمله اوکړه. او په جنګ کښې د دې طائفې ډیر خلق او مړل. او د دې په نتیجه کښې دوی د دامان نه هندوستان ته په کډه لاړل. په دامان کښې د پرنګیانو په ځمکو لوهانړو قبضه اوکړه. په دې تمام کښې بهلول لودی په هند کښې د شیخ حمید لودی د کورنۍ نه تقریباً څلور سوه کاله پس د لودیانو حکومت قائم کړو. شیخ حمید لودی د سلطان ناصرالدین سبکتګین معاصر وو.

لوهانړی:- د نوح یا نوحانی اولاد په سپین او تور لوهانړی مشهور دے د تور لوهانړی مشهورے طائفې دا دی:-

دولت خیل:- د نسب نامے نه ظاهره ده چه د نوح د "مما" ځوی نه درے ځامن وو. په دوی کښې د دولت خیلو څانګه د خپل کثرت په وجه نور ماخیل هم په خپل ځان کښې شامل کړل. اوس د مما ټول اولاد په دولت خیلو مشهور دے. د



دولت خیلو په پخوا پښت کښې کټه خان اوز یګیدو. د ده اولاد ته کټی خیل وائی. د لوهانړو ټول قامونه د ټانک په ځمکه د استوګنې نه اول پاونده وو. او تر ډیرو د کرکیلې کار کولو. د ځمکو خاوندانو به په کټه واز کښې چه د غزنی جنوب مشرق ته د استوګنه لرله. د دوی پاونده خلق به د "واتا" غزه ته راتلل په دے ورځو کښې مروت د سلیمان خیلو سره د یو ناموس دارئ په معامله کښې په جدئ اخته شول. مروت په سلیمان خیلو کمزوری وو. نو دوی د کټه واز نه کډه اوکړه.

په دے وخت کښې د دوی د هرے تپے خپل خپل خان وو. دوی به ټول کارونه په جرګه کول. د لوانړو د ټول قام خانی په کټی خیلو کښې وه چه د دولت خیلو یو پښه ده. ولې دا خان به د لوهانړو د ټولو طائفو په مرضئ مقرر کیدلو. او هغه به د هرے طائفې سره د برابرئ او عزیز ولئ سلوک کولو. د میلادی د نولسمے صدئ په اغاز کښې قتال خان بن سلیم خان د قام مشر شو. دا سړے د خوئ نه ډیر تریخ او د خلقو سره به ئے د سپکاوی سلوک کولو. له دے جهته دولت خیلو او کټی خیلو په مشوره قتال خان او د هغه یو ځوی اکبر خان اووژل. ولے د هغه مشر ځوی سرورخان کابل ته په تیښته لاړ. دغه وخت کښې په کابل کښې د امیر دوست محمد خان د حکومت اغاز شوے وو. سرورخان ته د امیر دوست محمد خان له خوا د عبدالرحیم هوتک په مشرتابه کښې څلور زره بنګر ملګرے شو. د دے بنګرو په کومک سرور خان بیا په خپل ځاے شو. ولے څه موده پس سرور خان هغه ټول کسان اووژل چا چه د ده پلار او ورور وژلی وو. او یا په دے مشوره کښې شامل وو. او د دے نه پس ئے د خپل حفاظت په غرض پنځه سوه سپاهیان اونیول او خپله قلاے ئے بنده مضبوطه کړه. په سنه ۱۸۳۹ء کښې سرور خان په کرمه کښې مړ شو. او د هغه په ځای الله داد خان د قام مشر شو. په سنه ۱۸۴۰ء کښې سیکانو د نونهال سنګه په مشرئ کښې په ټانک حمله اوکړه. الله داد خان د خپل قام د حمایت نه محروم وو. نو هغه مسوده ته اوتښتیده او د هغه ځای نه کابل ته لاړے. په ټانک د سیکانو قبضه شوه.

په دے ورځو کښې امیر دوست محمد خان په خپلو خولو کښې ډوب وو- نو اللّٰه داد خان خالی لاس بیا د مسعودو علاقے ته راغے- سیکانو د ټانک ریاست ملتانی پښتنو ته د خراج په ډول ورکړے او د دے په نتیجه کښې اللّٰه داد خان بیا هر وخت د ملتانی پښتنو سره په جنګونو کښې بوخت وو- اخر په دے هله ګوله کښې اللّٰه داد خان مړ شو. په ۱۸۴۹ء کښې د سیکانو ریاست سقوط اوموند او په پنجاب او سرحد د انګریزانو قبضه راغله- دغه وخت د اللّٰه داد خان ځوی شهنواز خان د انګریزانو د لوری نه د ټانک د ریاست والی اوټاکلے شو-

د میاں خیلو ځانګه:- دوی هم د دولت خیلو سره یو ځائے دامان ته راغلی وو- او ډیر ښه توب ژوند ئے تیروو- اوس د دے خلقو استوګنه په درابنه ده- په اوله کښې د دے قام خلق پاونده وو- مالونه به ئے ساتل او تجارت به ئے کولو- په دے زمکو د دوی نه اول سوری او سروانړی طائفے اباد وے چه زمان خان کټي خیل دا طائفے د دے علاقے نه په شړلو مجبور کړے نو دغه وخت دولت خیلو د ټانک زمکے په خپل منځ کښې اوویشلے- څو کاله پس د بختیاره طائفه چه په نبکه بده کښې د میاں خیلو سره شریکه وه د سروانړی قام په بدئ اخته شول- او د میاں خیلو په کومک ئے سروانړو ته شکست ورکړو- او دوی د سروانړو زمکے په خپل منځ کښې اوویشلے- د دے نه پس د میاں خیلو ځنے خلقو مستقله استوګنه اختیار کړه- او ځنے پاوندہ پاتے شول- او تر اوسه پورے د بختیارو او میاں خیلو ځنے خلق پاوندہ او ځنے ځائی دی- د میاں خیلو خان لږ اختیارات لری- د دوی د پاوندہ خلقو خان بیل وی- د میاں خیلو خلق شریف او شته من دی- د دوی سرداری د سید خیلو په ځانګه کښې ده- چه د خدو خیلو سره اړه لری-

تتوړ:- په شمیره کښې لږ دی- دوی په عادتونو او دودونو د ستو دونو کښې بیخی د دولت خیلو په شان دی- د کرکیلے کار کوی-

نیازیان:- دوی هم د لودیانو څانګه ده- دا خلق په اوله کښې شیلګر او د غزنی په خواوشا کښې اباد وو- د دے علاقے نه دوی د اُمندہ او غلجیانو د



غلیمئ په وجه کډه اوکړه- په ۱۴۵۱ء کښې چه بهلول لودی په هند کښې د پښتنو سلطنت قائم کړو- نو د یو فرمان په ذریعه ئے د دوه پیښانه هند ته اوبلل- د دے په جواب کښې د نیازیانو بے شمیره خلق هند ته لاړل- او په عسکری ځانګه کښې شامل شول- په نیازیانو کښې هیبت خان نیازی او عیسے خان نیازی د شیرشاه سوری په وخت کښې د ډیر عروج خاوندان وو- ولے د شیر شاه نه پس د سلیم شاه په وخت کښې نیازیانو ته د سلیم شاه د فوځونو نه لوئے زیان اورسید او دے صدمے نیازیان ډیر کمزوری کړل- نیازیان د اباسیند په دواړو غاړو د کالاباغ نه تر پنیالے پورے په اوږدو او د خټکو د غره د شرقی لمنے نه تر میانوالی پورے په پسارهٔ کښې ډیر اباد دی- او دا علاقه د نیازیانو په علاقه مشهوره ده-

دوتانړی:- دوی هم په لودیانو کښې ګڼړ دی- لږه طائفه ده- اکثر پاوندہ دی- ځنے دوتانړی د "وانا" په علاقه کښې استوګنه لری-

خیسور:- دا خلق هم ځان په لودیانو کښې شمیری- لږ خلق دی- دا اباسیند په تنبیڼه غاړه او د ډیره اسماعیل خان په ضلع کښې اباد دی- دوی په عمرخیلو هم مشهور دی- د دوی ځنے خلق د عیسے خیلو د علاقے په قطب لوری او د پنیالے د یو ورکوټی غره په خوا کښې او د مروتو په علاقه کښې پرانه دی- د دوی په علاقه کښې "خرما" ډیرے کیږی-

بیلیچ:- دا خلق ځان په نیازی کښې ګڼړی- او کله په دولت خیلو کښې- لږ خلق دی- اکثر په پنیاله کښې د غونډ شیخ بدین غره په خوا کښې استیږی-

مروت:- دا خلق په سپین لوهانړی مشهور دی- په اوله کښې دا خلق په کټه واز کښې اوسیدل- اوس هلته کښې د غلجیو سلیمان خیل اباد دی- د کټه واز نه د دوی د راتلو وجه دا ده چه د آزاد خان سلطان خیل د کاله نه هغه مریئ یوه ښځه اوتښتوله- او مروتو ته په ننواتی لاړه- دا واقعه غالباً چه په څلورمه صدئ هجری کښې شوی ده- سلیمان خیلو د مروتو نه دا خپل مجرمان اوغوښتل- ولے مروت د پښتون ولئ په ننګ په هغوی اونه ورکړل- نتیجه دا شوه

چه د سلیمان خیلو په ننګ د غلجیو نورے طائفے اودریدے او د مروتو په مرسته د لوهانړو ټول اولس اودریده. او د دوی تر منځه یو سخت جنګ اوشو. چه په هغے کښے غلجیان کامیاب شول. او مروت سره د ډیره زیانه د کټه واز د علاقے نه په وتلو مجبور شول. او د ټانک په علاقه کښے ئے څه زمکه تر لاسه کړه. خو څه موده پس دولت خیلو مروت د دے زمکے نه پاسول. وے ډیر زر مروتو خپلے زمکے بیا تر لاسه کړے. خو کټه خیلو چه د دولت خیلو څانګ دے. د کنډا پوره په کومک دوی بیا د خپلو زمکو نه او شړل. داخل مروت د تحل په قطبی برخو کښے میشته شول.

د مؤرخینو په خیال کښے د اسلام نه وړاندے د دامان په علاقه کښے هنود او یونانیان اباد وو. د دوی د ودانیو اثار لا تر اوسه پورے د احمد خیلو د غوړه په لمن کښے د بائت خیلو په علاقه کښے موجود دی. دا هم مشهوره ده چه دغه هنود د سلطان محمود غزنوی او سلطان شهاب الدین غوری په زمانه کښے د دے علاقو نه اوشړلے شول. د دے خلقو نه پس په دے زمکه پوځی قام استوګن شو. د دے خلقو اصلی حالات معلوم نه دی. دا خلق سارنګ خیلو، عیسے خیلو او د نیازیانو نورو طائفو چه د ټانک نه راتلل اوشړل. او د هغوی په زمکو اباد شول.

نیازیانو په هغه برخه کښے چه اوس پکښے پهاړ خیل اباد دی د ګمبیلے نه د قطب په لور ودانی شروع کړه. او د رود نه ئے درے ویلے اوښکلے. او هغه زمکے ځان له غوره کړه کومه چه د ګمبیلے اوکرے تر منځ پرته ده. دغه برخه بیاد جنوب پورے د دوی مال خر وو. په هغه ورځو کښے د نیازیانو سردار "مدی سارنګ" وو چه ډیر مالدار وو. او تر اوسه پورے په دے علاقه کښے مشهور دے.

وے نیازیانو په دے علاقه بزه موده قبضه اولرله. ورستو د نیازیانو مهیار بناخ د سارنګ خیلو او عیسے خیلو نه په دے خبره مرور شو چه دوی ته ئے برخه نه ورکوله. دوی د مروتو نه د مرستے خواست اوکړو. او مروتو د مهیار په مرسته کښے په نیازیانو حمله اوکړه. اخر صلح اوشوه لیکن مروتو د نیازیانو ډیره زمکه



لاندے کړه.

د نیازیانو په قبائلو کښے میچن خیل ستانه او فقیر خلق دے. مروتو هم په دوی څه غم غرض او نه کړو. او تر اوسه پورے دوی په ټنټي میچن خیل کښے اباد دی. دا واقعات او په دے علاقه د مروتو قبضه د اکبر بادشاه په زمانه کښے شوی ده. د دے واقعاتو ټاکلے کال معلوم نه دے. وے د اثارو او واقعاتو نه دا معلومیږی چه دا خلق به اندازاً د (۳۶۰) کالو راسے په دے علاقه قابضان وی. د اکبر باچا د حکومت په ابتدائی کالونو کښے په دے علاقه لا نیازیان اباد وو. په دے بنا د مروتو قبضه به هم د دومره موده نه را په ایسته شوی وی. مروتو دا زمکه په څلورو برخو اوویشله. سلار یو برخه، نوناخیل یو برخه، موسی خیل یو برخه او تپی یو برخه. ورستو په دے کښے تبدیلی اوشوه. او په دے ډول حصے مقرر شوے. تپی او نوناخیل یو برخه، موسی خیل یو برخه، درے پلاری یو برخه او سلار یو برخه. اوس د دے خلقو استوګنه په دے ډول ده. د لمر لویدو خوا ته تپی، موسی خیل او نوناخیل، په منځنی برخه کښے بهرام او په عزخاته خوا ته درے پلاری اوسیږی.

## هغه متفرق پښتانه چه د مروتو په علاقه کښے اباد دی

(۱) ملاخیل:- دا خلق د مروت په کلیو کښے ګډ وډ اوسیږی. ستانه خلق دی. د دے طائفے مشر نیکه ملا عثمان نومیده. چه یو نیک سړے وو. دا متل په دے علاقه لا تر اوسه مشهور دے چه الحمد لله خو هر څوک لولی وے خو لد د ملا عثمان غواړی. دا خلق د مروتو سره داسے خلط ملط شوی دی چه جدا کول ئے ګران دی.

(۲) عمر زخیل:- دا څانګه د مروتو په قام ورګډیږی. په دولت ئے د بهرام خیلو نه برخه اخستی ده. او په اولس کښے په مروتو کښے حساب دی.

(۳) ملک نړی:- دا خلق په اصل کښے نیازیان دی. په موسی خیلو (مروتو) کښے ګډ شوی دی.

(۴) والی وال:- ځنے دوی خټک بولی. وے د دے حقیقت نشته. البته د دے

خلقو د یو مشر نیکهٔ نامه خټک وه- لو دغه خبره د غلط فهمۍ باعث شو- په اصل کښې دا خلق د مروتو د اتمان خیلو یو ذیلۍ ده-

(۵) منګوخیل:- ځنې خلق دوی نیازیان بولي. وسلې دوی د مروتو د موسیٰ خیلو په څانګ کښې د بائیزي سره ګډ شوی دی-

(۶) خان خیل:- په دولت خوازي کښې ورګډ شوی دی- د بهرام خیلو یو پښه ده-

## د مروتو په علاقه کښې نور قامونه

(۱) د شیخ شاه روحانی اولاد:- دوی په اصل کښې سیدان دی- او په اولس کښې د پیرۍ مقام لري- اکثر د کرکیلې کار کوي- د شیخ محمد شاه روحانی مزار د ذوصلې د ممو زو نوخانهٔ ته د غرهٔ په ښیائۍ کښې دے-

(۲) میچن خیل:- دوی د خاکو اولاد دے چه د نیازیو یو څانګه ده- میچن په اصل کښې څهٔ بل نوم لرلو- وسلې ډیر چابک او ګړندے وو نو پښتنو پرے میچن نوم کیښود- دا یو ښک سړے وو- پښتانهٔ د ډهٔ اولاد ته په درنه سترګه ګوري- په خطرناکو موقو کښې چه هرڅوک د میچن خیلو کور ته ننواتي ورغلو نو هغه خلاص وی- میچن خیل په افغانستان کښې کم وډ اباد دی- د بنوں په علاقه کښې د میچن خیلو یوه څانګه د کرمے سیند په قطب په یو ځائے کښې چه په تتي میچن خیل مشهور دے استوګنه ده-

عیسے خیل:- د عیسے اتهٔ څانګے دی- ابوخیل، خواجه خیل، ماما خیل، محمد زی، زکوخیل، میرا خیل، داور شاه خیل، احمد خیل- په دې کښې د دریو څامنو اولاد پاتے دے- دا نه معلومیږی چه د نورو څامنو اولاد ئې د سلیم شاه په جنګونو کښې وژلے شوے دے-

مشوانړی:- دا طائفه هم د نیازیانو ده- د دوی د نیکهٔ نامه موشیانی وه او په استعمال کښې د موسیانی، موشیانی نه مشوانړی شوه- په اوله کښې دوی د سادونک د اولاد سره د اباسیند په غرڅنبزه غاړه اباد وو- د دوی یو بناخ داود خیل په داؤد خیل کښې او یو بناخ موندی خیل په میانوالي (تتي) کښې اباد دے



مشوانړی د مروتو او عیسے خیلو په دشمنۍ کښې د مروتو ملګری وو- دا طائفه اوس په دادی خیل او شادی خیل سره ویش ده-

سلطان خیل:- دا هم د نیازیانو د سارنګ نه یو څانګه ده- په اوله کښې په میانوالي کښې اباد وه- ورستو د کورنو جنګونو په نتیجه کښې ئے دغه ځمکے پریښودے او د عیسے خیلو په مصلحت د خټکو د غرهٔ په خوا کښې استوګن شول-

د ابراهیم (لودی) د لوئ اولاد حال مختصراً بیان شو- په اوسنی افغانستان کښې دا خلق په ډیر شمیر کښې نشته- د دے قام ډیر خلق د اباسیند په غاړه په ډیره اسماعیل خان او ټانک او نورو ځایونو کښې اباد دے- د لودیانو او سوریانو د سلطنت په وخت کښې د دے قام ډیر خلق په هند کښې اباد شوی دی- د هند لدهیانه لوے ښار په هند کښې د دے خلقو د استوګنې یادګار دے- دے خلق د ډیرے پخوانۍ زمانے نه په خپل منځ کښې اجتماعی تشکیلات لرل- په هند کښې د سلطنت قائمولو نه اول دوی ځنې داسے رواجونه لرل چه وسیل به ئے بے ځایه نه وی-

د لوهانړی، بیټنی او مروتو وغیره هر قام به د ستر ملک په نامه یو رئیس لرلو- دا رئیس به د قام په اتفاق ټاکلے شو- د ضرورت په وخت کښې به د قام سپین ږیری په ستر ملک راغونډیدل- په پښتنی جرګه کښې چه به کومه خبره فیصله شوه نو هغه به ئے د خلوینتی لوے یو جرګے په ذریعه په ټول قام منودله د مجرمانو نه به ئے پښتنه کوله- او هغوی ته به د خپلے صفایۍ موقع ورکولے شوه چه نورو قامونو سره به جګړه پیدا شوه- نو دغه وخت به ستر ملک د سر ښکر کار کولو- او د دهٔ د اثر لاندے به نور واړهٔ واړهٔ ملکان هم وو- چه هغوی به د خلوینتی په مشوره د ستر ملک احکام به قام کښې اجرا کول. په اوله زمانه کښې د خلقو حکومت ته څه مالیه نه ورکوله- وسلې د اورنګ زیب په زمانه کښې د هغه ځوی بهادر شاه د دوی نه څهٔ رقم د مال شمارۍ په ډول اخستے وو- احمد شاه ابدالي به د دوی نه څو او ښاده د مال شمارۍ په نامه اخستل-

سروانړی:- د روایاتو مطابق سروانړے د شاه حسین غوری ځوی دے-

چه د هور نامه کښے مهیٔ وه- ونُیلے شی چه د سلطان شهاب الدین غوری په زمانه کښے دے خلقو د کوه سلیمان په لمنو کښے د درابنړ او چودهوان په زمکو استوګنه لرله- د سروانړی اولس خانی او ریاست د سرپیال په ځانګه کښے د شیخ ملیح قتال د مشرانو سره مخصوص وو- دا هم وئیلے شی چه دا موجوده درابنړد شیخ ملیح قتال اباد کړده دے- دا خلق د همایون په زمانه کښے د خپلے بے اتفاقۍ له کبله ډیر کمزوری شول- او په اخر کښے د دے علاقے نه په وتلو مجبور شول- دیو ناموس دارۍ په معامله د دوی او سوریانو تر مینځه دشمنی وه- او دهغے په وجه دواړه طائفے ډیرے کمزورے شوے- څه موده پس بختیارو په دوی حمله اوکړه- او د هغے په نتیجه کښے دوی در په دیکه شول- ځنے د پیښور په علاقه کښے اباد شول او ځنے پنجاب ته لاړل- بختیارو او میان خیلو د دوی په زمکه قبضه اوکړه-


د مالیر کوټلے نوابان د سروانړی په بناخ کښے د سرپیال سره تعلق لری- د دے ریاست بانی شیخ صدرالدین صدرجهان وو- چه د شیخ ملیح قتال په ځانګه کښے دے- دا سړے یو خدا رسیده او ولی وو- بهلول لودی چه د دهلی د فتحے په تکل روان وو نو د ده سره ئے ملاقات کړے وو- او بیا وروستو ئے ورله خپله لور هم په نکاح ورکړه- د هغے وروستو نه پس د دوی د ریاست بنیاد اوکیدو-



پنځمه طبقه


# کرلانړی قبائل

## (ا) دله زاک، اورک زی، منګل وغیره



# کرلانړي قبائل


## (ب) افریدی






# کرلانړي قبائل


## (ج) زدران یا جدران



# کرلانڑی قبائل

(د) خٹک

## لقمان (بن برہان)








# کرلانڑی قبائل

(خٹک - بولاق)

## بولاق (بن لقمان)





## ککے (بن تورمان بن لقمان بن برہان)



# کولانړی قبائل

(ھ) اتمان خیل






# کولانړی قبائل


(و) خوګیانړی




* 

# کولانړی قبائل


(ز) وزیر - مسعود



# کرلانڑی قبائل

محمود خیل (وزیر) - اتمان زی


## محمود خیل







## براهیم خیل

- وزیر - اتمان زی



# ولی خیل


وزیر - اتمان زی







وزیر - احمد زی

# احمدزی




# کولانړی۔ مسعود بن محمود بن خلد بن وزیر بن سلیمانؒ







# بهلول زی۔ (مسعود)



# کرلانڑی قبائل


(ح) شیتک ۔ (دوړ)







# کرلانڑی قبائل

شیتک




# سمی (بن کیوی)







سوریانی بن شیتک

# سوریانی



# کرلانړی

(ط) اسمعیل۔ معروف بنګښ






د کرلانړی قبائلو نسب نامے بیان شوے۔ په کرلانړی طبقه کښے مشهورے قبیلے دا دی۔ دله ناک، اورک زی، خوګیانړی، افریدی، خټک، وزیر، صود، شیتک (بنوڅی) دوړ، ندران (جدران) ذازی، توری، بنګښ او اتمان خیل د هرے قبیلے لنډ شان حال بولولئ:۔

دله زاک:۔ د روایاتو مطابق د دله زاکو دوه طائفے دی۔ لودی خیل او یعقوب خیل۔ دا دواړه خاڼګے په خپل منځ کښے په وړو وړو ذیلیو کښے تقسیم دی لکه چه د شجرے نه معلومیږی۔

د روایاتو مطابق دله زاک اول پښتانه وو چه په وادئ پیښور کښے د اباسین تر غاړے استوګن شوی وو۔ ویلے شی چه دوی په دے علاقه باندے د هندو شاهانو په زمانه کښے قبضه کړی وه۔ د سلطان محمود غزنوی په وخت کښے دوی د هغهٔ سره د هند په حملو کښے ملګری وو۔ او د خپل یو مشر ملک یحیےٰ په مشرتابهٔ کښے د سومنات په حمله کښے هم شامل وو۔ د مرزا الغ بیګ تر زمانے دا خلق په وادئ پیښور کښے د اقتدار خاوندان وو۔ لیکن د روایاتو په بنا هرکله چه د مرزا الغ بیګ د لاسه خانئ خیل او د هغوی حلیف قبائل د کابل د علاقے نه د وادئ پیښور په لور په مهاجرت مجبور شول۔ نو د دے نه پس د دے نو واردو پښتنو او دله زاکو تر منځه د جګړو سلسله شروع شوه۔ او د هغے په نتیجه کښے دلزاکو ته ډیر زیان اورسید۔ ولے د بابر په وخت کښے د دے خلقو طاقت لا ښهٔ په ځائے وو۔ او دوی د بابر په هره حمله کښے ملګری وو۔ او دا ښه معلومیږی چه د بابر او د دوی تر منځهٔ تعلقات خوشګوار وو۔ د پښتنو په شجرو کښے د دله زاکو حیثیت واضح نه دے۔ ځنے خلق دوی سیدان ګڼړی او ځنے دا هم دی چه دوی هډو پښتانهٔ نه ګڼړی۔ ولے دا دواړه خبرے غلطے دی۔ دله زاک د پښتنو یوه اهمه قبیله ده۔ او نه صرف د روایاتو په بنا بلکه د بابر د لیکو نه هم د دے خلقو کثرت او اهمیت معلومیږی۔ د دے نه علاوه د نورو پښتنو قبائلو په شان بابر دا خلق (دله ناک) هم د افاغنه په لفظ یاد کړی دی۔ او دا په دے دلالت کوی چه دله ناک د پښتنو یو مهمه قبیله ده۔ ولے ځنی په خیال کښے دله زاک په "کرلانړی"

قبائلو کښې شامل خو مونږ نه لري. د کرلانړي په ذيله کښې ټول پښتانه قبائل بې د خټکو د يوې حصې نه د وادئ پيښور نه په سويلي علاقو کښې اباد دي. دا ټول قبائل اګر چه په نن وخت کښې په خپل منځ کښې څه جزوي اختلاف لري. ولې په دې ټولو قبائلو کښې ډيرې خبرې مشترکې دي. مګر د کرلانړي قبائلو او دلزاکو ترمنځه دا اتحاد يوه خبره هم نشته. د دې نه دا معلوميږي چه کرلانړي قبائل او دلزاک جدا جدا قبيلې وې. خو په خيال کښې دلزاک د هغه خلقو اولاد ګڼړل پکار دي کوم چه په ډيرې پخوانۍ زمانه کښې هيروډوټس د ګندهاريانو په لفظ ياد کړي دي. نن ورځ په حيثيت د ملے قبيلې دا خلق نشته. البته د پيښور په ضلع کښې د دوی يو نيم کلے موجود دے. او په چچ هزاره کښې څه اباد دي.

۲(ب):- اورکزي:- د سپين غر په غرخانه لوري، د تيراه په سويلي کڅوړ کښې اباد دي. په ضلع کوهاټ او پيښور کښې هم د دوی ابادي شته دے. د روایاتو مطابق د بنګښو نه وړاندې د بنګښو په علاقه هم د اورکزو قبضه وه. او د بنګښو سره به د دوی اکثر بدي وه. اخر چه دواړه قبيلې په جنګونو ستړې شوې نو د درسمند په مقام ئې جرګه اوکړه او "دائی" نومے يو سړی د دوی ترمنځه فيصله اوکړه. د دائی دا فيصله ډيره ساده او لنډه وه. هغه اووے دائی خو دا مے دائی چه "غر د اورکزي او سمه د بنګښو" د دے فيصلے نه پس په دے تقسيم عمل اوشو.

د اورکزو په ټولو څانګو کښې دولت زی او مسوزي په شمير کښې زيات دي او بيا په دولت خيلو کښې محمد خيل زيات شوي دي. په دوی کښې سوا د محمد خيلو د څانګې نه نور اورکزي سني مذهب دي. محمد خيل د شيعه فرقې سره تعلق لري. ټول قام د سمل او ګار په دوو ګوندونو کښې تقسيم دے. په عادتونو او رسم و رواج کښې د افريدو په شان دي.

۳- منګل:- د روایاتو مطابق دا خلق د نن نه څه شپږ اووه سوه کاله وړاندې د بنون په علاقه کښې اباد وو. ليکن د شيټکو د غلبے له کبله دوی د دے



علاقے نه په وتلو مجبور شو او د خوست په علاقو کښې استوګن شو. اوس هم په دے علاقو کښې ميشته دي. زدران د دوی نه سويل ته پراته دي. او د دوی ترمنځه تل بدي وي.

۴- هني:- د پښتنو د ځنې مورخينو لکه د حيات افغاني په خيال کښې هني د منګل ورور او د کرلانړي قبائلو يوه څانګه ده. ولې د خورشيد جهان د مولف په خيال کښې هغه "هني" چه د منګل ورور وو. د هغه اولاد اوس نشته. د ده د خيال مطابق په کومو ورځو کښې چه د شيټک اولس په بنون قبضه اوکړه. او منګل ئې د دے ځمکے نه اوويستل. نو په دے جنګونو کښې د "هني" اولس هم ډير زيان من شو. او د دوی پاتې شوني خلق هندوستان ته په کډه لاړل. د خورشيد جهان مطابق کوم هني اولس چه نن ورځ د منګلو سره استوګن دے. دوی په اصل کښې سيدان دي. او د سيد محمد ګيسو دراز د يو ځوی اولاد دے. د "هني" قبيلې مشهوره څانګه زدمخت يا زوښت (زومښت) ده چه د بنګښو، اورکزو او چکمنو کښې د سپين غر غرخانه لوري ته په غرونو کښې اباده ده. دا خلق په خپل منځ کښې په دوو څانګو کښې وېش دي. ښه مضبوط او تکړه خلق دي. د کور کيلے کار کوي. د پښتنو د قبائلي ګوندئ په لړ کښې دا خلق د "سمل" په ګوندئ کښې شامل دي.

۵- وردک:- دا خلق هم خپل ځان په سيدانو کښې شميري. چه په کرلانړي طبقه کښې شامل شوي دي. د خورشيد جهان مطابق دا اولس هم د سيد محمد ګيسو دراز اولاد دے. د دے قام د علاقے قبلے طرف د هزاره جات غرونه دي باقي درے واړو طرفو ته د دوی نه غلجي قبائل پراته دي. د دوی علاقه يو اوږده کنډه ده. او په قبله غرخانه ئې غرونه دي. دا علاقه د رود غزني نه سيرابيږي او قطبي حصه ئې د رود لوګر نه اوبه مومي. تنګي، شيخ اباد، خوات، سرآب، او جغتو د دوی په علاقه کښې مشهور کلي دي. د دوی علاقه سرسبزه او اباده ده د غنم فصل ئې کم وي. مضبوط او زړور خلق دے. په "وردکو" کښې د "ميري خيلو" څانګه په شمير کښې زياته ده. په دوی پسې مهيار او بيا د نور زي څانګې دي

د ورکوټي خلق په ټچ کښې هم اباد دي.

۶- کرلانړي قبائل ( افريدي):- د رواياتو مطابق د افريدو د مشر نيکۀ نوم عثمان وو. چې د يوې واقعې په وجه په افريدي مشهور شو. د دۀ دوه ځامن وو. ماڼې او څلنې. د څلنې اولاد کم دے. او ځۀ لږ ډير په بنګښو کښې اباد دے. د "ماڼي" د رې بنځې وې. بوه ترينه، بله ندينه او دريمه فاطمه. د دوی د اولاد تفصيل د شجرې نه څرګند دے.

په موجوده وخت کښې د افريدو ټول قبيله په دے اتو څانګو مشهوره ده. ملک دين خيل، قمبر خيل، کوکي خيل، زخه خيل، اکاخيل، سپاه، کمري او ادم خيل. دا اولس په خيبر درۀ کوهاټ او تيراه کښې اباد دے. د دوی د نمرخاتۀ پوله د خټکو سره لګيدلې ده. سويل ته د دوی نه اورک زی او بنګښ پراتۀ دي. او د سپين غرۀ څوکې. د دوی نه په قبله شينواري او په قطب کې د مهمندو علاقه ده. د پيښور په علاقه کښې د کچه ګړهۍ نه واخلې ان د ننګرهار تر علاقې قبله په سويل غرونو باندې د دوی قبضه ده. اګرچه د تيراه ډيره علاقه د دوی په قبضه کښې ده. مګر په تيراه کښې هغه علاقه چې د غرونو په منځ کښې د ميدان په نامه او د خپلې ښې آب و هوا د پاره مشهوره ده. د دے خلقو اصلي مرکز ګڼړلے شي. ويلے شي چې دا خلق په تيراه کښې په څوارلسمه صدۍ کښې اباد شوی دي. ليکن دا خبره درسته نه ښکاري. د ننځه ق.م په خوا و شا کښې چې يوناني مؤرخ هيرو ډوټس د پښتنيا (پښتون خوا) د کوم څلورو قامونو ذکر کړے دے. په هغو کښې د يو قام نامه "اپيې ديتي" هم ده. او دا لفظ (اپيې ديتي) د اپريدی سره د فقه اللغت د مخې مطابق منلے شوے دے. د دے نه دا معلوميږي چې دا اولس د ډيرے پخوانۍ زمانې راسے دلې اباد دے. سکندر اعظم چې د هند د حملې په غرض د خپل فوځ کومه حصه د خيبر په لاره ليږلې وه. د هغې فوځ سره هم دے خلقو لاس اچولے وو.

د درۀ خيبر په استوګنو قامونو کښې افريدي ډير زړور او توربالي خلق دي. د خيبر درۀ د افغانستان او پاکستان تر منځه د قديمې زمانې نه مشهوره



ده. دا درۀ د جمرود نه د لنډي خانې پورې (۳۳) ميله اوږده غزيدلې ده. په دے درۀ کښې د خيبر ريلوے لائن چې په سنه ۱۹۲۵ء کښې مکمل شوے دے د انجنيرۍ د فن يو لويه کارنامه ګڼړلے شي. د دے ريلوے لائن نه علاوه د جمرود نه تر لنډي خانې پورې د موټرو لادو يو بهترين سړک هم موجود دے. د دے د حفاظت د پاره ځائي په ځائي فوځي څوکۍ او قلا ګانې جوړې دي. دا تاؤ راتاؤ سړک د جمرود نه شاګۍ ته او بيا علي مسجد ته رسي. دا مقام د سمندر د سطحې نه دوه زره فټه اوچت دے. د علي مسجد نه وړاندې سړک په يو ارتۀ کښتۍ کښې تيريږي. دلته د زخه خيلو قلعه ګانې دي. دا سړک د لنډي خانې په مقام تهانې ته ورپريوزي.

د خيبر درۀ د تاريخ په هر دور کښې اهم پاتې شوې ده. او په دے وجه د دے درے استوګن قامونه هم ډيره اهميت لري. په دے درۀ کښې افريدي، شينواري، ملاګوري او شلمانئ اباد دي. په دے ټولو اولسونو کښې افريدي زيات طاقتور دي. د "باغ جُبات" د دے خلقو د سياسي او مذهبي سرګرميانو مرکز دے. د دوی په خيال کښې دا مقام ډير اهميت لري. د خيبر درے په خوا و شا کښې د پخوانۍ زمانې ډير اثار موندلې شوي دي. او د دے نه دا قياس مرسته مومي چې دا درۀ به په ابتدائۍ زمانه کښې ډيره اباده وه. د دې علاقې نه چې کوم اثار قديمه برامد شوي دي. هغه د بدهه د عهد سره تعلق لري. او په دے علاقه کښې د بدهه د عهد د اقتدار نمائندګي کوي.

د دے درے استوګن قامونه د تاريخ په هر دور کښې ازاد راغلي دي. په انګريزي دور حکومت کښې د انګريزانو او افريدو تر منځه څو ځله ماتې کوډې پيښې شوي دي. ولې دوی د انګريزي اقتدار شديده مقابله کړې ده. د قيام پاکستان نه پس دے خلقو هم د پښتنو د نورو قبائلو په شان په خپلې مرضۍ په پاکستان کښې د شموليت او د پاکستان د وفادارۍ اعلان اوکړو. افريدي هم رنګ چې پخوا د خيبر څوکيداران وو د غه شان اوس هم دي.

د افريدو مختلف څانګې په خپله خپله علاقه کښې په دے دستور اباد دے

دی :-

کوکی خیل په وادئ راجگل او د وادئ بازار په څه حصه کښے د لالاچینه او د جرود نه د علی مسجد پورے اباد دی- ملک دین خیل په وادئ میدان، چوره او د کجورئ په میدان استوګن دی-

د دوی زیاته ابادی په میدان کښے ده- قنبرخیل د میدان په کاسو دره او د شنو برنالے په غاړه غاړه اباد دی- د ژمی په موده کښے کجورئ ته راکوزیږی

زخه خیل د خپل جغرافیائی محل وقوع له کبله د زیات اهمیت خاوندان دی- د پیښور نه افغانستان دخیبر لار نه علاوه بله لارد دوی په علاقه کښے تیریږی- داخلی ډیر جنګیالی او توریالی دی-

قمری د باړے په قبله اباد دی- دغه شان "سه پایه" په وادئ با ژارکښے استوګن دی- د ژمی په موسم کښے کجورئ ته راکوزیږی- د کجورئ په میدان علاقه کښے د "علم ګودر" په مقام دے خلقو د وسلے جوړولو یو کارخانه هم جوړه کړه ده- چه هر قسم وسله پکښے تیاریږی-

اکاخیل د باړے په سویل غرخانه علاقه کښے اباد دی- او د ادم خیلو زیاته ابادی د کوهاټ نه په قطب په دره کښے ده- د خیبر ایجنسی سره دادم خیلو څه تعلق نشته- البته د دوی دوه قبیلے کالاخیل او ژواکی د خیبر ایجنسی په سیاست کښے داخل شمیرے شی- د ادم خیلو حد په غرخانه د خټکو سره جنګیدلے دے- د افریدو څه ابادی په دکن کښے هم شته- څه په پانی پت او څه په کشمیر کښے هم اباد شوی دی- په وزیرستان (کانی ګرم) کښے د دے خلقو څه ابادی هم شته-

۷- کرلانړی قبائل۔ خټک:- د روایاتو مطابق د خټکو د مشر نیکه نامه لقمان وه- چه د یو واقعے له سببه په خټک مشهور شو- د لقمان دوه ځامن وو- تورمات او بولاق- د تورمات هم دوه ځامن وو- تړے او ګکے- د پلار په اولاد کښے تړے لو میاے وو- او د تورمات ټول اولاد د ده په نامه نومیږی شو- د تری هم دوه ځامن وو- بوګوبټ او امیر یا امند- د دوی د اولاد



تفصیل د شجرے نه څرګند دے-

د خټکو ویروجیئ استوګنه په کوه شوال کښے وه- چه د کوه سلیمان د قبلیځ سلسلے یو لړ دے- او نن ورځ پکښے وزیر اباد دی- د نن نه څه کم و زیات اووه سوه کاله اګاهو دوی د خپلے مینے نه د منګلو په ملګرتیا کښے د بنوں علاقے ته راغلل- او په هغه ځمکه میشته شول چه نن ورځ پرے احمد زی وزیر استوګن دی- څه موده پس د منګلو او شیتکو تر منځه بدی جوړه شوه- او منګل د دے علاقے نه د شیتکو د میرځئ په وجه په وتلو مجبور شول- وے خټک لا هم په دے ځمکه استوګن وو- خو د خټکو او شیتکو تعلقات هم خراب شول او خټک هم د دے علاقے نه په کښه لاړل- او په کربوغه، تیری، لاچی، شکردره ان چه د اباسیند تر غاړے پورے په ټوله علاقه قابضان شول- په دے وخت کښے دا علاقه شاړه او غیر اباده وه- له دے کبله دوی ته د دے په قبضه کښے څه ګړاو پیښ نه شو- په دے ورځ کښے د ویسئ نه تر کوهاټ پورے علاقه کښے اورک زی میشته وو- او د کرے د لورنه به بنګښ هم د کوچیانو په ډول دے علاقے ته تلل راتلل- اتفاقاً د اورک زو او بنګښو تر منځه دشمنی پیدا شوه- د خټکو او د اورک زو په منځ کښے هم ورانه وه- نو خټکو او بنګښو په شریکه اورک زی اووهل- او د دے په نتیجه کښے ویسئ، پنیاله، د ژیړے نه تر تورخیږه پورے ټوله علاقه د خټکو په لاس راغله- او د خټکو او بنګښو په منځ کښے د لاچی او کدا خیلو تر منځ غر برید مقرر شو-

د خټکو د علاقے قطب ته یوسف زی، قبلے ته ئے خدیل، افریدی او بنګښ او سویل ته ئے د بنوں علاقه ده- د دوی علاقه به په اوږدوالی قریباً سل میله او په پلن والی به اندازاً پنځوس میله وی- د دوی په غرخانه اباسیند دے- وے د اباسیند نه پورے غاړه هم خټک اباد دی- او ترماړی پورے رسیدلی دی- "مکهډ" د دے خټکو مشهور مقام دے- خټک په خپل منځ کښے په دوو حصو کښے ویش دی- یو قطبی او بل سویلی- د سویلی خټکو په علاقه کښے د مالګے درنګونه دی- د دے علاقے ځمکه میدانی او شګلنه ده

دہ۔ غروننہ ئے بیخی غیرآباد او کنجی پمن دی۔ تیریے، لاچی، کرک، شکر درہ وغیرہ د دے علاقے مشھور کلی دی۔ د قطبی ختکو علاقہ هم تولہ غرنیزہ او کانړیزہ دہ۔ د دوی غرونہ هم بے بنه بے توبنه دی۔ اکوړے، شیدو، نظام پور، امیر او میر کلات د دوی په علاقہ کښے مشھور کلی دی۔

دختکو ریاست:۔ دختکو د ریاست او خانئ بانی ملک اکو وو۔ چه د درویش محمد (عرف چینو) ځوی وو۔ د مهاجرت نه پس دختکو په قبیله کښے د بطی خیلو ښاخ په کربوغه کښے میشته وہ۔ ملک اکو په څه خبرہ د خپلو عزیزانو نه خفه شو۔ او خوږے تہ راغے۔ په دغه ورځو کښے په خوړہ کښے مندوری استوګن وو۔ نو "ملک اکو" په "ګواز درہ" کښے استوګنه اختیار کړہ۔ ملک اکو د ځان سرہ د ځوانانو یوہ ډله تیارہ کړہ او په شاهی سړک به ئے تاخت و باخت کولو۔ په هغه زمانہ کښے د کابل صوبه د مرزا حکیم په تحویل کښے وہ۔ چه د اکبر میرنے ورور وو۔

په هغه ورځو کښے چه اکبر د مرزا حکیم په تعاقب کښے نیلاؤ تہ راغے۔ او د اټک د قلا د تعمیر ارادہ ئے اوکړہ نو د شاهی سړک د حفاظت تابیا ئے هم اوکړہ د علاقے زمیندارات او سپین ږیری ئے رااوبلل۔ او د دے سړک د حفاظت ذمه واری ئے پرِ واچوله۔ وے دوی په اتفاق د دے کار د پارہ د ملک اکو نوم پیش کړو۔ چنانچه اکبر بادشاہ ملک اکو تہ د شاهی سړک د حفاظت کار اوسپارلو او د دے خدمت په بدل کښے د بادشاہ د لوری نه د خیرآباد نه تر نوښارہ او د پیبو نه تر موسئ درے پورے علاقہ په جاګیر کښے ورکړے شوہ۔ ځلوزی او سپین خاک هم د دۀ په جاګیر کښے شامل شول۔ د دے جاګیر نه علاوہ په شاهی سړک د محصول وصولولو حق هم ورکړے شو۔ او د دے وخت نه د ملک اکو په کورنۍ کښے ریاست قائم شو۔

ملک اکو یو هوښیار او مدبر سړے وو۔ هغه د شاهی سړک د حفاظت په غرض خپل سړی مقرر کړل۔ او د لنډی سیند په سویلی غاړہ ئے مصری بانډے نه ښاغ یو کلے آباد کړو۔ چه تر اوسه د دۀ په نوم په سرائے اکوړہ مشهور دے



او هغه وخت به ورله ملک پور هم ویلے شول۔

ملک اکو د پیر سباق په مقام د بولاقو سرہ په یو جنګ کښے اووژلے شو د ملک اکو اته ځامن وو۔ (۱) یحیٰ خان (هودے میری خیله تاروکه نومیده) (۲) نظام خان (هودے بولاقہ نندرکه نومیدہ)۔ (۳) یوسف خان (هودے غوریه خیله نوم ئے درانه وو)۔ (۴) تاتار خان۔ (۵) خضر خان۔ (۶) عبدالغفور۔ (د دے وارہ د یو هودنه وو)۔ (۷) طاوس خان (د هود نوم ئے بائی او خینئ وہ)۔ (۸) مصری خان (هودے ځلو زئ وہ)۔ د پلار نه پس یحیٰ خان دختکو د ریاست واکدار شو۔ د یحیٰ خان په وخت کښے د ختکو او یوسفزو تر منځه دشمنی پیدا شوہ۔ او د دوی تر منځه د جګړو یو سلسله شروع شوہ۔

د یحیٰ خان یوولس ځامن وو۔ شهباز خان، بهادر خان، عالم خان، شریف خان، جلال خان، محمد خان، بشادی خان، حکیم خان، عبدالله خان، آدم خان او فیروز خان۔ د پلار نه پس شهباز خان دختکو رئیس شو۔ شهباز خان په ۱۰۰۰ھ کښے زیګیدلے وو۔ د زیګیدنے تاریخ ئے خوشحال خان په دے ډول ویلے دے ۔۔

شهباز خان د یحیٰ خان ښکلے فرزند … وو په جنګ کښے د رستم هسے څرګند

چه تاریخ د زیګیدو مِ د دۀ اوغوبنت … عقل وے چه شهباز خان اجل بلند (۱۰۰۰ھ)

د شهباز خان په وخت کښے د ختکو او یوسفزو مخالفت نور هم زیات شو۔ نو هورے د یوسفزو سرہ په یو جنګ کښے سخت ژوبل شو او په کال ۱۰۵۰ھ ۱۶۴۰ء کښے وفات شو۔

د شهباز خان نه پس د هغهٔ مشر ځوی خوشحال خان د ختکو سردار شو۔ خوشحال خان په کال ۱۰۲۲ھ کښے زیګیدلے وو۔ د (۲۸) کالو په عمر کښے د ختکو د سردارۍ په منصب اوټاکلے شو۔ او د شاہ جهان د لوری نه هم د یو شاهی فرمان په ذریعه خاندانی جاګیر او منصب ورکړے شو۔ د اورنګ زیب په وخت کښے د خوشحال خان او مغل حکومت تعلقات ویر خراب شول۔ د دے واقعاتو تفصیل وړاندے تیر شوے دے۔

خوشحال خان په خپله ژوند کښې د تمام مشرئ خپل مشر ځوی اشرف خان ته اوسپارله. ولې اشرف خان هم د مغل حکومت مرسته او اعتماد حاصل نه کړې شو. او په سنه ۱۰۹۲ھ کښې د سید حجولا شاه حاکم پېښور په لاس گرفتار او هند ته بندیوان اولیږلې شو. او په بیجا پور کښې قید شو. او هم په دے قید کښې وفات شو.

د اشرف خان د گرفتارئ نه پس په خټکو کښې بے اتفاقي پیدا شوه. ځنې خلق په بهرام خان پسې وو او ځنې په افضل خان پسې چه د اشرف خان ځوی وو. او له دے کبله په خټکو کښې په خپل منځ کښې جگړه شروع شول. ولې د بهرام خان د وفات نه پس افضل خان د ټول قام مشر شو. نو موړے د محمد شاه مغل په عهد کښې وفات شو. د افضل خان اته ځامن وو. چه دوه پکښې قابل ذکر دی. محمد علی خان او سعد الله خان چه په شهید خان هم مشهور دے. محمد علی خان به په اکوړې کښې اوسیدلو. او سعد الله خان به په ټیرئ کښې. د پلار د وفات نه پس د دواړو ورونړو په منځ کښې بے اتفاقي پیدا شوه. محمد علی خان په ټیرئ حمله اوکړه ولے د سعد الله خان د لاسه ئے ټیښته اوکړه. او د دے په نتیجه کښې د اکوړې نه هم بے دخله شو.

د سعد الله خان هم اته ځامن وو. چه په هغوی کښې سعادت مند خان او خوشحال خان مشهور دی. سعادت مند خان به د پلار سره په اکوړې کښې اوسیدلو او خوشحال خان به د پلار د لورئ نه په ټیرئ کښې حاکم وو. د نادر شاه ایرانی نه پس چه هرکله د افغانستان حکومت پښتنو ته په لاس ورغلو او احمد شاه ابدالی د پښتنو بادشاه شو. دغه وخت د ټول خټک لوئے خان سعد الله خان وو. چه د کډئ ځائے ئے اکوړے وو.

په کومو ورځو کښې چه احمد شاه ابدالی په پنجاب باندے حملے کولو په غرض پېښور ته راغلے وو. نو د سعد الله خان مشر ځوی سعادتمند خان د خټکو د یو لوئے ښکر سره د هغه په خدمت کښې حاضر شو. او د هغه په فوځونو کښې شامل شو. په دے اثنا کښې د محمد علی خان ځوی لشکر خان چه په نوښار کښې به اوسیدلو چه میدان خالی



اولید نو په اکوړې ئے حمله اوکړه. په دے کوړنی جنگ کښې سعد الله خان اووژلے شو. هرکله چه خوشحال خان په ټیرئ کښې د دے واقعاتو نه خبر شو. نو د ټیرئ نه د اکوړې په لور رادروان شو. په لشکر خان کښې د هغه د مقابلے توان نه وو. نو د خپل آل وعیال سره بونیر ته اوتښتیدلو. آل وعیال ئے په بونیر کښې پریښود، او پخپله پنجاب ته لاړ. او د نواب معین الملک (میر منو خان) سره نوکر شو.

خوشحال خان چه د دے واقعاتو نه خبر شو. نو دا ټول حالات ئے د احمد شاه ابدالي په خدمت کښې اولیکل. او د لشکر خان د گرفتارئ خواست ئے اوکړو. د دے درخواست په بنا احمد شاه هغه گرفتار کړو. او بندیوان ئے خوشحال خان ته اولیږلو. او هغهٔ د پلار په قصاص کښې قتل کړو.

څهٔ موده پس مرهټیانو په پنجاب حمله اوکړه. احمد شاه ابدالي بیا د دوی مقابلے ته رادروان شو. او پېښور ته راغے. او د مرهټیانو د مقابلے په غرض ئے د هراول فوځ سره خوشحال خان حاکم ټیرئ هم اولیږلو. د مرهټیانو او خوشحال خان مقابله د حسن ابدال په خواو شا کښې اوشوه. په دے جنگ کښې خوشحال خان اووژلے شو. د دے واقعاتو په خبریدو احمد شاه ابدالي په ډیرے تندئ د مرهټیانو د مقابلے په غرض فوځي امداد اولیږلو. داخل په دے فوځونو کښې سعادت مند خان هم وو. په دے موقع سعادت مند خان ډیره مړانه ښکاره کړې وه. نو احمد شاه هغه د جهلم پورے علاقے حاکم مقرر کړو. په کومو ورځو کښې چه احمد شاه د مرهټیانو سره د یو فیصله کن محرکے په غرض هند ته راغے. نو د هغهٔ په فوځونو کښې سعادت مند خان هم د خپله قبیلے د یو لوئے ښکر سره شامل وو. او د پانی پت په میدان کښې ئے ډیره بهادری څرگنده کړې وه. او د دے په انعام کښې ورله احمد شاه د سردارئ خطاب ورکړے وو.

د احمد شاه نه پس د تیمور شاه په زمانه کښې هم سعادت مند خان سعادت مند وو. تیمور شاه دهٔ له د سرفراز خان خطاب ورکړے وو. او دے د خټکو په خانانو کښې آخری خان وو. چه د خټکو په ټوله علاقه ئے حکومت کړے دے. د سعادت مند خان د وفات نه پس د خټکو خانی دوه ځایه شوه. د سویلی خټکو خانانو

به په ټیرۍ کښے اوسیدل۔ او د قطبی خټکو خانان به په اکوړې کښے۔

د سوېلي خټکو خانان:- د سعادت مند خان نه پس شهباز خان په ټیرۍ کښے حاکم شو۔

د شهباز خان شل ځامن وو۔ چه په هغوی کښے منصور خان د پلار جانشین شو۔ د منصور خان نه پس د هغهٔ وراره ناصر خان د خانۍ په گدۍ کښیناست د ناصر خان دوه ځامن وو۔ ارسلا خان او خوشحال خان۔ په ناصر خان پسے ارسلا خان مشر شو۔ دغه وخت په افغانستان کښے د شاه محمود سدوزی حکومت وو۔

د شاه محمود د معزولۍ نه پس هرکله چه د افغانستان تخت د سدوزو نه بارکزو ته منتقل شو۔ او په افغانستان کښے امیر دوست محمد خان او د پېښور په علاقه د هغهٔ ورونړه حاکمان وو۔ په دے موده کښے د خټکو خانانو هم چیر بدل نا بدل شول۔ په دے ورځو کښے په صوبه سرحد باندے د سیکانو حملے هم شروع شوے وے۔ ځکه دے کبله به د خټکو خانان کله د سیکانو ملګری وو او کله د سردار خیلو۔ تر دے چه په ۱۸۴۹ء کښے د سیکانو ریاست سقوط اوموند۔ او د پښتو په علاقه هم د انګریزانو اقتدار قائم شو۔

د ۱۸۵۷ء د هنګامے په وخت کښے خواجه محمد خان د ټیرۍ نواب وو۔ هغه د انګریزانو مرسته اوکړه۔ او د دے خدمت په بدل کښے د ټیرۍ ریاست د دهٔ په کورنۍ کښے په ذوړ دستور نسل په نسل بحال او منلے شو۔ او دا علاقه د دوی د جاګیرے په شان د دهٔ کورنۍ په قبضه کښے وه۔ د پاکستان د قیام نه پس هرکله چه په دے صوبه کښے جاګیرونه منسوخ شول نو دا جاګیر هم ختم شو۔

د قطبی خټکو خانان:- د سردار سرفراز خان (سعادت مند خان) نه پس د هغهٔ یو ځوی آصف خان په اکوړې کښے حاکم وو۔ د هغهٔ نه پس د هغهٔ وراره فیروز خان او د هغهٔ نه پس عباس خان چه د فیروز خان ځوی وو۔ د قطبی علاقے د خټکو نواب وو۔ دغه وخت د رنجیت سنګه زمانه وه۔ رنجیت سنګه د دے خان سره خوشګوار تعلقات قائم کړل۔ او دواړو د دوستۍ او ورورولۍ د پوخ والي په



غرض په خپله منځ کښے د یو بل سره پګړۍ هم بدل کړه۔ د رنجیت سنګه به دا لویه د هر هغه با اقتداره پښتون سره کوله چه د چا نه به ئے څهٔ غرض مدنظر وو) وے د دوی دا دوستی د پېښور سردارانو د خپل ځان د پاره خطرناکه اوګڼله او په زړهٔ کښے د عباس خان نه ویره پیدا شوه۔ او په هغهٔ ئے یو چل اوکړو۔ عالم خان نومے یو اوډک ذے ملک او یو څو نور سپین ږیری او ملکان ئے عباس خان ته په جرګه اولیږل۔ او هغه ئے د میلمستیا په چول پېښور ته راوبللو۔ وے د میلمستیا په ځائے په پېښور کښے قید کړو۔ او څو ورځے پس ئے په زهرو مړ کړو۔ د دے نه څهٔ لږه موده وړاندے د عباس خان یو ورور خواص خان سیکانو په لاهور کښے قید کړے وو۔ خواص خان د رنجیت سنګه د ناجوړتیا په حال کولو کښے د څو نورو قیدیانو سره د جیل خانے نه اوتښتیدو۔ او خپلے علاقے ته راغے۔

په دغه ورځو کښے د قطبی خټکو لوئے خان نجف خان وو۔ خواص خان د قید نه پس "خورے" ته راغے۔ وے دلته کښے د محمد افضل خان د لاسه چه د نجف خان ځوی وو۔ اووژلے شو۔ د نجف خان او پېښور د سردارانو تر منځ د بنځو خبرې وے۔ په دے وجه نجف خان د خټکو په علاقه څهٔ موده حکمران پاتے شو۔ دهٔ به سردار سلطان محمد خان ته د خپلے علاقے د خراج په چول د کال دولس زره روپئ ورکوے۔ په کومه موده کښے چه د سیکانو جرنیل هری سنګه پېښور فتح کړو نو نجف خان "نیلاب" ته اوتښتیدو۔ سیکانو د جهانګیری په مقام یوه قلا جوړه کړه۔ او د خټکو میدانی علاقے ته ئے په خپله قبضه کښے اوساتله۔ او غرنیزه علاقه ئے د خټکو خانانو ته په دے شرط پریښوه چه د اټک او پېښور تر منځ لار به د سیکانو د تګ راتګ د پاره ازاده ساتی۔ نجف خان څهٔ موده حکمران وو۔ وے هغه هم د عباس خان د ځوی د لاسه اووژلے شو۔ د پلار په ځائے محمد افضل خان د خټکو خان شو۔ وے د سیکانو د ګورنر ابو طبیله (او یتیبائل) د ګورنرۍ په زمانه کښے د دے خټکو په جاګیر کښے هم څو ځله تغیر راغے۔ د ۱۸۵۷ء په هنګامے د خانانو هم د انګریزانو مرسته اوکړه او د دے په بدل کښے د دوی جاګیر بحال پاتے شو۔

۸ - کرلانړی قبائل - زدران (جدران):- د شجرے مطابق زدران یا جدران هم د کرلانړی طبقے یوه طائفه ده - دا خلق ډیر سخت جفاکش او محنتیان دی - د دوی علاقه دخوست نه په قبله او د زُرمت نه غرخاته په سویل ده - د دوی د کرکیلے زمکه زیاته ده - د دوی په علاقه کښے انار او بادام زیات پیدا کیږی - د دوی نه په غرخاته خوست وال، په قبله گردیزیان، سویل ته غلجی قبائل او قطب غرخاته ته منگل او خُه توری پراته دی - د غلجیو او منگلو سره د دوی اکثر بدی وی -

۹ - اتمان خیل :- د شجرو مطابق دا طائفه هم په کرلانړی طبقه کښے شامله ده ولے د روایاتو مطابق دوی د خاښی خیلو (یوسف زی، مندړ) په وفاق کښے شامل شوی دی - او د خاښی خیلو د مهاجرت په ورځو کښے د هغوی سره دے خپله موجوده علاقے ته راغلی دی - د دله زاکو او یوسف زو په جنګونو کښے دوی د یوسف زو په مرسته کښے جنګیدلی وو - د روایاتو مطابق دوی په اوله کښے په وادئ گومل او ټانک کښے اوسیدل - او بیائے د دے ځائے نه مهاجرت اوکړه - او د یوسف زو په ملګرتیا کښے وادئ پیښور ته رابښکته شول - د دے ځای نه بیا نېراه ته لاړل - ولے هلته هم ټیکاؤ نه شول - او ارنګ برهنگ ته راغلل - او تراوسه پورے په دے علاقه کښے استوگن دی - د دوی قطب ته پنجکوړه، قبلے او قطب ته ئے باجوړ او د مهمندو غرونه - غرخاته ته ئے سوات او سویل ته ئے هشتنغر دے د کوندے زمکه ئے کمه ده - صرف د غرونو په لمنو کښے د کرکیلے کار کیږی - د دوی په غرونو کښے میږے ډیر کیږی - د دے قبیلے ځنے تپے لکه بائیزی، اسمٰعیل خیل دعوت خیل او سه صده د مردان په علاقه کښے اباد دی - خرکے، میان خان سنګاؤ او کوه برمول د دوی مشهور کلی دی -

۱۰ - خوګیانړی:- دا قبیله هم په کرلانړی کښے داخله ده - د شجرے مطابق د دوی مشهور خیلونه دا دی - شیرزاد، پړیه، خدرخیل، بارک، درمان (عبدالرحمٰن) بوبوخیل، لقمان خیل، شادی خیل - دا خلق د ننګرهار د علاقے نه قبلے ته او د سپین غر په قطب قبله استوگنه لری - په دوی کښے د شیرزاد تپه



په شمیر کښے زیاته ده - ویلے شی چه د شاه جهان (مغل) د جلوس په اول کال د دے طائفے د بارک په څانګ کښے د لقمان خیلو او شادی خیلو تر مینځه د شمنی پیدا شوه - لقمان خیلو د خدرخیلو په کومک شادی خیل ډیر بد بد اووهل - شادی خیلو د غلجیانو نه کومک اوغوښتلو - او غلجیان د شادی خیلو په مرسته اودرېدل - او د کابل صوبه دار هم د دوی مرسته اوکړه - په دے جنګونو کښے د بارک اولاد ته ډیر زیان اورسیده - او د دے نتیجه دا شوه چه شیرزاد او خدرخیل دواړه تپے په بادشاهی اطاعت مجبورے شوے -

د خوګیانړو په علاقه کښے انګور، انار، توتان او انځیران ډیر پیدا کیږی - دا خلق اکثر زمینداری کوی - او ځنے مالونه هم ساتی - د خپل وطن نه بهر ته کم اوځی ډیر تنګړه، زورور او جنګیالے قام دے - د دوی ځنے زیلے په خوست کښے هم اباد دی -

پړیه:- د خوګیانړو یو څانګ ده - ولے د ډیرے مودے نه د دوی نه بیله شوی ده - او ځان له په خپله نامه مشهوره ده - د دوی مشهور خیلونه دا دی - میان خیل، بسی خیل، سردار خیل، محمود خیل، تریزی، ملیزی، اشی زی، ډوډ خیل، پوچی خیل -

ویلے شی چه په اوله کښے ټول خوګیانړی په خوست کښے استوگن وو - ولے د جهانګیر په زمانه کښے د "زُرمت" په علاقه کښے اوسیدونکو ځنے غلجیو قبائلو په دوی حمله اوکړه - او دوی ئے د خپلے علاقے نه بے دخله کړل - د شاه جهان په زمانه کښے په دوی کښے کورنی جنګونه شروع شول - او په هغے کښے دوی ډیر کمزوری شول - د دے قبیلے پړیه څانګ په خوست کښے استوګنه ده - د دوی اکثر خلق زمینداری کوی - او ځنے ځنے پکښے سوداګران هم دی -

درمان:- د شجرے مطابق دوی د خوګیانړو زیل ده - د دوی شپږ څانګے دی - چه تفصیل ئے دا سے دے - حاجی خان خیل، سوری خیل، احمد خیل، حودی خیل، ګنډی، مګس - دا شپږ واړه څانګے په مجموعی هم مشهورے دی - په خوست کښے استوگن دی او د کرکیلے کار کوی -

۱۱ - ن‍ازی:- دوی هم په کرلاڼړی طبقه کښې داخل دی - په شجراتو کښې د خوګیاڼړو سره شامل ګڼلی شوی دی - دا خلق د "توریانو" نه قطب قبلې ته پیواړ کوتل نه پورته د "اریوب" په زمکه اباد دی - په دودونو، دستورونو، خوراک څښاک او جامه کښې د "توریانو" په شان دی - ولې په عقیده کښې بیخي د هغوی نه برعکس دی - دوی ټول سني مذهب دی - دغه وجه ده چه د دوی او توریانو ترمنځ اکثر جنګونه وی -

۱۲ - توری:- دوی ته توری زی هم وئیلے شی - د وادیٔ کرم یو مشهوره قبیله ده - د پښتنو د روایاتو مطابق دا قبیله هم په کرلاڼړی طبقه کښې شامله ده او په شجراتو کښې د خوګیاڼړو یوه څانګه او د ن‍ازیانو ترورات ګڼلے شی - دا قبیله بابر هم د ۱۵۰۵ء د واقعاتو په لړکښې ذکر کړی ده - د دے قبیلے د اصل په باب کښې د مؤرخینو ترمنځ اختلاف دے - څه دوی نسلاً مغل ګڼړی او څه ئے هندیان - ولې دا قیاسات درست نه معلومیږی - د خوشحال خان خټک د وینا مطابق دوی نسلاً کرلاڼړی پښتانه دی - او دا وینا درسته ده - دا قبیله د خوست نه په قطب او د سپین غر نه په سویل د کرمے سیند په دواړو غاړو اباده ده - دا علاقه په ابتدا کښې د بنګښو په قبضه کښې وه - ولے د یو ناموس دارئ په معامله کښې توریانو د ن‍ازیانو په کومک بنګښ د دے علاقے نه اوویستل -

توری قبیله په پنځو څانګو کښې ویش ده - حمزه خیل، مستو خیل، دپر زی، علی خیل او غونړی خیل - د دوی علاقه ډیره زرخیزه او اباده ده - دا خلق د عقیدے په لحاظ شیعه مذهب دی - او د مذهبی احکامو په پابندئ کښې ډیر کلک دی - د مانځه روژے ډیر پابند دی - د خپل قبیلوی دستور مطابق د سیدانو ډیر احترام کوی - هر یو فرد د سیدانو مرید وی - دوی په څلورو ډلو کښې ویش دی - یوه ډله په میاں مرید مشهوره ده - او باقی درے واړه ډلو ته دربوندی وائی - دا خلق د میلمه ډیر قدر کوی - زړور او توریزن خلق دے د توریانو په علاقه کښې د "بدرګے" نه بغیر تلل ډیر ګران وی - ولے د بدرګے په صورت کښې مسافر ته هیڅ خطره نه وی۔



دا خلق څه مخصوص رسمونه هم لری - د دوی په خیال کښې ټول خلق صرف دوه قسمه دی - یو ربښتونی او په نیغه لار تلونکی او بل په کږے لار رواں - هو خپل همعقیده او هم مسلک خلق ربښتونی ګڼړی - او نورو ته په غلطه لار روان وائی - د دوی کره چه هلک پیدا شی نو د هغه د سر د پاسه ډزے کوی، غرض ئے دا وی چه د وړه کوالی نه د ټوپک د اواز سره بلد شی - او بیا په ځلمیتوب کښې د ګولیو د باران نه ترهه نه کوی۔

۱۳ - کرلاڼړی قبائل (وزیر):- د روایاتو مطابق د دے طائفه مورث اعلیٰ وزیر نومیده - چه د سلیمان ځوی او د کرلاڼړی ځے وو - د وزیر دوه ځامن وو - د یو نامه خدرے او د بل نامه لالے وه - وئیلے شی چه په اوله کښې دا خلق د "خوست" په غرونو کښې اباد وو - د څوارلسمه صدئ په اخر کښې د قبلے په لور اوغزیدل - او د توچئ په قطب د بنوں او کوهاټ په سرحدی غرونو کښې استوګن شول - او په تلاره تلاره ئے د رود کرم نه تر دره ګومل پورے ډیره علاقه قبضه کړه - او دلته استوګن شول - د دوی د استوګنے په وجه دا علاقه د وزیرستان په نامه مشهوره ده - د وزیرستان رقبه په اووه زره مربع میله وی - په دے علاقه کښې د وزیرو دوه لوئے څانګے احمد زی او اتمان زی اباد دی - دا څانګے بیا په نورو ډیرو وړو وړو ذیلو کښې تقسیم شوی دی -

د شجرے مطابق د خدرے درے ځامن وو - د یو نوم موسیٰ وو چه په "درویش" هم مشهور دے - ځکه چه ډیر پرهیزګار او نیک بنیادم وو - او تر اوسه پورے ټول وزیر ورله د یو ولی په نظر ګوری - د موسیٰ درویش قبر د "برمل" په علاقه کښې د ډیورنډ لائن سره نژدو په پاکستانی علاقه کښې واقع دے د موسیٰ درویش قبر د وزیرو په نظر کښې ډیر اهمیت لری - او په هره سخته کښې د ده قبر ته رجوع کوی -

د روایاتو مطابق د موسیٰ درویش دوه ځامن وو - د یو نوم اتمان وو - اولاد ته ئے اتمان زی وائی - د بل نوم احمد وو - اولاد ته ئے احمد زی وئیلے

شي۔ وسے د دواړو اولاد په "درویش خیل" مشهور دے۔ د حنذری د دریم ځوی نامه محمود وه۔ د هغهٔ یو ځوی وو مسعود نومیده۔ اولاد ئے په مسعود مشهور دے۔ د خذری د دریم ځوی نامه مبارک وه۔ دے هم یو نیک او بزرګ سړے وو۔ د ده روضه هم د وزیرو په نظر کښې ډېرهٔ اهمیت لري۔ د "مبارک" یو ځوی وو۔ چه ګربز یا ګرباز یا دیزي۔ اولاد ئے ګربز وئیلے شي۔

اتمان زي په خپل منځ کښې درے څانګے دي۔ محمود خیل، براهم خیل او ولي خیل۔ دا درے واړه څانګے بیا په نورو ډیرو زیلو کښې تقسیم شوی دي۔ لکه چه د شجرے نه دا خبره څرګنده ده۔ په دے چول احمد زي هم په دوؤ څانګو کښې وئیش دي۔ سین خیل او کالو خیل۔ د سین خیل نه درے بناخه هاتي خیل، سرکی خیل او عمر زي بیل شوی دي۔ او بیا د دوی نه نورے زیلئ بیلے شوی دي۔ د غه شان کالو خیل دوه څانګے دي۔ نصري او سپیرکی۔ د نصري نه دوه بناخه بای خیل او شادی خیل جدا شوی دي۔ او د سپیرکی نه محمد خیل، سدی خیل او سدنړ خیل وتلی دي۔ او بیا د هریو نه نورے نورے زیلئ خورے شوی دي۔

د مسعود دوه ځامن وو۔ یو علی ـــ اولاد ئے علی زي وائی۔ او بل بهلول۔ اولاد ئے بهلول زي وئیلے شي۔ د علی هم دوه ځامن وو۔ یو فتح۔ اولاد ئے فتح خیل او عوام ورته پوتیه خیل وائی۔ او بل "شمن" چه اولاد ئے په شمن زي مشهور دے۔ د دوی اولاد هم په نورو زیلو کښې وئیش دے لکه چه د شجرے نه څرګنده ده۔ بهلول زي په څلورو څانګو کښې وئیش دي۔ هل خیل، باند خیل، نونو خیل او شنکي۔ د هل خیل درے څانګے دي۔ عبدلی، ملکشي او نظر خیل۔ په دے چول باند خیل هم په دوؤ څانګو کښې تقسیم دي۔ ایکم خیل او طوطیه خیل۔ د نونو خیل درے بنځے وے۔ د اول بنځے اولاد ئے هیبت خیل او عمر خیل، د دویمے بنځے اولاد ئے علی خانی، میرخانی او منیوا۔ او د دریمے بنځے اولاد ئے مهرخانی او برقی یا دیری۔ د دے نو لو



څانګو نه نورے نورے زیلے خورے شوی دي۔

د وزیرو مشهورے علاقے دا دي (۱) علاقه شوال۔ په دے علاقه کښې کابل خیل لاجانه خیل او ملکشي اوسي چه د اتمان خیلو زیلے دي۔ (۲) علاقه شاکي۔ دا علاقه د غزونو په منځ کښې یو هواره کمځه ده۔ په دے علاقه کښې ملکشي، میاي، شادیکي او خونا خیل استوګن دي۔ د دوی نه بنکته هاتي خیل، سدنړ خیل او سپیرکی میشته دي۔ او د تیولو نه بنکته د مسعودو په څانګو کښې علي زي او بهلول زي اباد دي۔ (۳) علاقه برمل۔ د وزیرو په علاقه کښې د غزونو د ننه د برمل علاقه د یو وادئ په شکل کښې واقع ده۔ زمکه ئے هواره او د کوکیلے د پاره ډیره غوره ده۔ دا علاقه په څو وړو وړو کمځو کښې وئیش ده۔ په دے کمځو کښې د مرغی په زمکه د کابل خیلو زیلی څانګے سیپلی او توپلی استوګن دي۔ وزیرو د اوړي په موسم کښې د خپل مالونه بیایئ۔ د موسی درویش قبر هم په دے علاقه کښې دے۔

۴۔ رزمک:۔ دا علاقه هم یوه وړه کمځه ده۔ آب و هوائے ډیره خوندناکه ده۔ په دے علاقه کښې توري خیل او محبت خیل چه د اتمان زو څانګے دي استوګنے دي۔

۵۔ درهٔ خیسور:۔ یوه وړه کمځه ده چه د داوړو د علاقے سویل ته واقع ده۔ په دے کمځه کښې پورته ممیت خیل، په منځ کښې توري خیل او د دوی نه بنکته داوړکی اباد دي۔

۶۔ شرنه:۔ د داوړو قبلے ته ده۔ دلته مدا خیل، خدر خیل او داوړکی استوګن دي۔

۷۔ شکتو:۔ دا یو دره ده چه پورته پکښې توري خیل او په منځ کښې مسعود اباد دي۔

۸۔ وانا:۔ د جنوبي وزیرستان مرکز دے۔ د وانا علاقه د وزیرو د ملک د جنوبي حصے نه د ګومل د درے په قطب د هغه اوچتو غرونو نه ګیره ده چه سویلي ځوی یئے د ګومل تر درے رسي۔ دا علاقه په اصل کښې یو کمځه ده چه د

قطب نه به د سویل په لور قریباً پنځلس کروهه اوږده وی. په دے کښې یو خوړ بهیږی چه اخر ته د ګومل سیند سره یو ځائے کیږی. د خوړ په دواړو غاړو ځمکه د کروندے ډیره مړه ده. ولے اکثره باراني ده. او آبې ډیره کمه ده. د وانا علاقه د اوړی په موسم کښې ډیره ګرمه او د ماشو نه ډکه وی. او ګذران پکښې ګران وی. د وانا په منځ کښې دوتانړی چه د لودیانو بناخ دے اباد دی. او په نوره علاقه کښې د احمد زی ځانګے نه زلی خیل. د وزیرو اکثرے تپے د اوړی په موده کښې خپل مالونه د څرن د پاره دے علاقے ته راولی.

(۹) - علاقه میدد:- دا هم یو کښتې ده - چه اوږدوالے به ئے د کانی ګرم پورے پنځه کروهه او سپلن والے به ئے قریباً یو میل وی. په دے کښې سپیرکی او شکتکی اباد دی. مسعود په دغه خوړ او میدان کښې اوسی. "مکین" د مسودو مشهور کلے دے. د مکین او څو نورو کلو نه علاوه د دے خلقو کلی ډیر واړه واړه او د لس شلو کورونو نه زیات نه وی.

په اوله کښې دا خلق یو ښده او کوچیان وو. ولے اوس پکښې اکثرے تپے ځائی شوی دی. وزیر او مسعود په اصل کښې یو خلق دے. ولے مسعود په خپله نامه ځان له خوشحاله دی. مسعود زیات په کانی ګرم او مکین کښې اباد دی. دوی د وزیرو نه په شمار کښې کم ولے په زړورتیا او شجاعت کښې د وزیرو نه زیات دی. نن ورځ ټول مسعود په دریو غټو ځانګو کښې ویش یاد یږی. یعنې علی زی، بهلول زی او شمن خیل.

د وزیرو مسعودو ژبه د نورو پښتنو په نسبت ډیره ګرانه ده. او نورخلق پرے په ګرانه پوهیږی. دا خلق اکثر نوکری ملازمت کوی. د نورو پښتنو قبائلو په نسبت دا خلق په خپل منځ کښې زیات متحد دی. او په دے وجه په ټولو پښتنو قبائلو کښې زیات اهمیت لری. په دوی کښې ځنے مخصوص رواجونه هم دی. په دے خلقو کښې د هرے انفرادی رائے هم ډیر اهمیت وی. د تاریخ په یو دور کښې هم د دے خلقو په علاقه کوم حکومت قبضه نه ده کړی. انګریزانو هم په خپل دور



اقتدار کښې په دوی خپله تنړئ شوله دے. ولے دا خلق ئے نه دو ایل کړی. د قیام پاکستان نه پس د دوی علاقے ته انتهائی توجه ورکړی شوی ده. په سوونو واړه لوئے سکولونه د دوی په علاقه کښې جاری شوی دی. هسپتالونه پکښې جوړ شوی دی. او نن ورځ په دے خلقو کښې لوئے لوئے تعلیمیافته افراد موندے شی. او هغه ورځ ډیره نزدے راتلونکی ده چه د دے خلقو د ژوند معیار به بدل شی. او کوم تکلیفونه او کړاوونه چه دوی په پردی حکومتونو کښې تیر کړی دو د هغے تلافی به او شی.

ګربز:- د شجرے مطابق ګربز هم د وزیرو یو ښاخ دے. د روایاتو مطابق په اوله کښې دوی هم د وزیرو سره یو ځائے اوسیدل. ولے د دوی او بیټنو ترمنځه د جنګونو یو سلسله شروع شوه. او د هغے په وجه د خپے علاقے نه په وتلو مجبور شول. د دوی علاقه د وزیرو د علاقے قطب طرف ته او د خوست سویل غرخاته ته د دوړو د علاقے سره جوخته د غرونو په منځ کښې ده. دوی د کابل رعیت دے. د دوی غرونه دوه میاشتے په واوره کښې پټ وی. اکثر د کوکیلے کار کوی. او مالونه ساتی.

لالی وزیر:- که چه د شجرے نه معلومیږی لالے د خدری ورور وو. د روایاتو مطابق دوی هم د شوال په غرونو کښې د شیتکو سره میشته وو. ولے دوی د شیتکو یو سرے اووژلو او د شیتکو د دشمنئ د کبله د خپے علاقے نه ووتل او د خوګیانړو علاقے ته لاړل. اوس هم د سپین غرهٔ په خاوشا کښې دا خلق په دے خپله نامه اباد دی.

۱۳ - کرلانړی قبائل - شیتک ( دوړ - بنوڅی - تنړی)

د شیتکو نه مراد دوړ، بنوڅی او تنړی دی.

دوړ:- په کومو ورځو کښې چه بنوڅی (کیوی، سودانی) د کوه شوال نه د بنون علاقے ته راغلل، نو دوړ هم په دغه ورځو کښې د توچی په دواړو غاړو اباد شول. دا معلومه نه ده چه د دوی نه وړاندے دا علاقه غیر اباده وه، او که څوک دلے میشته وو. په سنه ۱۶۹۶ کښې د اورنګ زیب عالمګیر د حکومت په

زمانه کښې د هغه ځوی بهادر شاه چه د بنون علاقه فتح کړه نو دغه وخت ئې په دوه‌ورهم د ولس نذره روپۍ د کال مالیه مقرر کړه او سید حسن نومے یو سړے ئې په دوی حاکم مقرر کړو. وے د اورنګ زیب نه پس دے علاقې بیا خودمختاری حاصله کړه. د احمد شاه ابدالي په زمانه کښې دا خلق هسې په نوم رعیت وو. او ځۀ معمولي رقم به ئې د خراج په ډول ورکولو. وے د بادشاه د لورې نه به په دوی څوک حاکم نه وو. د سدوزو او بارک زو د جګړو په دوران کښې دوی بیا د مالیې نه ځان ازاد کړو. د دوی نه په درسے لورې وزیر پرانه دی او د وزیرو او د دوی سخته ورانه ده. په خپلو کښې اکثر جګړې نه کوی. وے د بیروني دښمن په مقابله کښې بیا خپل اختلافات هیر کړی. عیدک، دره خیل او امزوټی هم په دوړو کښې شامل دی.

۱۴ - تنړی :- د شجرے مطابق دا خلق هم د کرلاڼړی طبقې یو طائفه ده. تنړی قبیله په درے څانګو کښې ویش ده. اریوزی، میری خیل او سینګی. دا خلق د خوست په قبلیزه او سویلی حصه کښې اباد دی. د دوی قبلیځ غر ډیر اباد او د بازدلو د بنکار د پاره مشهور دے. دا خلق زخت توریالی او جنګیالی دی او په دوه کوندو کښې ویش دی. یعنی اریوزی او سینګی یوه کوندی ده او میری خیل بله. په شمیر کښې میری خیل زیات دی. د دوړو په نسبت دا خلق د پښتو نولۍ په ننګ او ضابط کښې ډیر مړنی دی. درګئی، حصارک، کرخه، پرخی او اتمان د دوی په علاقه کښې مشهور کلی دی. ځمکه ئې بارانی او د خلقو پیشه کروندګره ده. د حاکم خوست ماتحت دی. وے اکثر سرکښی کوی.

۱۵ - بنوڅی :- د دوی د مورث اعلے نامه شیتک وه. او د شیتک د مور نوم کګۍ وو. په اوله کښې دا خلق په کوه شوال کښې اوسیدل. اوس هم په دے غره کښې د دے خلقو د بخوانۍ استوګنې مقام په کګۍ میله مشهور دے. د شیتک د بنځې نامه بانو ده. او په دے وجه د دوی اولاد په "بانو زو" مشهور شو. وروستو دغه لفظ په استعمال کښې بنوڅی او بنوچی شو.

د شیتک درے بنځې وے. د یوے بنځې اولاد ئې دوړ او تنړی دے. او د



بلے بنځې اولاد ئې کیوی او سورانی. او د دریمے بنځې ئې دوه ځامن وو. چه جیلم او هوید نومیدل. د دوی اولاد ډیر کم دے. او په کیوی، سورانی کښې شامل دے.

دا اولس په ابتدا کښې د رود توچي په سویل د غره په لمن کښې اوسیدل وے د سلطان شهاب الدین غوری په زمانه کښې شیتکو د بنون په موجوده علاقې باندے حملے شروع کړے. دغه زمانه کښې په دے علاقه کښې "انګل منګل" قام اوسیدلو. د دے حملو په نتیجه کښې د شیتک په اولاد کښې کیوی او سورانی اولس حملے جاری اوساتلے. او دغه شان ئې په تلاده تلاده په ټوله علاقه قبضه اوکړه. انګل قام د هندوستان په لور اوکوچیدلو. او منګل د سپین غر په سویل کښې اباد شول. د دے نه پس شیتکو دا علاقه د خپل پیر په صلاح مشوره په خپل مینځ کښې په دے دستور تقسیم کړه. چه د کیوی مشر ځوی میری اولاد ته ئې سویلی حصه ورکړه. او ککی ته ئې مشرقی حصه. دا علاقه په هغه وخت کښې ډیره اباده وه. او د "سمی" اولاد ته چه د ککی دویم ځوی وو په مینځ کښې برخه ورکړے شوه. او د "سورانی" حصه د قطب په لور تر "متل" پورے اورسیدله. دا علاقه په هغه زمانه کښې خرابه او ځنګل وه. وے اوس په ټوله علاقه کښې بهترینه ګڼړے شی.

۱۶ - ګنډه پور :- د ګنډه پور د مورث اعلے نوم ستورے یا ستوریانے وو چه د میر سید محمد ګیسو دراز ځوی وو. د ستوری یا ستوریانی پنځه ځامن وو. چه نومونه ئې دا دی دی. شیخی، مریری، توے (ګنډه پور) امرا او حمر. په دوی کښې د حمر اولاد د پلار په نامه ستوریانی یادیږی. او د باقی نورو اولاد په ګنډه پور کښې شامل دے.

د ګنډه پور مشهورے تپے دا دی. یعقوب زی، براهم زی، حسین زی، عمران زی، خوبی زی او درے پلاره.

ګنډه پور په اوله کښې بې ننده او کوچیان وو. په ژمی کښې به دامان ته راتلل. او په اوړی کښې به بیا افغانستان ته تلل. د شاه جهان په زمانه کښې د

مروتو او دولت خیلو تر منځه یو جنګ اوشو- چه مروت پکښې غالب او دولت خیل د ټانک نه په وتلو مجبور شول- د دولت خیلو لوئے خان زمان خان د ګنډه پور نه د مرستے خواست اوکړو- او دولت خیلو او ګنډه پوره په شریکه په مروتو حمله اوکړه- او مروت ئے د خپلے علاقے نه اوشړل- د فتح نه پس د خان زمان په خواهش ګنډه پور هم د روهړئ په علاقه کښې استوګن شول- د ګنډه پور د علاقے قطب ته دولت خیل، سویل ته ئے میان خیل، قبلے ته ئے کوه سلیمان او نمر خاته ته ئے ډیره اسماعیل خان دے- د دوی مشهور کلی کلاچی، ټکواړه لونی، مړی، روهړی او کوټ ظفر وغیره دی-

۱۷- بنګش:- (شامل طبقه کرلانړی) :- دا خلق په خالدی افاغنه هم مشهور دی- د روایاتو مطابق د دوی د مورث اعلیٰ نامه اسمٰعیل وه- چه د هغه دوه ځامن وو- "کار" او "سمل"- په ابتدا کښې دا خلق د ذُرمت په علاقه کښې په ګردیز کښې اباد وو- د دے ځائے نه د خپلو کورنو جګړو په نتیجه کښې کمزوری شول دا خلق په خپله منځ کښې په دوو ګوندو "کار" او "سمل" کښې تقسیم دی- و ئیلے شی چه د ذُرمت د علاقے نه دا خلق غلجیانو په شړلو مجبور کړل- او دوی د سپین غر په سویل د کرمے، پیواړ او شلوزان په علاقه قبضه اوکړه- وے د اورکزو او د دوی تر منځه بدی پیدا شوه- بنګښو د خټکو په مرسته اورکزی د کوهاټ د علاقے نه په شړلو مجبور کړل- وے د دوی تر منځه د جنګونو سلسله جاری وه- اخر چه په جنګونو ستړی شول نو صلح ئے اوکړه- چنانچه د قطب په لور غر ئیزه علاقه د اورکزو اورسیده- او میدان او دره چه ئن درځ پکښې هم بنګښی استوګن دی- د بنګښو اورسیده- د بنګښو وادی قبله په نمر خاته اوږده او په غرونو کښې ګیره ده- د دوی مشرقی، غربی او جنوبی پولے د خټکو سره لګیدلی دی- او قطب ته ئے اورک زی دی- د دوی څه مغربی او جنوبه حد د وزیرو سره هم لګیدلے دے- بنګښی یو زړور او توریالے قام دے- هنګو، درسمند، استرزئ، توغ، توره دړئ وغیره د دوی په علاقه کښې مشهور کلی دی- د دے قام څنے خلق د ایران په صوبه ماژندران کښې هم موجود



دی- او د هندوستان په ځنے علاقو کښې خصوصاً په فرخ اباد کښې هم شته- د فرخ اباد نوابات هم د دے قبیلے وو- په پښتنو قبائلو کښې بنګښ یو اهمه قبیله ده- د بنګښو په قبیله کښې د هنګو خانان د خپلو ښو اخلاقو په وجه د ډیرے ستائنے وړ دی-

بابړ:- په اصل کښې د شیرانیانو هم نسل دی- مګر خان د په خپله نامه مشهور دی- دوی د میان خیلو نه سویل ته پراته دی- د دوی د علاقے سویلی حصه سخته او غرنیزه ده- دا خلق د شیرانیانو نه علاوه د نورو لوټو پښتنو قبیلو نه ورستو میدانی علاقے ته راغلی دی- او په چودهوان کښې اباد شوی دی- دا خلق د تجارت په وجه په ټولو دامانی قبائلو کښې دولت مندوی د بابړو یوه لویه حصه د کوه سلیمان نه په هغه لوری په صحرا کښې اباده ده- او پولے ئے د شیرانیانو سره لګیدلی ده- بابړ په دود دستور کښې د شیرانیانو په شان دی- په مغربی افغانستان کښې هم بابړ شته- مګر په مغربی او مشرقی بابړو کښې سوا د هم قومی نه نور هیڅ څیز مشترک نشته